# خلاصه د سورتونو

روابط، امتیازات، مقاصد، تقسیم

او نور ګنړ معلومات د سورتونو

سورة الفاتحه - سورة ق

Ketabton.com

مدرس: مولانا خلیل الرحمان صاحب مدظله

طالب: محمد ایوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورۃِ فاتحه

(۱) **مکی سورة دے** په ترتیب دقران کے په اول نمبر او په نزول کے ۵ نمبر یس دسورة مدثر نه دے: علق-قلم-مزمل-مدثر-فاتحه، دمکی او مدنی سورتو تخصیص زکه کولے شی چه بعضے الفاظ لکه صلوٰة، جهاد، یا زکوٰة په
مکی سورتونو کے لغوی معنی سره راذی او مدنی سورتونو کے په اصطلاحی معنے سره راذی بل داچه د مکی سورتونو کے خطاب زیات تر مشرکانو او امیان نه وی او مدنی سورتونو کے خطاب همیشه اهل کتابو او عالمانو نه وی
مکی سورتونه هغه دی چه هجرت نه مخکے نازل شوے دی اگر چه په طائف یا بل مقام کے واله نه وی او مدنی هغه دی چه هجرت نه بعد نازل دی اگر چه د خیبر په موقع یا فتح مکه نه پس دلے نه وی۔ 86+28=124

(۲) **نومونه دسورة فاتحه:** دفاتحے گنړ نومونه دی قانون دادے چه کثرة الاسماء تدل علی کثرة الصفاء لکه یو سړے چه قاری هم دے عالم هم، حافظ او مفتی هم دے دا گنړ القابات ددے سړی په گنړ وصفاتو
دلالت کوی دغه شان دفاتحے هم گنړ نومونه دی او دا نومونه چا دزان نه نه دی جوړ کړے۔ بلکه دا ټول نقل دی د نبی ﷺ نه:

(۱) فاتحه: افتتاح نه دے پرانستونکے: دے سورة سره افتتاح دقران اشوه... (۲) اساس القران: بنیاد دقران یا خلاصه دقران: دتمام اسمانی کتابونو او دقران خلاصه هم په دے سورة کے ده
(۳) سورة صلوٰة: حدیث دے: لاصلوٰة لمن لم یقراء بفاتحة الکتٰب په جمع کے امام او په زنانه مونز کے مونز گزار به خاتحه وائی ورنه مونز نه کیګی نور سورتونه دمخلوق په خوخه او دا سورة دخالق په خوخه دے
(۴) سورة حمد: په شروع ددے سورة کے حمد ونه دی (۵) سورة الشافیه: دا سورة روحانی بیمارو د پاره شفا ده که چرے معنے مطلب سره پورا یاد کړے شی او عمل پرے او کړے شی
(۶) کافیه: چا چه دا سورة زده کړو معنے او مطلب سره اوعمل ئے پرے او کړو نو د جهنم نه خلاصی د پاره به کافی شی ده لره (۷) وافیه: مکمل دمضمون لحاظ سره: درجه په درجه د یکے ټول بیانات دی
(۸) رقیه: دم والا سورة: لکه څنګه چه ابوسعید الخدریؓ حپلو ملګرو سره جهاد ته تلے وو په لاره کے دیو قوم مشر چه مار یا لړم خوړلے وو....۱۰۰ اکډے ترے واخستے ...بعضے خلق ددے نه په دم پیسے اخستلو استدلال
کوی مګر دا غلط دی هغه خو مال غنیمت وو ستادا شه دی۔
(۹) کنز: خزانه دعلومو: شیخ القران صاحب به فرمایل چه که چرے ماته الله شپګ ۶ کاله عمر را کړی او زه مسلسل هم دا فاتحه بیانوم نوز ما عمر
به ختم شی مګر ددے فاتحے علوم به ختم نشی
(۱۰) تعلیم المسئله: دسوال کولو چل یا علم: ژومبے تعریفونه دالله، بیا حپله عاجزی، بیا سوال کول بل دا چه څنګه غوښتل پکار دی هدایت او په دے ثابت قدمی او څنګه به غواړے احادیثو کے راذی چه بهترینه دعا
دیونس وه (لا اله الا انت سبحٰنک ...) زکه چه د دعا درے شرائط دوا وهغه درے واړه د دے دعا کے وو (۱) چه د چانه غواړے هغه به بخل نه پاک ګنړے
(۲) چه څه غواړے نو ددغے څیز به هغه مالک ګنړے (۳) حپل زان به عاجزه ګنړے۔
(۱۱) ام القران: اُم اصل یا مورته وائی څنګه چه مور اصل د بچی وی دغسے سورة فاتحه اصل دټول قران ده
(۱۲) ام الکتاب: دټولو اسمانی کتابو اصل یا خلاصه هم دے فاتحه کے ده
(۱۳) سبع مثانی: اووه ایتونه چه بار بار ویلے کیګی مانزه کے

(۳) **وجه دتقدیم:** هسے خو مونګ علماء ددے لس وجوهات خائی مګر هغه زیات تر علمی دی دلته صرف دوه وجوهات وایو:
(۱) ټول قران په دوه قسمه ایتونو مشتمل دے یو علمی بل عملی علمی دعلم او عقیدے سره تعلق لری لکه توحید او رسالت یا ایمان بالآخره وغیره او عملی صرف عمل سره تعلق لری لکه قیام الصلوٰة یا حج وغیره نو
په دے فاتحه کے دا دواړه قسمه موجود دی ژومبی درے ایتونه علمی دی چه عقیدے سره ئے تعلق دے او بل ثلورم ایت ایاک نعبد... تعلق عمل سره دے
(۲) په اعتبار دفهم قران ۴ حصے دے (۱) الخالق لکل...(۲) المربی...(۳) المبارک فی...(۴) ایمان... نو فاتحه الحمدلله کے خالق ته اشاره ده رب العالمین کے ددویمے حصے خلاصه ده په الرحمٰن کے
دریمے حصے المبارک. خلاصه ده او په مالک یوم الدین کے دآخرئ حصے خلاصه ده نو فاتحه خلاصه دقران ده او قانون دادے چه خلاصه مقدم وی په تفصیل او تفسیر
حضرت مولانا شبیر احمد عثمانیؒ دفاتحے دتقدیم وجه دا خائی چه قران کے ۶ خبرے دی، توحید+رسالت+احکامات+قیامت+حال دمنونکو+حال دنه منونکو نو فاتحه کے دا شپګ واړه شته پوهه
عالمان چه خطاب کوی نو ړومبے خلاصه مخکے کړی او بیا پرے مفصل بیان او کړی

(۴) **مقصد دسورة** یا دعوه یا محور یا زبده (نچوړ) دسورة چه ټول سورة دهغے نه تاویګی هغه دے (۱) ایاک نعبد وایاک نستعین (۲) مقاصد اربعه عالیه۔ قران پاک 8 مسئلے بیانوی چه 4 یکے مهمات او
4 یکے مدات دی مهماتو ته مقاصد اربعه عالیه هم وائی چه هغه دادی (۱) اثبات دتوحید (۲) رسالت ....مهمات دادی..... نو فاتحه دغه ژومبی ثلور بیانوی دا ثلور مقاصد دفاتحے دهرایت او لفظ نه دا سے
ثابت دی چه الحمدلله نه تر ایاک نستعین پورے توحید خو په ډاګه دے مګر اهد نا الصراط...ضالین پورے څنګه ثابت دے دا سے چه مونګ دا سوال دهغے ذات نه دا سے کوو چه ددے کار متصرف صرف الله دے
اثبات د رسالت ترے دا سے ثابت دے چه دا علمی او عملی مسئلے مونګ ته چا بیان کړے یا راوړے دا رسول۔ څه کے درته بیان کړے قران کے۔ دے نه صداقت الکتاب مسئله واضح شوه
دغسے صداقت الکتاب هم واخله چه داصفات دالله یا صفات دبنده چه ایاک نعبد وغیره کے دی مونګ ته رسول څنګه رارسولے ده دائے په قران کے بیان کړے ده الله رحمٰن او رحیم دے او قران هم د
الله رحم دے یونس ۵۸ قل بفضل الله وبرحمته.... هم دغسے مسئله دایمان بالآخره هم واخله چه داحمد ونه دالله څه د پاره وائے او داعبادت دالله څه د پاره کوے دے د پاره چه په قیامت کے مے پکار راشی بل دالله
رب یعنی تربیت دبدن او دروح کوینکے دے نو دروح تربیت په قران سره کوی دے د پاره چه دا روح مے قیامت کے بچ شی دعذابه۔ په مالکِ یوم الدین سره اثبات دقیامت براه راست نو مختصر دا چه دفاتحے
هرایت یا هر لفظ نه دا ثلور مقصدی خبرے واضح دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۵) تقسیم دسورۃ:** ھسے خو دے سورۃ فاتحے تقسیم په 8 او 15 حصو پورے شوے دے، مگر دلته مونګ صرف په درے حصو کے کوو۔ نو سورۃ تقسیم دے په اعتبار د مضامینو سره په درے حصو کے:

(۱) ړومبی درے ایتونه (الحمد للہ تر مالکِ یوم الدین) مشتمل دی په اسماء حسنیٰ د الله چه یو اسم (الله) اسمِ ذاتی او باقی ټول صفاتی دی۔ په الحمد لله سره رد په تمامو مشرکانو کیګی په رب العالمین سره رد په تمامو مجوسیانو او صائبینو کیګی په الرحمن الرحیم سره هم رد په مشرکانو کیګی چه د برکت ذمه دار بل څوک ګڼړی به مالک یوم الدین سره ردد ے په هغه مشرکانو چه بل لره د شفاعت ذمه دار ګڼړی نو دا ړومبے حصه **مختص ده حقوق الله لره**

(۲) آیت ۴ چه **حقوق الله او حقوق العباد** یکے **مشترک** بیانیګی په ایاک نعبد کے د الله حق دا دو چه عبادت خاص کړے شی الله لره او د بنده حق دا دے چه دے عبادا وکړی او د غسے په ایاک نستعین کے هم۔

(۳) آیت ۵ نه تر آخر پورے۔ د یکے خالصۃً د بنده **حقوق** دی چه یکے د دریو ډولو بیان دے اجمالاً۔ کله چه بنده وائی چه اهد نا الصراط المستقیم نو حدیث قدسی دے چه الله فرمائی چه ھذا لعبدی ولعبدی ما سأل د بنده حق دے۔ نو سورۃ فاتحه کے ردد ے په ټولو روفرقو (۱) دھریه: د دوی دا دعوه ده چه الله نشته دا هر شه حادثاتی طور پیدا دی او حادثاتی طور به فنا شی نو الحمد لله سره پدے دھریه باندے رد او شو چه الله خالق د دے هر شه دے۔ (۲) **مجوسیان او صائبین** (آتش پرست او نمر پرست) په رب العالمین سره (۳) ردد ے په **مشرکانو** چه د زیارتو نو او بتانو عبادت کوی په رب او رحمن سره (۴) هغه **فلاسفران** چه د مخلوق د بل د پیدائش او فناه کولو سبب ګڼړی شه ته چه cause &effect relationship وئیلے کیګی۔

**تفسیر کبیر د فاتحے** متعلق لیکی چه چه فاتحه کے ۵ خبرے د الله او ۵ د مخلوق سره متعلق دی: د الله سره متعلق ۵ خبرے (۱) الوهیت (۲) ربوبیت (۳) رحمانیت (۴) رحیمیت (۵) مالکیت۔
د بنده متعلق (۱) عبادات (۲) استعانت (۳) طلب د هدایت (۴) طلب د استقامت (۵) طلب د نعمت نو روستے ۵ د ړمبو ۵ سره د اسے ترتیب وار تړی چه مونګ ستا بندګی ز که کوو چه ته الله او اله یے۔ مونګ ستا نه استعانت یا مدد ز که غواړو چه ته رب یے۔ او ستا نه هدایت ز که غواړو چه ته رحمن یے۔ او ستا نه استقامت ز که غواړو چه ته رحیم یے خاص رحم ستا په خاص خلقو دی۔ او ستا نه د نعمت سوال ز که کوو چه ته مالک د سزا او جزا یے۔

**(۶) امتیازات دسورۃ فاتحے:** (۱) سورۃ ممتاز دے په اجمالی خلاصے د قران۔ قران ټول رحصے دے د ټولو مقاصدو لحاظ سره۔ اثبات د توحید۔ رسالت۔ صداقت الکتاب۔ ایمان بالآخره۔ نو فاتحه د دے ټولو واړو حصو خلاصه پیش کوی اجمالاً او مختصراً (۲) سورۃ ممتاز دے په بیان د تمام اسمانی علومو کوم چه په کتب سابقاو کے دی۔ د هغے ټولو علومو لُب لُباب ایاک نعبد و ایاک **نستعین** دے (۳) دا سورۃ ممتاز دے په بیان د چل/طریقے خولو د سوال۔ روستو به ئے وضاحت او شی (۴) سورۃ ممتاز دے په بیان د دعا خاص کولو چه کوم د دعا غوښتل لازم دی - اهد نا الصراط المستقیم (۵) دا سورۃ ممتاز دے په خاص کیدو د مونځ سره چه ورته سورۃ صلوٰۃ هم وائی یعنی د دے نه بغیر مونځ نه کیګی۔ مقتدی یا امام به ضرور فاتحه وائی۔ په نومونو د فاتحے کے د دے وضاحت شوے دے۔

**هغه حروف چه فاتحه کے نشته:** (۱) ث/ثا (۲) خ/خا (۳) ذ (۴) ز/زا (۵) ش (۶) ظ/ظا (۷) ف/فا دا ټول په انعام ۱۲۲ کے راجمع دی دا حروف په فاتحه کے و لے نشته نو بعضے علماء فقهاء جواب کوی۔ چه ز که چه دا الفاظ زیات تر د عذاب زائنو کے استعمال دی او فاتحه شفا والا سورۃ دو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراض(۵)ایت ۱۰۶ په نسخ باندے چه ئن یوه خبره کوے او صبا بله۔ جواب (۱)ایت ۱۰۶ نات بخیر منه (۲)زه د الله د حکم تابع یم

اعتراض(۶)ایت ۱۱۶ په اتخاذ الولد باندے چه ته مونگ د نائبانو نه منع کوے۔ نو ۵ جوابونه کوی(۱) سبحانه (۲)بل له مافی السمٰوٰت والارض (۳)کل له قانتون (۴)بدیع السمٰوٰت والارض (۵)واذا قضٰی امراً فانما یقول له کن فیکون

اعتراض(۷): ایت ۱۱۸: که ته رشتونے پیغمبرے نو ستا په رسالت د الله ما سره خبرے اوکړی: جوابونه دوه کیګی۔ (۱)ایت ۱۱۸: کذالک قال الذین من قبلهم (۲)قد بینا الاٰیٰت لقوم یوقنون ددے دوه جوابونو نه علاوه علماء ددے جواب هم کوی چه یو مجازی بادشاه د حکم نافذ کولو د پاره دهر چا دروازے ته نه زی۔ نو حقیقی بادشاه شنګه دا سے اوکړی۔

*داووم او اتم اعتراض در میان ورے خبرے دی۔(۱) ایت ۱۲۵: بیت الله د توحید مرکز وو نوا بے نبی اسرائیلو تا سو پکښے شرک و لے شروع کړو۔(۲)ایت ۱۲۹-۱۳۰: موجوده پیغمبر محمد ستاسو دنیکه ابراهیم دعاوه نو و لے د اپیغمبر نه منے (۳) ۱۳۲-۱۳۴: توحید ټولو انبیاء کرامو سبق او تبلیغ وو نو تاسو و لے د توحید نه انکار کوے۔*

اعتراض(۸): ایت ۱۴۲: په تحویل د قبلے چه ته په خپل دین کے پخپله په شک او تردد کے ئے۔کله یو خواخ کله بل خواخ۔ جواب ایت ۱۴۲: لله المشرق والمغرب (یعنی زه د الله د حکم تابع یم۔۔۔)

اعتراض(۹): دصفا او مروا په طواف۔ چه خپله خود صفا او مروا طواف کوے حالانکه دوه بتان (نائیله او اسلاف) وو۔ او مونگ د بتانو د عبادت نه منع کوے۔ نو جواب: ایت ۱۵۸: ان الصفا والمروة من شعائر الله

بیا نور د ایتونو کے زواجر، انذار، دملا د توبے درے شرائط په ایت ۱۶۰ کے، دلائیلو په توحید، رد د شرک او بیان د محرماتو کو لے شی انما حرم علیکم المیتة..

*(چه کله تفسیر د دوے دویم حصے ختم شی نو هله باقی خلاصه به بیانوو)*

**دریمه حصه** ایت ۱۷۷-۲۵۳: په دے کے جهاد فی سبیل الله ذکر کو لے شی: اول د جهاد د پاره درے منازل دی:

منزل(۱)سورة البقره کے دے: ددے په حقله درے اهمے خبرے کوی: (۱)تربیت د مجاهد (۲)اصلاح د خپل ملک (۳) اصلاح د خپل کور

منزل(۲) په سورة انفال کے : چه په میدان جنګ کے ۶ قاعدے ذکر کوی

منزل(۳) په سورة مجادله کے: یعنی د فتحے نه بعد قانون و آداب (تفصیل د پاره اوګوره شروع د دریمے حصے په قران کے)

نو ایت ۱۷۷ کے د مجاهد لس صفات ذکر کوی ۵ د عقیدے سره او ۵ د عمل سره متعلق دی۔ بیا اصول اربعه لسیاست المدن (د ملک اصلاح د پاره ثلور اصول) ذکر کوی۔ لکه

(۱)ایت ۱۷۸ قصاص من الظالم (کتب علیکم القصاص) (۲) ایت ۱۸۰ تقسیم المال بل القانون شرعی (کتب علیکم اذا حضرا۔۔۔)

(۳)ایت ۱۸۳ فرضیت الصوم (کتب علیکم الصیام) (۴) ایت ۱۸۸: نهی عن الارتشی (لاتاکلوا اموالکم۔۔۔)

بیا بیان د حج په شنګه حج کے مال او بند دواړه لګی دغه رنګ جهاد کے هم دواړه لګی۔ ایت ۱۸۹۔ بیا ایت ۲۱۵-۲۴۲ پورے ۱۸ توانین د کور متعلو بیانیګی۔ هغه دا دی:

(۱)ایت ۲۱۵ د کور مشر به هغه وی چه مال لګوی (۲) ایت ۲۱۶: مشر به د خپل کور مدافعت کوی (۳) ایت ۲۱۷ قتال فی شهر الحرام (۴)ایت ۲۱۹: نهی عن الخمر والمیسر

(۵)ایت ۲۲۰: اصلاح الیتمیٰ (۶) ایت ۲۲۱ نهی عن النکاح المشرکین (۷)ایت ۲۲۲ نهی عن الجماع فی حالت الحیض (۸)ایت ۲۲۳: مقصد جماع

(۹)ایت ۲۲۴: قسم خوړل د الله په نوم (۱۰) ایت ۲۲۶: مسئله د ایلا (۱۱) ایت ۲۲۹: د طلاق اقسام (۱۲) ایت ۲۳۳ مسئله د رضاعت (۱۳)ایت ۲۳۴: کنډے خزے عدت

(۱۴)ایت ۲۳۵ حکم الخطبة (لاجناح علیکم...) (۱۵) ایت ۲۳۶: طلاق د غیر مدخول (۱۶) ایت ۲۳۸ مسئله د صلوٰة (۱۷)ایت ۲۴۰ وصیت للازواج

(۱۸)ایت ۲۴۱ مسئله د فائدو ورکولو طلاق شوے خزے ته

ددے نه بعد مسئله د جهاد پرے تفریع کیګی په بیان د جالوت او طالوت ایت ۲۴۶-۲۵۲ چه پکے د امیر د جهاد د پاره دوه شرائط خائی (۱)علم (۲) جسم یعنی همت

*(چه کله تفسیر د دوے دریمے حصے ختم شی نو هله باقی خلاصه به بیانوو)*

**ثلورمه حصه**: ایت ۲۵۴-۲۸۶ پورے: په دیکے انفاق فی سبیل الله ذکے دے۔ چه ترغیب ورکوی منفقینو د مال ته فی سبیل الله او زجر ورکوی بخلاد ته:

ایت ۲۵۴: د مرګ نه مخے انفاق اوکړے ایت ۲۵۵-۲۵۶: هغه دعوه ذکر کوی چه کومے مسئلے د پاره به انفاق کوے۔ بیا د دوه فرقو بیان کوی یو ایت ۲۵۷-۲۵۸ کے چه بیان د شیطان او نمرود دے چه سرکشه فرقه ده بل ایت ۲۵۸-۲۵۹ کے چه بیان اصحاب الرشد کوی لکه ابراهیم او عزیرؑ بیا مثالونه د پاره د خرچ کولو په ایت ۲۶۱-۲۶۳ (د الله د رضا د پاره) او ایت ۲۶۴-۲۶۶ کے د دنیا غرض د پاره۔ ایت ۲۶۷ کے د طیب مال ورکولو حکم دے ایت ۲۷۵-۲۸۱ : ۵ دفعات په سود خورو باندے ایت ۲۸۲: ایت طویلا چه بیان د معاملاتو کوی۔ چه لین دین به شنګه کوے۔

بیا آخر رکوع کے بیان د هغے ثلورو مسئلو کوے چه تیرے شوے په ټول سورة کے به ایت ۲۸۴ کے بیان د توحید په لله مافی السمٰوٰت سره په ایت ۲۸۵ کے اثبات د رسالت کوی په اٰمن الرسول سره - دریم په ایت ۲۸۶ کے په لایکلف الله سره بیان د جهاد کوی او انفاق پرے قیاس کوی ځکه چه انفاق نه بغیر جهاد ممکن نه دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) اثبات درسالت: (چه نبیؐ دالله پیغمبر دے او آخری دے) نبیؐ خپله فرمائی چه زما مثال داسے دے لکه یو عمارت وی هغے کے یو خښته کمه وی۔ مالک ئے الګوی هغه بلډنګ برابرشی۔
انا خاتم النبیین لانبیؑ بعدی او ددے اثبات وسالت دوحید داهم مقصد دے چه د رسول په طریقو کے کامیابی ګنړل۔ بدعتی چه بدعت کوی۔ نو نبی ګرہ نه آخری رسول ګنړی۔ نه دهغه طریقو کے کامیابی ګنړی
(۳) الجهاد فی سبیل الله: جهاد که د جهد نه شی نو معنی ئے ده انتهائی کوشش کول۔ د پاره د اشاعت دقران او سنتو۔ چه دادین دالله دے۔
او که جهاد د جهد نه شی نو مطلب یے دے فراختیا یعنی هغه عمل چه اسلام ته فراختیا ملاویګی او مقابله کے کفر تنګیګی او ختمیګی۔
(۴) الانفاق فی سبیل الله: دالله د دین دپاره مال لګول۔ (اوس ئے ربط ته او ګوره: انفاق به جهاد ډپاره کوے جهاد به اثبات درسالت دپاره کوے او اثبات درسالت سره ملګ کے توحید رازی)
نو ژومبے دوه مسئلے دمهاتو نه او آخرے دوه مسئلے دمداتو نه راواخستے۔ باقی هغه ښلور نور چه صداقت الکتب + ایمان بالآخرة او تنظیم + آداب دی۔ دهغے هم ذکر کیګی مګر مختصراً/ضمناً۔ تفصیل په دے سورة کے ددغے ښلورو مسئلو کیګی۔ قران زده کولو د پاره اصل کے ددے مسئلو ضرورت وی۔ په یدے هغه نورے خبرے چه ۱۶ علوم غلق یادوی۔

**تقسیم دسورة:** سورة ۴ حصے دے: (۱) ایت ۱-۱۰۰: اثبات د توحید کوی (۲) ایت ۱۰۱-۱۷۶: اثبات درسالت کوی (۳) ایت ۱۷۷-۲۵۳: الجهاد فی سبیل الله بیانوی
(۴) ایت ۲۵۴-آخر پورے: الانفاق فی سبیل الله بیانوی کا

**خلاصه دسورة ژومبے حصه:** بیا دغه ژومبے حصه تقسیم ده په دریو بابونو باندے:
باب نمبر (۱) ایت ۱-۲۰: چه بیان د فرق ثلاثه کوی کومے چه سورة الفاتحه کے مختصراً بیان شوے۔ نو دلته دهغوی صفات، دهغوی حکم دنیاوی او اخروی هم بیانوی۔
باب نمبر (۲) ایت ۲۱-۳۹: دغه ژومبے باب اصل کے بطور تمهید وو۔ د پاره ددے دویم باب۔ زکه چه دلته کے اصل مسئله یایها الناس اعبدو ربکم ذکر کولے شی۔ دے کے سبق دے مبلغ ته چه هر کله ته بیان د توحید او کړے نو خلق به درے ډلے کیګی۔ او په اصولو دقران کے په اتم نمبر باندے ذدے دریو ډلو بیان شوے وو۔
نو دے باب کے ژومبے خطاب عام دے۔ او دعوه د توحید ده۔ چه ۵ دلائیل عقلیه پرے بیانیګی۔ او بیا ثمره پرے ذکر کولے شی: فلاتجعلوا لله انداداً۔ بیا اثبات درسالت، بشارت مؤمنو ته او دفع داعتراض په ایت ۲۶ کے په ان الله لایستحیی... بیا ایت ۲۸-۳۷ پورے ښلور نعمتونه ذکر کولے شی په کیف تکفرون بالله سره (۱) چه د نشت نه م شته کړے
(۲) د دنیا ټول نعمتونه م تاله پیدا کړل (۳) ستا سونیکه ته م عزت نصیب کړو په ټولو فرشتو (۴) لغزش م ورته هم معاف کړو۔ وغیره
باب نمبر (۳) ایت ۴۰-۹۶: ژومبے رکوع بطور تمهید چه خطاب عام نه پس خطاب خاص کولے شی په یٰبنی اسرائیل اذکروا سره چه ژومبے د بنی اسرائیلو درے خصلتونه ذکر کوی۔
لکه (۱) تحریف (ولاتشتروا... ایت ۴۱) (۲) تلبیس الحق بالباطل/کتمان حق ایت ۴۲ (۳) ترک عمل (اتامرون الناس... ایت ۴۴)
ددے مقابله کے د مومنانو درے صفات: (۱) صبر (۲) صلوٰة (۳) ایمان بالآخره ایت ۴۵-۴۶ (دا ژومبے رکوع بطور تمهید وه مخکے ۲ خطابونو د پاره چه خطابات ورته وړاندے کوی)
خطاب (۱): بیان دا تو نعمتونو او دوه قسمونو/عذابونو: نعمتونه دادی: (۱) نجات من الفرعون ایت ۴۹ (۲) نجات من الغرق ایت ۵۰ (۳) ایتاء الکتاب ایت ۵۳
(۴) عفو من القتل ایت ۵۱-۵۴ (۵) حیات بعد الممات ایت ۵۵-۵۶ (۶) تظلیل الغمام ایت ۵۷ (۷) انزال المن والسلوٰی ایت ۵۷ (۸) انفجار العیون من الحجر ۶۰
دوه قسمونه/عذابونه دادی: نزول العذاب من السماء ایت ۵۹ (۲) ذلت واهوان بسبب کفران ۶۱
خطاب (۲) ایت ۶۳-۷۲ د بنی اسرائیلو د مشرانو درے خصلتونه: (۱) نقض العهود ۶۳-۶۴ (۲) الحیل فی ذبح البقر ۶۷-۷۱ (۳) قتل النفس ۷۲
او د موجوده بنی اسرائیلو ښلور رخامے (۱) تحریف فی الدین ۷۵ (۲) منافقت ۷۶ (۳) تقلید د آباواجداد ۷۸ (۴) تخصیص لانفسهم بالجنه ۸۰
خطاب (۳) انکارهم من الاوامر واتیانهم بالکفر ۸۳-۸۶ خطاب (۴) انکار د مخکے انبیاؤ نه ایت ۸۷-۸۸
خطاب (۵) انکار د موجوده نبیؐ نه ۸۹ خطاب (۶) خلاصه د ماسبق ۹۵
*(چونکه تفسیر ددے ژومبے حصے ختم شی نو هله باقی خلاصه به بیانوو)*

**دویمه حصه** ایت ۹۷-۱۷۶ دا ژومبی ښلور ایتونه په دوا ړه حصو کے شمارولے شی۔ لکه ښګه چه علماء خپلو کتابونو کے بابونه تړی۔ او دهر دوو بابو درمیان کے یو فصل وی۔ چه د دغے فصل کے مخکے او روستو دواړه بابونه تړلے شوے وی۔ دغه شان دا ښلور ایتونه دواړه حصے خپلو کے داسے تړی چه ژومبے حصه کے اثبات د توحید وو نو دویمه کے اثبات درسالت دے۔ نو دا دواړه مسئلے د جبرائیلؑ رسولؐ ته دالله طرف نه راوړے وے۔ لهذا په جبرائیلؑ باندے اعتراض په دے دواړو مسئلو اعتراض دے۔ نو په دے وجه دویمه حصه مونږ د ایت ۱۰۰ په ځائے د ایت ۹۷ نه شروع کوو۔
نو ایت ۹۷-۱۵۸ پورے ۹ اعتراضات دی۔ او دهغے جوابونه او ایت ۱۵۹-۱۷۶ پورے شه نورے اہمے خبرے درسالت مسئلے سره متعلق دی۔
اعتراض (۱) په جبرائیلؑ باندے ۹۷-۹۸: چه مونږ تاله رسول او د قران زکه نه منو چه تاله وحی جبرائیلؑ راوړی چه هغه زمونږ په مشرانو عذابونه راوستے دی۔ نو ۵ جوابونه کوی۔
جواب (۱) قران دالله په حکم نازلیګی۔ (۲) قران د مخکے کتابونو تصدیق کوی۔ (۳) هدٰی (۴) وبشرٰی (۵) ایت ۹۸: ئوک چه جبرائیلؑ سره دشمنی کوی نو هغه الله سره دشمنی کوی نو الله هغه سره...
اعتراض (۲) سلیمانؑ باندے ایت ۱۰۲: چه ته د سلیمانؑ صفائی بیانوے حالانکه هغه جادوګر وو۔ نو جواب: ایت ۱۰۲: وما کفر سلیمان ولکن الشیٰطن کفروا
اعتراض (۳) ته مونږ د سحر نه منع کوے حالانکه الله ددے خولو د پاره دوه فرشتے هاروت او ماروت رالیګلے وے۔ نو جواب: ایت ۱۰۲: حتی یقول انما نحن فتنة فلاتکفر
اعتراض (۴) ایت ۱۰۴ چه ته مونږ د خپلو مشرانو د دین او رسم رواج نه منع کوے جواب ایت ۱۰۴: لاتقولوا راعنا د شرک او د بے ادبے خبرے مه کوے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراض(۵)ایت ۱۰۶ په نسخ باندے چه ئن یوه خبره کوے او صبا بله۔ جواب (۱)ایت ۱۰۶ نات بخیر منه (۲)زهٔ د الله دحکم تابع یم

اعتراض(۶)ایت ۱۱۶ په اتخاذ الولد باندے چه ته مونگ دنا ئبانو نه منع کوے۔ نو ۵ جوابونه کوی(۱)سبحانه (۲)بل له مافی السمٰوٰت والارض (۳)کل له قانتون (۴)بدیع السمٰوٰت والارض (۵)واذا قضٰی امراً فانمایقول له کن فیکون

اعتراض(۷): ایت ۱۱۸: که ته رشتونے پیغمبرئے نو ستا په رسالت د الله ما سره خبرئے اُو کڑی: جوابونه دوه کیګی۔ (۱)ایت ۱۱۸: کذالک قال الذین من قبلھم (۲)قد بین الایٰت لقوم یوقنون ددے دوو جوابونو نه علاوه علماء ددے جواب هم کوی چه یو مجازی بادشاه دحکم نافذ کولو د پاره دهر چا دروازے ته نه زی۔نو حقیقی بادشاه شنګه داسے اوکڑی۔

*داووم او اتم اعتراض درمیان ورے خبرے دی۔(۱) ایت ۱۲۵: بیت الله د توحید مرکز دونواے بنی اسرائیلو تاسو پکښ شرک وے شروع کڑو۔(۲)ایت ۱۲۹-۱۳۰: موجوده پیغمبر محمدؐ ستا سو دنیکه ابراهیمؑ دعاوه نو ولے دا پیغمبر نه منے (۳)۱۳۲-۱۳۴: توحید ټولو انبیاء کرام و سبق او تبلیغ وو نو تاسو ولے د توحید نه انکار کوے۔*

اعتراض(۸): ایت ۱۴۲: په تحویل دقبلے چه ته په خپل دین کے په خپله په شک او تردد کے ئے۔کله یو خوا مخ کله بل خوا مخ۔ جواب ایت ۱۴۲: لله المشرق والمغرب (یعنی زهٔ د الله دحکم تابع یم۔۔۔)

اعتراض(۹): دصفا او مروا په طواف۔ چه چپله خود صفا او مروا طواف کوے حالانکه دوه بتان (نائیله او اسلاف)وو۔ او مونګ د بتانو دعبادت نه منع کوے۔ نو جواب: ایت ۱۵۸: ان الصفا والمروة من شعائر الله

بیا نور د ایتونو کے زواجر، انذار، دملا د توبے درے شرائط په ایت ۱۶۰ کے، دلائیلو په توحید، رد دشرک او بیان د محرماتو کولے شی انما حرم علیکم المیتة..

*(چه کله تفسیر ددے دویمے حصے ختم شی نو هله باقی خلاصه به بیانوو)*

***دریمه حصه*** ایت ۱۷۷-۲۵۳: په دے کے جهاد فی سبیل الله ذکر کولے شی: اول د جهاد د پاره درے منازل دی:

منزل(۱)سورة البقره کے دے: ددے په حقله درے اهمے خبرے کوی:(۱)تربیت د مجاهد (۲)اصلاح د خپل ملک (۳) اصلاح د خپل کور

منزل(۲) په سورة انفال کے : چه په میدان جنګ کے ۶ قاعدے ذکر کوی

منزل(۳) په سورة مجادله کے: یعنی د فتحے نه بعد قانون و آداب (تفصیل د پاره او ګوره شروع د دریمے حصے په قرآن کے)

نو ایت ۱۷۷ کے د مجاهد لس صفات ذکر کوی ۵ دعقیدے سره او ۵ دعمل سره متعلق دی۔ بیا اصول اربعه لسیاست المدن (د ملک اصلاح د پاره څلور اصول) ذکر کوی۔لکه

(۱)ایت ۱۷۸ قصاص من الظالم (کتب علیکم القصاص) (۲) ایت ۱۸۰ تقسیم المال بل القانون شرعی (کتب علیکم اذا حضرا۔۔۔)

(۳)ایت ۱۸۳ فرضیت الصوم (کتب علیکم الصیام) (۴) ایت ۱۸۸: نہی عن الارتشی (لاتاکلوا اموالکم۔۔۔)

بیا بیان دحج په شکه حج کے مال او بندرداڑه لګی دندرنګ جهاد کے هم دواڑه لګی۔ ایت ۱۸۹ نه بیا ایت ۲۱۵ ۲۴۱ پورے ۱۸ قوانین دکور د ولو بیانیګی۔ شغه دادی:

(۱)ایت ۲۱۵ دکور مشر به هغه وی چه مال لګوی (۲) ایت ۲۱۶: مشر به د خپل کور مدافعت کوی (۳) ایت ۲۱۷ قتال فی شهر الحرام (۴)ایت ۲۱۹: نهی عن الخمر والمیسر

(۵)ایت ۲۲۰: اصلاح الیتمٰی (۶) ایت ۲۲۱ نهی عن النکاح المشرکین (۷)ایت ۲۲۲ نهی عن الجماع فی حالت الحیض (۸)ایت ۲۲۳: مقصد جماع

(۹)ایت ۲۲۴: قسم خوړل د الله په نوم (۱۰) ایت ۲۲۶: مسئله د ایلا (۱۱) ایت ۲۲۹: دطلاق اقسام (۱۲) ایت ۲۳۳ مسئله د رضاعت (۱۳)ایت ۲۳۴: کنډے خزے عدت

(۱۴)ایت ۲۳۵ حکم الخطبة (لاجناح علیکم...) (۱۵) ایت ۲۳۶: طلاق دغیر مدخول (۱۶) ایت ۲۳۸ مسئله دصلوٰة (۱۷)ایت ۲۴۰ وصیت للازواج

(۱۸)ایت ۲۴۱ مسئله دفائدو ورکولو طلاق شوے خزے ته

ددے نه بعد مسئله د جهاد پرے تفریع کیګی په بیان دجالوت او طالوت ایت ۲۴۶-۲۵۲ چه پکے دامیر د جهاد د پاره دوه شرائط خائی (۱)علم (۲) جسم یعنی همت

*(چه کله تفسیر ددے دریمے حصے ختم شی نو هله باقی خلاصه به بیانوو)*

***څلورمه حصه:*** ایت ۲۵۴-۲۸۶ پورے: په دے کے انفاق فی سبیل الله ذکے دے۔ چه ترغیب ورکوی منفقینو د مال ته فی سبیل الله او زجر ورکوی بخلاوته:

ایت ۲۵۴: د مرګ نه مخے انفاق اوکڑے ایت ۲۵۵-۲۵۶: هغه دعوه ذکر کوی چه کومے مسئلے د پاره به انفاق کوے۔ بیا د دوو فرقو بیان کوی یو ایت ۲۵۷-۲۵۸ کے چه بیان د شیطان او نمرود دے چه سرکشه فرقه ده بل ایت ۲۵۸-۲۵۹ کے چه بیان اصحاب الرشد کوی لکه ابراهیمؑ او عزیرؑ بیا مثالونه د پاره دخرچ کولو په ایت ۲۶۱-۲۶۳ (د الله د رضا د پاره) او ایت ۲۶۴-۲۶۶ کے د دنیا غرض د پاره۔ ایت ۲۶۷ کے د طیب مال ورکولو حکم دے ایت ۲۷۵-۲۸۱ : ۵ دفعات په سود خورو باندے ایت ۲۸۲: ایت طویلا چه بیان د معاملاتو کوی۔ چه لین دین به شنګه کوے۔

بیا آخر رکوع کے بیان دهغے څلورو مسئلو کوی کومے چه تیرے شوے په ټول سورة کے به ایت ۲۸۴ کے بیان د توحید په لله مافی السمٰوٰت سره په ایت ۲۸۵ کے اثبات د رسالت کوی په اٰمن الرسول سره ۔ دریم په ایت ۲۸۶ کے په لایکلف الله سره بیان د جهاد کوی او انفاق پرے قیاس کوی ز که چه انفاق نه بغیر جهاد ممکن نه دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورة ال عمران مدنی (ترتیباً ۳ بعداز بقره - نزولاً ۸۹ بعدازانفال)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة بقره | سورة ال عمران |
|---|---|---|
| ۱۔ | بقره کے بیان دڅلورو مسئلو وو۔ توحید، رسالت، جهاد، او انفاق۔ توحید څلور وارے ذکر دو۔ ایت ۲۱، ۱۱٦، ۱٦۳، ۲۵۵، او ۹ اعتراضات په رسالت او جوابونه دو | نو دے سورة کے هم دغه مقاصد بیانیګی مګر زیات وضاحت او ترقئی سره۔ دلته اووهٔ وارے توحید دے لکه ایت ۲، ۱۸، ۲٦، ۵۱، ٦۴، ۱۰۹، او ۱۸۹ کے۔ او ۱۵ اعتراضات په رسالت او دهغے جوابات ذکر کوی۔ نو دا سورة په ترقئی دے۔ دمخکے سورة البقرے نه۔ |
| ۲۔ | بقره کے دیهودو داله (عجل) دعاجزے ذکر اوشو۔ واذ وٰعدنا موسیٰ اربعین لیلة ثم اتخذتم العجل ایت ۵۱ | نو دے سورة کے دعیسایانو د اله (عیسیٰ) دعاجزے ذکر کولے شی چه هغه کمزورے وو۔ |
| ۳۔ | بقره کے بیان دهغے قوانینو وو چه هغے سره اصلاح دکور او ملک دمجاهد رازی۔ | نو دے سورة کے بیان دهغے قوانینو دے چه هغے سره اصلاح د جماعت یعنی دتنظیم کیګی۔ |
| ۴۔ | زیات تر خطاب دلته مغضوب علیهم (یهودیانو) ته دو۔ | نو دے سورة کے زیات تر خطات ضالینو ته دے۔ یعنی عیسایانو ته چه یهودو پسے روان دی۔ |
| ۵۔ | بقره کے دمشرکانو په دعوه رد وو۔ چه قالوا اتخذ الله ولدا ایت ۱۱۴ (الله نا ئبان نیولی دی) نو ۵ جوابونه ئے کړے وو۔ | نو دلته دعیسایانو په دعوه چه هغه عقیده دتثلیث ده رد دے۔ چه عیسیٰ او بی بی مریم خدایان ګنړی۔ نو الله تعالیٰ ددوی ټولو او د دوی دنیکونو عاجزی بیانوی۔ چه زکریاؑ دے بی بی مریم، عیسیٰ او د جبرائیلؑ هم عاجزی بیانیګی۔ |
| ٦۔ | دلته یهودیانو سره ایت ۹۴-۹۵ کے مباحله وه۔ | نو دلته ایت ٦۱ کے عیسیانو سره مباحله ده۔ |
| ۷۔ | دطالوت دملګرو دعا ذکر ده په ایت ۲۵۰ کے ربنا افرغ علینا صبرا | نو دلته دصحابو دعا ذکر ده په ایت ۱۴۷ کے ربنا اغفرلنا ذنوبنا |
| ۸۔ | دبنی اسرائیلو نه وعده اخستل ذکر دو۔ په ایت ۸۳ کے واذ اخذ میثاق بنی اسرائیل لاتعبدون الا الله... | عامو مسلمانانو نه وعده اخستل ذکر دی په ایت ۱۸۷ کے واذ اخذ الله میثاق الذین اوتوا الکتٰب لتبیننه للناس..... |
| ۹۔ | ایت ۱۵۹ کے په کاتمین حق باندے لعنت وئیلے کیدو | نو دلته ایت ۸۷ کے په مرتد باندے لعنت وئیلے کیګی۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۱۷۴ کے وائی چه کاتمین حق سره به الله قیامت کے خبرے اونه کړی۔ | ایت ۷۷ کے فرمائی چه چا چه دالله په احکاماتو دنیا واخسته هغه سره به الله خبرے اونه کړی۔ |
| ۱۱۔ | بقره کے دمخکنو مجاهدینو بیان دو لکه حضرت طالوت | نو دے سورة کے دموجوده امت دمجاهدینو او دهغوی دبهادرئی بیان دے لکه بدرین |
| ۱۲۔ | ایت ۱۹٦ واتموا الحج والعمرة لله | ایت ۹۷ کے فرمائی چه دحج نه انکاری کافر دے |
| ۱۳۔ | ایت ۱۴۰ کے دواړه ءانتم اعلم ام الله (دابراهیمؑ باره کے تاسو چه دائے چه هغه یهودی وو او عیسیان وائی چه هغه عیسائی وو) نو تاسو پوهیګئی او که الله خه پوهیګی۔ | ایت ٦٦-٦۷ کے هم دغه مسئله واضح کوی او فرمائی چه والله یعلم وانتم لاتعلمون |

**امتیازات دسورة:** (۱) سورة ممتاز دے په بیان دال دحضرت عمران چه هغه بی بی ایت ۳۴، لور بی بی مریم ایت ۳٦ او نوسے حضرت عیسیٰ په ایت ۴۸ کے بیانیګی دا سے بل سورة کے نشته۔

(۲) سورة ممتاز دے په عاجزے د پنزو الهانو ۱۔ دبی بی مریم مور، ۲۔ بی بی مریم ۳۔ زکریاؑ ۴۔ فرښتے او ۵۔ عیسیٰؑ

(۳) سورة ممتاز دے په عبدیت دعیسیٰؑ (بنده ثابت کولو باندے) او دده په عاجزے ۳۳ نقطے بیانیګی دڅو مبے حصے دریم باب کے۔

(۴) سورة ممتاز دے په رد دهغے شپږو دعوو یا اصولو دعیسیانو چه عیسیان ئے پیش کوی۔ لکه (۱) عیسیٰ ته ابن الله وائی (۲) زمونګ دین کامل دے (۳) زمونګ دین، کتاب او پیغمبر ټول واجب الاطاعت دی۔ (۴) محمدؐ صرف عربو ته پیغمبر دے۔ (۵) عیسیٰؑ ټولے دنیا لره پیغمبر وو۔ (٦) مونګ هم موحدین یو۔ نو دے سورة کے دد ے شپږو واړو دعوو رد دے۔

(۵) سورة ممتاز دے په بیان دقوانینو/ اصولو دتنظیم (٦) سورة ممتاز دے په ایت ۱۸ سره چه ادلة الثلاثة (درے واړه دلائیل په توحید راوړی۔ شهد الله انه لا اله...)

(۷) سورة ممتاز دے په بیان دهغے اوو خبرو چه ددنیا خواهشات دی نو تزهید من الدنیا دپاره هغه بیانوی ایت ۱۴ (۸) سورة ممتاز دے په اوچتولو دعیسیٰؑ اسمان ته ایت ۵۵

(۹) سورة ممتاز دے په بیان د وفات دمحمدؐ ایت ۱۴۴ افائن مات اوقتل انقلبتم علی اعقابکم

(۱۰) سورة ممتاز دے په فضیلت دبی بی مریم دهغے وخت په نورو خزو باندے ایت ۴۲

**مقصد دسورة:** بیان دهغے څلورو مقاصدو کوم چه تیر شوے وو په سورة البقره کے اثبات دتوحید اثبات د رسالت جهاد فی سبیل الله انفاق فی سبیل الله مګر په زیاتے ترقئی سره دمخکے سورة نه۔ مثلاً هلته څلور وارے توحید وو۔ نو دلته اووهٔ وارے توحید ذکر کیګی۔ هلته ۹ اعتراضات وو په رسالت باندے نو دلته ۱۵ اعتراضات او د دهغے جوابونه وو۔ بقره کے په توحید صرف عقلی دلائیل وو۔ نو دلته ال عمران کے پرے عقلی، نقلی، او وحی درے واړه دلائیل دی په مسئله دتوحید۔ بقره کے انفاق د پاره مثالونه وو نو دے سورة کے زواجر دی بخلاؤ ته۔ نو په دے وجه سورة ال عمران زیات په ترقئی دے په بیان دهغے مضامینو کوم چه تیر وو په سورة بقره کے۔

**تقسیم دسورة** سورة تقسیم دے په دریو حصو باندے (۱) ایت ۱-٦۳: اثبات دتوحید کوی (۲) ٦۴-۱۰۱: اثبات د رسالت کوی او دفع د ۱۵ اعتراضونو کوی دمنکرینو د طرف نه

(۳) ایت ۱۰۲ - آخر دسورة پورے چه پکے جهاد او انفاق دواړه مسئلے بیانیګی۔

بیا دغه ژو مبے حصه تقسیم ده په دریو بابونو باندے: (۱) ایت ۱-۱۷: (۲) ایت ۱۸-۲۵ (۳) ایت ۲٦-٦۳: هر یو باب کے شپګ شپګ خبرے کوی او ډو مبے خبره دعوه دتوحید ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

باب(۱) ایت۱-۱۷: پہ دیکے ۶ خبرے دادی: (۱)ایت ۲ دعوہ دتوحید (۲) ایت۴: تخویف دنیاوی داُخروی (ان الذین کفروا) (۳)ایت۷: دفع دشبہاتو چہ وارِدیدلہ پہ عبدیت دعیسیٰؑ باندے چہ اللہ ورتہ ابن اللہ ویلے دی نو جواب وُاُخر متشٰبِھٰت کے اووے چہ تاسو پرے نہ پوھیگئ۔ (۴)ایت ۸ کے مومنانو تہ تعلیم ورکول د دعا پہ وخت د شکوکو شبہاتو (۵)ایت۱۰: چہ بندہ لرہ مال او اولاد داللہ دعذابہ نشی بچ کولے (۶)ایت۱۴ کے تزھید من الدنیا و ترغیب الی الآخرہ

باب(۲) ایت۱۸-۲۵: پہ دیکے ھم ۶ خبرے دی: (۱)ایت۱۸: دعوہ دتوحید (۲)ایت۱۹: دفع دشبہے دعیسیانو چہ جواب ئے کوی چہ اصل دین دین اسلام دے او پہ نصرانیت کے دس من البغات شوے دے۔ (یعنی باغیانو پکے لاس وھلے دے۔) چہ پکے د زنانہ ئے دشرک خبرے لیکلے دی (وما اختلف الذین اوتوا الکتٰب) (۳) ایت۲۰: صداقت دپیغمبر (۴)ایت۲۱: بیان دپلیتئی داھل کتابو (۵)ایت۲۳: ذیہود و اعراض داللہ دکتاب نہ (۶)ایت۲۵: تخویف دآخرت

باب(۳)ایت۲۶-۶۳: دیکے ھم ۶ خبرے دی: (۱)ایت۲۶: دعوہ دتوحید (۲)اَیت۲۸: مومنانو تہ تنبیہ چہ کافرو سرہ دوستی مہ کوے۔ (۳) ایت۳۰: تخویف دآخرت (۴)ایت۳۱ ترغیب د اتباع دپیغمبر تہ (۵)ایت۳۵، ۳۷-۳۸،۴۰ او ۵۱ وغیرہ: پہ دیکے ۳۳ نقطے دحضرت عیسیٰؑ پہ عبدیت باندے چہ ھغہ الٰہ نہ وو۔ (۶)ایت۱۶: مباحلہ دعیسیانو سرہ

**دویمہ حصہ:** ایت۶۴-۱۰۱: پہ دیکے داھل کتابو ۱۵ پلیتئی ذکر دی چہ اعتراضات دی پہ رسالت باندے۔ ھغہ دادی:

(۱)ایت۶۴: خپل ملا او پیر پہ خدائے توب سرہ نیول چہ ھغوی شہ تہ حلال اووائی نو ھغہ بہ حلال گنڑو۔ او دھغہ حرام بہ حرام گنڑو۔

(۲)ایت۶۵: (احتجاج بالباطل) داھل کتابو د باطلو دعوو خلاف احتجاج کول چہ ابراھیمؑ یہودی وو یا نصرانی وو۔

(۳)ایت۶۹: (اِضلال المومنین) مومنانو لرہ گمراہ کول (۴)اَیت۷۰: (انکارھم وکفرھم بایٰت اللہ) (۵)ایت۷۱: (تلبیس الحق بالباطل)

(۶)ایت ۷۲: دین گڈ وڈ کول پہ کمزورو باندے (۷)ایت۷۳: دنکے دینونو پہ منسوخیدو وصیت کول (۸) ایت۷۵ خیانت داھل کتابو

(۹)ایت۷۸ تحریف کول پہ حق کے (۱۰) ایت۷۹: (افتراء علی العباد الصالحین) پہ نیکانو خلقو دروغ تڑل

(۱۱)ایت۸۱-۸۲: (تولی عن کتاب اللہ) اعراض کول پس د دعدے نہ۔ (۱۲) ۸۶: (کفر بعد الایمان) مرتد کیدل۔ (۱۳)ایت۹۳: (افتراء علی الانبیاء) چہ انبیاؤ مونگ تہ دا دا احرام کڑے دی۔ (۱۴)ایت۹۶: (تقدیم القبلہ) چہ زمونگ قبلہ ستاسو د قبلے نہ مخکے وہ۔ (۱۵)ایت۹۹ (یصدون عن سبیل اللہ) داللہ دکتاب نہ خلق بندول

**دریمہ حصہ:** ایت۱۰۲-آخر پورے: دیکے دجہاد او انفاق فی سبیل اللہ بیان دے او دتنظیم جوڑولو ۵ قاعدے خائی او پہ ھغے دوہ واقعات بطور مثال پیش کوی۔

دتنظیم جوڑولو ۵ قاعدے دادی: قاعدہ (۱) ایت۱۰۲: (ولا تموتن الا وانتم مسلمون) ستاسو دٹولو بہ یوہ عقیدہ دتوحید وی۔ او دغہ اشارہ پہ اتقوا اللہ حق تقاتہ کے ھم دہ۔

قاعدہ (۲)ایت۱۰۳: (واعتصموا بحبل اللہ جمیعا) ستاسو دٹولو بہ یو قانون وی چہ ھغہ قران او سنت درسول دی۔ قاعدہ (۳)ایت۱۰۴/۱۱۰: ستاسو دتنظیم ارکان بہ کارکوونکی وی۔ یعنی فعال بہ وی۔

قاعدہ (۴)ایت۱۱۷: ستاسو ارکان بہ پہ جماعت/تنظیم باندے خرچ کوی۔ قاعدہ(۵)ایت۱۱۸: چہ تاسو کے بہ غیر رازدار نہ وی۔

او پہ دے باندے دوہ واقعات بیانوی یوہ واقعہ د جنگ بدر چہ غیر رازدار مومنانو کے نہ وو۔ نو امداد داللہ ورسرہ شامل حال وو۔ او بلہ واقعہ د جنگ احد چہ مسلمانانو زیات وو مگر غیر رازدار پکے وو۔ نو وقتی طور دتکلیف باعث شو۔

**شان نزول دسورۃ:** مفسرین فرمائی چہ دعلاقہ نجران نہ د ۶۰ عیسیانو یو وفد مدینے تہ راغے او نبی کریمؐ سرہ دحضرت عیسیٰؑ متعلق پہ مناظرہ شول۔ چہ عیسیٰؑ داللہ نائب او ابن دے۔ او زمونگ رب دے نبی کریمؐ ورتہ اوفرمائیل چہ رب ھغہ دے چہ ھمیشہ ژوندے دے دٹول جہان نگہبان دے او رازق دے پہ زمکہ او اسمان کے دھغہ نہ ھیث پٹ نہ دی۔ پہ رحم د مور کے د خپلے خوخے مطابق بچے پیدا کوی۔ نہ خوری نہ ئی۔ اوس تاسو اووائے چہ آیا دے صفاتو نہ یو صفت ھم پہ عیسیٰؑ کے موجود وو۔ ھغوی خاموش شول۔ او داللہ دطرف نہ دسورۃ ال عمران دا ڑومبی ۸۰ ایتونہ رانازل شو۔

## اعتراضات دعیسیانو او جوابونہ دقران:

(۱) اللہ تعالیٰ عیسیٰؑ تہ روح اللہ، کلمۃ اللہ او ابن ویلے دی۔ نو ھغہ داللہ زوے، نایب او متصرف شو۔ نو زکہ ھغہ تہ اواز کول حق دی۔

جواب: ایت ۷، (......وما یعلم تاویلہ الا اللہ) دمتشابہاتو ترجمہ او مطلب باندے اللہ پوھیگی۔ کہ انسان دمتشابہاتو پہ مطلب زان پوھ کول غواڑی نو پہ رنڑا دمحکماتو کے بہ د دے معنی او مطلب اخلی۔ بل جواب ایت۵۹ کے بل جواب اوگورہ چہ پیدائش دعیسیٰؑ داسے معجزہ وہ لکہ پشان د پیدائش د آدمؑ۔۔۔۔ نو لفظ ابن دمتشابہاتو نہ دے تاسو پرے نہ پوھیگئے۔ بل داچہ د ابن مطلب زوے نہ بلکہ محبوب دے چہ پہ معنی د زیات تعلق دے لکہ ابن السبیل لکہ مائدہ ۱۸: نحن ابناء اللہ مونگ داللہ محبوبان او دوستان یو۔ بل داچہ زمونگ قران ورتہ ابن اللہ نہ دے ویلے۔ نو کہ ستاسو کتاب کے وی۔ نو دا دس من البغا تشوے دے۔ زکہ چہ زمونگ ایمان دے چہ دعقائدو لحاظ سرہ اسمانی ٹول کتابونہ یو خبرہ کوی۔ او دا دعقیدے خبرہ متفق علیہ مسلہ دہ۔ ھم د اسمانی کتابونو درمیان او ھم دانبیاؤ درمیان۔

(۲) عیسیٰؑ مڑہ ژوندی کول۔ بیماران ئے جوڑول۔ دخاورے مارغہ کے بہ ئے روح اچوو۔ لہٰذا متصرف وو۔ جواب ایت۴۹: چہ دا ھر شہ ئے پہ اذن داللہ کڑے دی۔

(۳) زمونگ اکابرو مونگ تہ داسے نخے پرینخے دی چہ عیسیٰؑ ویلے دو چہ ما تہ اواز کوے زہ ٔ رارسیدیشم۔ جواب ایت۷۹ کے: ماکان لبشر...کونوا عبادا لی من دون اللہ۔

(۴) بی بی مریم سرہ بہ ھر وخت بے موسمہ میوے وے پہ خپل اختیار۔ لہٰذا ھغہ متصرف دہ۔ جواب ایت ۳۷. قالت ھو من عند اللہ (۵) د زکریاؑ زوے پہ بڑاوالی کے اشوا گر چہ بی بی ئے ھم شنڈہ وہ۔ لہٰذا ھغہ متصرف دے۔ جواب ایت ۳۸ کے ھنالک دعا زکریا ربہ... دغسے نور اعتراضونہ ھم وو چہ تفصیل ئے او شو پہ دویمہ حصہ کے۔ او پہ اتیاز اتو کے ۴ نمبر باندے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سورة نساء: (۱) مدنی سورة دے ترتیباً ۴ بعد از ال عمران او نزولاً ۹۲ بعداز ممتحنه

**(۲) ربط ماسبق سره:** مولانا غلام الله خان اسی ربط داسے خائی چه (فاتحه) ایاک نعبد وایاک نستعین (بقره) ولانعبد ولانستعین البقره کمافعلت الیهود والمشرکون (ال عمران) ولاال عمران کمافعلت النصٰری (نساء) ونویٔدی حقوق النساء (مائده) اللهم فانزل علینا مائدة انعامک ورحمتک (باقی زمونگ دشیخ القران صاحب طرف نه ددے ربط داسے دے)

| شمار | سورة آل عمران | شمار | سورة نساء |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | فاتحه کے ددر یوڈلو بیان اجمالاً اوشونو بقره کے مغضوب علیهم ته خطاب دواوال عمران کے ضالین ته | ۱۔ | نوسورة نساء کے ژومبے ډلے منعوم علیهم ته خطاب دے |
| ۲۔ | سورة بقره او آل عمران اصلاح دعقیدے کوی | ۲۔ | نوسورة نساء اصلاح دمعاشرے کوی ۔(عقیدہ ئے مقدم کڑله به اصلاح دمعاشرے) |
| ۳۔ | قوانین ذکرکوی دپاره د تنظیم دجوړولو | ۳۔ | قوانین ذکرکوی دپاره داصلاح دمعاشرے |
| ۴۔ | د اٰئی دتوبے بیان په دوو شرطونوسره ایت ۸۹ | ۴۔ | دمنافق دتوبے بیان په څلورو شرطونوسره ایت ۱۴۵-۱۴۶ |
| ۵۔ | دعیسیٰ دبره خیژولو بیان په ایت ۵۵ کے (ورافعک الیّ) | ۵۔ | تفصیل دبره خیژولو په ایت ۱۵۷-۱۵۸ کے او رد په هغو چه دعوه کوی دقتلولو دعیسیٰ |
| ۶۔ | ذکر دصحابا کرامو ایت ۱۵۵ کے (عفاالله عنهم) | ۶۔ | ایت ۶۹ کے دوی به انبیائے کرامو سره وی |
| ۷۔ | قول دمنافقانو ۱۵۶ کے: (لوکانوا عندنا ماماتوا وماقتلوا) | ۷۔ | جواب: ۷۸ کے (این ماتکونوا یدرککم الموت ولوکنتم فی بروج مشیده) |
| ۸۔ | ایت ۱۳۰ (لاتاکلوا الربٰوا) | ۸۔ | ایت ۲۹ کے: هغه مال چه باطلے طریقے سره ګټلے شوے بچ ن ترے اوساتے |
| ۹۔ | ایت ۱۸ کے: دالله اوفرشتو ګواهی په اثبات د توحید | ۹۔ | ایت ۱۶۶ : دالله ګواهی په صداقت دقران |
| ۱۰۔ | ایت ۳۱: فاتبعونی یحببکم الله (دالله تقرب درسول په تابعدارے کے دے) | ۱۰۔ | سورة نساء کے شرائط د اتباع درسول بیانیګی |
| ۱۱۔ | بیان دقتال دکافروسره | ۱۱۔ | ایت ۹۳: بیان د ۵ دفعاتو په هغه چاچه مومن قصداً قتل کړی |
| ۱۲۔ | بیان دمجاهدینو کوی | ۱۲۔ | بیان دفضیلت دمجاهدینو کوی |
| ۱۳۔ | ایت ۶۷: ابراهیمؑ نه یهودی وو او نه نصرانی | ۱۳ | ایت ۱۲۵: اتباع ددے ابراهیمؑ اوکړے |
| ۱۴۔ | سورة ال عمران بیان دمقاصد واو عقائدو کوی | ۱۴۔ | سورة نساء بیان د اعمالو کوی |
| ۱۵۔ | ایت ۱۸۵: څوک چه د جهنم نه بچ شو هغه کامیاب دے | ۱۵۔ | ایت ۱۳: دا کامیابی په اتباع دالله او د رسول کے سره ملاویګی |
| ۱۶۔ | ایت ۱۹۵: (بعضکم من بعض) دامومنان سړی اوښځے چلو کے دیوبل نه دی۔ | ۱۶۔ | ایت ۱: (خلقکم من نفسٍ واحدةٍ) ټول دیوباباولاد یئے |
| ۱۷۔ | خاتمه په بیان دتقوا اوشوه | ۱۷۔ | شروع په بیان د تقوا اوشوه |

**(۳) مقصد یادعوه دسورة:** بیان دهغے امورو چه اصلاح پرے کیګی دمعاشرے۔

**(۴) تقسیم اواجمالی خلاصه دسورة:** (۱) ۱-۵۷ پورے: مقصد: بیان د ۱۶ هغے احکاماتو کوی چه دهغے نفاذ سره اصلاح رازی **بین الرعیت یعنی** په مابین دعواموکے

(۲) ۵۸-۱۳۴ پورے: مقصد: بیان د ۸ هغے احکاماتو چه دهغے نفاذ سره اصلاح رازی په **بین الراعی او رعیت یعنی** دحاکم اوعوامو مابین کے

(۳) ۱۳۵-آخره پورے: مقصد: بیان د دریو ډلو/فرق ثلاثه کوی (۱) مومن (۲) منافق (۳) اوکافریا اهل کتاب

**(۵) تفصیلی خلاصه دسورة:** ژومبے حصه ایت ۱-۵۷ پورے: بیان د ۱۶ احکاماتو کوی چه اصلاح پرے رازی دعوامو مابین کے۔ دے ته احکامات رعیت وائی۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| حکم نمبر ۱ ایت ۲ | حفاظت اوکړه دیتیم دمال | حکم نمبر ۲ ایت ۳ | حفاظت اکړه دیتیمانانو دجنګو |
| حکم نمبر ۳ ایت ۴ | عاموبیبیانو ته دے حق مهر ورکړے شی | حکم نمبر ۴ ایت ۵ | دبیوقوفو دمال حفاظت اوکړے |
| حکم نمبر ۵ ایت ۷ | عاموخلقو سره احسان کوے | حکم نمبر ۶ ایت ۱۱ | مال دقانون شرعی مطابق تقسیم کړے |
| حکم نمبر ۷ ایت ۱۵ | زان دفحاشۍ نه بچ کړے | حکم نمبر ۸ ایت ۱۹ | میراث کے مال اوجائیداد ملاویګی مګر ښځه (عورت) نه |
| حکم نمبر ۹ ایت ۲۲ | دپلو مشرانو ګنډو سره نکاح مه کوے دیکے ادب دے | حکم نمبر ۱۰ ایت ۲۳ | بیان ددغے ۱۴ محرماتو |
| حکم نمبر ۱۱ ایت ۲۹ | نهی عن الاموال المحرمات (دحرام مال نه زان اوساتے) | حکم نمبر ۱۲ ایت ۳۲ | نهی عن العدوان (زیاتے مه کوے په خپله حصه صبراوکړے) |
| حکم نمبر ۱۳ ایت ۳۳ | ایفاء العهود (وعدے پوره کړے) | حکم نمبر ۱۴ ایت ۳۴ | امیر بیت الرجل (سربراه به سړے وی) |
| حکم نمبر ۱۵ ایت ۳۵ | دښځے اوخاوند مابین کے صلحه اوکړے | حکم نمبر ۱۶ ایت ۳۶ | حکم التوحید و ردشرک |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ورپسے نورو ایتو کے زواجر دی

دویمه حصه ایت ۵۸-۱۳۴ پورے: بیان د اتو (۸) هغے احکاماتو چه دهغے نفاذ سره اصلاح رازی په بین الراعی او رعیت یعنی دحاکم او عوامو مابین کے۔ جواهر القران ورته احکاماتِ سلطانیه وائی۔

اونهم حکم تنویر دے په ماسبق دواړو حصو باندے۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| حکم نمبر۱ ایت ۵۸ | (حکم حاکم ته) دعوامو حقوق په بادشاه بطورامانت دی۔ داد ے اداکړے شی۔ | حکم نمبر۶ ایت ۱۰۰ | دالله په لاره کے هجرت کول (ومن یُّهاجر فی سبیل الله) |
| حکم نمبر۲ ایت ۵۹ | (حکم رعیت ته) چه دقران، سنتو اودخپل امیر تابعدار شے۔ | حکم نمبر۷ ایت ۱۰۱ | صلاةِ قصر (موږ په کوے په هرحال کے) (واذا ضربتم فی الارض...) |
| حکم نمبر۳ ایت ۷۴ | حاکم اوعوام دواړو ته (حکم القتال) دالله په لار کے جهاد اوکړے | حکم نمبر۸ ایت ۱۰۵ | حکم القران - چه ملک فتح شی نو قانون به ستاسو قرآن وی۔ |
| حکم نمبر۴ ایت ۹۲ | اختیاط فی القتل (وماکان المومن....) | | |
| حکم نمبر۵ ایت ۹۴ | اصلاح نیت (اذاضربتم فی الارض فتبینوا ....) | حکم نمبر۹ ایت ۱۲۷ | داحکم تنویر (رڼا اچونکے) دے په مخکے دواړو حصو۔ |

نورو آیتونو کے تنبیه او زواجر دی

دریمه حصه: ایت ۱۳۵- آخره پورے بیان د دریو ډلوکوی (۱) مؤمنین (۲) منافقین (۳) کافرین/اہل کتاب۔

(۱) سُستئ په وجه یا دُعمل نه کولو په وجه مؤمنانو ته زواجر په ۳ آیتونو کے ذوبے حصه (۱-۵۷) او په ۲ آیتونو کے په آخرکے۔ ټول ۵ زواجر (رټنه) دی۔

(۲) منافق چه وائی یوشه او کوی بل شه۔ چه دے پشان د لستوڼی دمار دے زواجر ذکردی په ۶ آیتونو کے ذوبے او په ۱۷ آیتونو کے ورستو۔ ټول ۲۳ زواجر ذکردی۔ (ټولو نه زیات زواجر منافقینو ته ورکړے کیګی)

(۳) کافر/اهل کتاب۔ صریحه ضدی او عنادی دے کهلم کهلا مخ اړوی دحق نه۔ دهٔ ته زواجر ذکردی په ۱۲ آیتونو کے ذوبے او په ۹ آیتونو کے ورستو۔ ټول ۲۱ زواجر ذکردی۔ (په دویم نمبر زیات زواجر پوهه خلقو/اهل کتابو/عالمانو ته دی)

## (۷) امتیازات دسورة:

| شمار | وجه د امتیاز | شمار | وجه د امتیاز |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | سورة ممتاز دے په بیان د اصولو د معاشرے | ۲۔ | سوزة ممتاز دے په سربراهیی د سړی |
| ۳۔ | سورة ممتاز دے په بیان د تقسیم د میراث د مړی | ۴۔ | سورة ممتاز دے په حکم دحفاظت کولو د مال د یتیم او د بے وقوف |
| ۵۔ | سورة ممتاز دے په ورکولو د مهر خپلو خضوته | ۶۔ | سورة ممتاز دے په بیان د ۱۴ محرماتو چه هغوی سره نکاح نه کیګی آیت ۲۳-۲۴ |
| ۷۔ | سورة ممتاز دے خضوته په ادب ورکولو سره په دریو طریقو آیت ۳۴ | ۸۔ | سورة ممتاز دے په منع کولو د نماز نه په حالت د بے هوشئ ایت ۴۳ |
| ۹۔ | سورة ممتاز دے په بیان د قتلِ خطا او قتل عمد (قصداً) ۹۲-۹۳ او ۵ دفعات په قاتل | ۱۰۔ | سورة ممتاز دے په بیان د صلوٰة سفر آیت ۱۰۱ |
| ۱۱۔ | سورة ممتاز دے په بیان د توبے د منافق آیات ۱۴۵-۱۴۶ | ۱۲۔ | سورة ممتاز دے په تشبیح د وحی د محمدؐ د نوحؑ سره آیت ۱۶۳ |
| ۱۳۔ | سورة ممتاز دے په زجر مومنانو ته په درے وارے چه نکے نارنار ذکر دے ایت ۱۰/۱۴/۳۰ | ۱۴۔ | سورة ممتاز دے په بیان چه یوه خضه یو وخت کے یوه نکاح کولے شی۔ |
| ۱۵۔ | سورة ممتاز دے د تدبیر د کمزورے د شیطان (په مقابله د الله) ایت ۷۶ | ۱۶۔ | سورة ممتاز دے په بیان د تعداد د نکاح سړی د پاره یعنی ۴ په یو وخت سره |
| ۱۷۔ | سورة ممتاز دے په رد دهغو چه وائی چه مونږ عیسیٰؑ قتل کړے دے۔ آیات ۱۵۷-۱۵۸ | ۱۸۔ | سورة ممتاز دے په خاص کولو د ثلو رقسمه خلقو چه الله بهترین کړی دی۔ ایت ۶۹ |

نوم (نساء) : اگر چه سورة کے بیان د کمزورو خلقو لکه یتیمانانو او بے وقو فو هم شته۔ مگر نوم نساء ئے ز که کیخو دو چه معاشره کے په هغے دور کے زیات تر ظلم زنانا وسره کیدو۔ دنبیؐ د دور نه مخکے په ایران کے دوه فلسفے تیرے وے۔ (۱) مزدک (۲) مانی: د مزدک د فلسفے مطابق دنیا کے د فساد اتو ژڼا مال او خضه دے نو دد ے فساد اتو ژ کا وولو د پاره کمیونزم طرز حکومت نافذ کړے شو چه دهغے مطابق په مال او خضه کے هر سړے ددے نه مشترکه فائده اخستے شی۔ خضه د چا ذاتی بی بی نشوه ګنړ لے کیدی۔ دے فلسفے سره انسانی رشتے ختم شوے۔ تقریباً ۳۰ سال بعد مزدک قتل کړے شو۔ او کمیونزم ناکام شو۔ بیا دویم فلسفی مانی راپا سیدو۔ دهغه د فلسفے مطابق دنیا کے د فساد اتو ژڼا مال او خضه وه۔ نو ددے نه نجات حاصلو لو د پاره ئے د رهبانیت فلسفه نافذ کړے شوه۔ مگر ۳۰ یا ۴۰ سال بعد انسانی کے محسوس کړے شو۔ او دا فلسفه هم ناکام شوه۔

بل خوا په عربو کے دا حال وو۔ چه چا ته به دلور زیرے ورکړے شو نحل ۵۸-۵۹ ..... ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا ..... اَیُمْسِکُهٗ عَلٰی هُوْنٍ اَمْ یَدُسُّهٗ فِی التُّرَابِ مخ به ئے تور شو۔ او سوچ کے به وو چه آیا هم دغه د رسوایے ژوند تیر کړمی یا که دے جینئ لره زمکی کے ننا باسی۔ سورة تکویر: واذا الموءودة سُئلت بِاَیِّ ذنبٍ قُتِلت: ترجمه: او شه وخت چه د ژوندے دفن کړے شوے جینئ نه تپوس اوکړے شی چه ته په کومه گناه قتل کړے شوے۔

حضرت ابوسفیانؓ ته نبیؐ اوفرمائیل چه شه واقعه دخپل د جهالت د دور بیان کړه۔ نو فرمائی چه شه کار په سے ډیره موده دکورنه باهر ووم۔ چه کور ته راغلم نو یوه خکلے ماشومه جینئ مه کور کے اولیده.... یو خوا دے خپله واقعه بیانوی۔ او بل خوا د نبیؐ دسترگو مبارکو نه اوخکو دارے وخلے۔ هم دد غے د جهالت د دور خبره ده چه یو وارے صعصع ابن ناجیه په لار روان وو۔ یو سړی خپله لور ژوندے خخوله۔ ده ورته اووے چه دا جینئ به په ثو راکړے۔ هغه ورته وائی چه په دوو اوخانو۔ دهٔ ورته دوه اوخان ورکړل۔ بیا به چه د چا هم لوراو شوه۔ نو دهٔ ته به تلل۔ او دخپلے لور پیشکش به ئے کوو۔ او دا و خانو مطالبه به ئے تر ے کوله۔ چه شه وخت دا صعصع ابن ناجیه وفات کیدو نو ۴۰۰ جینکئ ئے په کور کے ژوندے ساتلے وے۔ یهود چه عالمان د دین به گنړ لے کیدل حیض والا زنانا به ئے دخپله کوره ویستے ...عرض دا چه معاشره کے د زنانا و د پاره هڅ زائے نه وو۔ د دوی حقوق مکمل پایمال وو۔ نو قرانِ کے د زنانا و په نوم سورة نساء راغے۔ چه زنانا و ته ئے د دوی مناسب حقوق ورکړل۔ مگر د زنانه چه د قران نه بے خبره دی نو بهیرے راغستے دی په چوک کے ولاړے مطالبه د مساوی حقوقو کوی۔ دوی خپل حیثیت او مقام اونه پیژندو۔ نبیؐ ته یو صحابی راغے فرمائی چه په ما زیات حق دچا دے نبیؐ ورته درے وارے د مور حق یاد کړو په ثلورم نمبر ئے ورته د پلار حق یاد کړو۔ مگر د نورو اقوامو په نقش قدم مسلمان قوم به همیشه ذلیله او خوار وی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

7

# سورۃ مائدہ مدنی (ترتیباً ۵ بعدازنساء نزولاً ۱۱۲ بعدازالفتح)

## ربط ماسبق سره

| نمبر | نساء | نمبر | مائده |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | سورۃ شروع شوے دوپہ خطاب عام (یاایھا الناس) سره | ۱۔ | داسورۃ شروع شو پہ خطاب خاص (یاایھاالذین ۔ منوا) سره اوخاص روستودعام نہ دی |
| ۲۔ | اصول داصلاح دمعاشرے بیان شو | ۲۔ | دلتہ مسئلہ دحل اوحرمت ده (چہ ثوک دحرامو حلالوخیال نہ ساتی نومعاشره تباه کیگی) |
| ۳۔ | چہ هر کلہ دعوامو او حکامو اصلاح اشوه | ۳۔ | نو دلتہ ردپہ شرک فعلی (نذر دغیرالله) کوی چہ داهم داصلاح دپاره ډیر ضروری دے |
| ۴۔ | رد شرک فی التصرف اوشوپہ باره دعیسیٰ کے ایت ۱۷۱ | ۴۔ | نو دلتہ پہ شروع دسورۃ کے رد شرک فعلی (نذر دغیرالله پہ نوم) کوی |
| ۵۔ | ایت ۳۳۔ والذین عقدت ایمانکم (کہ چا چاسره وعده کړے وی هغه دے برابر کړی) | ۵۔ | پہ شروع دسورۃ کے اوفوا بالعقود |
| ۶۔ | آخر دسورۃ کے ۔ یبین الله لکم ان تضلوا | ۶۔ | نو دے سورۃ کے نور احکامات بیانوی چہ هغه حلال حرام دی |
| ۷۔ | زواجر یهودوتہ ورکړے شو | ۷۔ | ایت ۵۱ او ۵۷ کے دهغوی ددوستئی نہ ئے منع اوکړه |
| ۸۔ | طعام خبیثہ (مال دیتیم) بیان شو | ۸۔ | نو دلتہ بل قسم طعام خبیثہ (نذر دغیرالله) بیانیگی |
| ۹۔ | ۱۷۴ اوویل چہ قران نور دے | ۹۔ | ۱۵۔۱۶ کے فرمائی (ویهدی بہ الله) صرف رنړا نہ بلکہ۔۔۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۱۷۱ لاتقولو ثلاثہ | ۱۰۔ | ایت ۷۳ فتوه دکفرلگوی پہ هغو چہ وائی چہ بل الہ شتہ |
| ۱۱۔ | ۱۱۶/۴۸ کے ان الله لایغفر ان یشرک بہ۔۔۔ | ۱۱۔ | ۷۲ فقد حرم الله علیه الجنۃ (ترقی ده پہ ماسابق) |

## امتیازات دسورۃ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | سورۃ ممتاز دے پہ بیان دمسائلو اربعو (حل/حرمت وغیره) چہ دنورو سورتونہ زیات پہ ترتے دے | ۲۔ | پہ ترک دموالاتو داهل کتابو او ذکر دعلتونو دهغو سره ددوستے |
| ۳۔ | بیان دمائدے پہ نصرناؤ | ۴۔ | بیان دکفارے دقسم ایت ۸۹ |
| ۵۔ | حکم دښکار یانو لکہ ښکاری سپے/مارغہ | ۶۔ | بیان دمذبوحو دزنانو اونکاح اهل کتابو ښځو سره |
| ۷۔ | بیان دهغے واقعے چہ محمدؐ باندے حملہ شوے وه (ایت ۱۱ کے) اوالله بچ کړے وو | ۸۔ | بیان ددوو زامنو آدمؑ هابیل اوقابیل |
| ۹۔ | بیان دحکم دسارق اوسارقے ایت ۳۸ چہ لاس ترے کټ کړے | ۱۰۔ | ایت ۱۱۶ تفصیلی جواب دعیسیٰ الله تہ پہ قیامت کے |
| ۱۱۔ | نفی دعلم غیب دټولو انبیاؤنہ ایت ۱۰۹ | ۱۲۔ | بیان دحکم پہ باره د ډاکو ایت ۳۳ |
| ۱۳۔ | بیان د تفصیل دوسیلے او پہ دے ردکوی | | |

**تقسیم دسورۃ:** سورۃ لس حصے دے

۱۔ ایت ۱-۵ : بیان دهغے مقصدی مسئلوکوی چہ دحل حرمت سره متعلق دی (تحریمات الله/عباد، نذور الله/عباد)

۲۔ ایت ۶-۱۱ : بیان دامورو مصلحاؤ کوی لتثبت (ګلګوالی دپاره)

۳۔ ایت ۱۲-۱۹ : مثال دهغو چہ دالله وعده ئے برابر نہ کړه (یعنی هغوی بیان دحق نہ دے کړے)

۴۔ ایت ۲۰-۲۶ : انجام اوحالت دمتکاسلینو (سستو) پہ اوامرو دالله کے (یعنی هغوی کار دحق نہ دے کړے)

۵۔ ایت ۲۷-۴۰ : دظالم سزا ذکر کوی چہ هغه دالله د رحمت بندوالے دے پہ ده باندے

۶۔ ایت ۴۱-۵۰ : تسلی محمدؐ تہ اوقبائح/خباثتونہ بیانوی داهل کتابو

۷۔ ایت ۵۱-۵۸ : تهدید (زجر) ورکوی مؤمنانو تہ پہ موالاتو (دوستے) داهل کتابو

۸۔ ایت ۵۹-۶۶ : تهدید (زجر) علمائے سوء تہ چہ چپلہ هم مسئلہ نہ بیانوی اودبل مقابلہ هم کوی

۹۔ ایت ۶۷-۸۶ : ترغیب فی التبلیغ اوطریقہ دتبلیغ خائی

۱۰۔ ایت ۸۷-آخر : اعاده دټولو ومقصدی مسئلو (تحریمات الله/عباد نذور الله/عباد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مقصددسورة** :بیان دھغے ثلورومسئلوچہ متعلق دی دحرامو او حلالوسرہ (تحریمات اللہ/عباد نذوراللہ/عباد)

تحریمات اللہ: ھغہ شیزونہ چہ اللہ حرام کڑی دی ددے حلالول گناہ دہ

تحریمات العباد: ھغہ چہ اللہ حلال گرزولی دی مگرانسان پہ زان یا پہ بل حرام گرزولی دی داگناہ دہ

نذوراللہ: ھغہ نذرونہ چہ انسان ئے داللہ پہ نوم اکڑی دقربت الٰہی دپارہ یاشہ کاکولو دپارہ۔داجائزدی۔ددے حرام گنڑل گناہ دہ

نذورالعباد: دغیراللہ پہ نوم نذر/منختے کول۔داگناہ اوکفردے داکول اوددے حلال گنڑل گناہ دہ

**نودا دوہ جائزاودوہ ناجائزدی**

**تائیدادپہ دے ثلورومسئلواوگورہ:**

(۱) **تحریمات اللہ ۳بار** لکہ ایت ۱ : ....غیرمحل الصید وانتم حرم... ایت۹۰ ....انما الخمروالمیسر .... ایت۹۶...وحرم علیکم صیدالبرمادمتم وما....

(۲) **رد د تحرمات العباد ۴بار** لکہ ایت ۱ ...احلت لکم من بحیرۃ الانعام... ایت ۸۷ لاتحرمو.... ایت ۹۶ احل لکم صیدالبر ایت۱۰۳ ماجعل اللہ....

(۳) **نذوراللہ ۳بار** لکہ ایت۲ ...الاالھدیہ ایت۹۷...والھدیہ ولقلائدہ ایت۱۰۰ خبیث (نذوراعباد) طیب (نذوراللہ)

(۴) **رد د نذورالعباد ۴بار** لکہ ایت۳...وما اھل لغیر اللہ بہ ایت۳.... وماذبح علی النصب ایت۹۰ ....ولانصاب ایت۱۰۰ خبیث(نذردغیراللہ)

**نوٹ:**

(۱) تحریمات العباد کے عقیدہ غلط وی مگر شے نہ حرامیگی اونذورالعباد کے عقیدہ ھم غلط وی او شے ھم حرام شو۔

(۲) بعضے شیان ذاتی طور حرام وی لکہ سپے، گیدڑ وغیرہ

(۳) بعضے شیان حلال وی مگر دیوصفت دوجے حرام شی۔لکہ چیلے بغیر حلالیدو مڑشو یادغیراللہ پہ نوم ذبح کڑے شو۔

(۴) بعض اوقات دوجے دیوکارد تعظیم دواجے حلال حرام شی لکہ روژے پہ وجہ حلال خوراک حرام شو۔یا لکہ موزکے وغیرہ

(۵) کلہ کلہ دوجے دعزت دانسان نہ یو شے حرام شی لکہ انسان اشرف المخلوقات دے نو دے بہ پہ ناستہ خواک کوی پہ ولاڑہ خوراک زناورکوی

(۶) بعض اوقات یو حلال کار حرام شی دتعظیم دزائے/مقام دوجے لکہ بیت اللہ شریف کے ششے وژل یاشاخ ماتول

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورة انعام (مکی ٦ بعدازمائده ۵۵ بعدازحجر)

ربط ماسبق سره

| شمار | سورة مائده | شمار | سورة انعام |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۔ | رد د شرک فعلی | ۱۔ | رد د شرک فعلی اواعتقادی کیگی په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۲۔ | نفی دعلم غیب اوشوه د انبیاؤنه په ایت ۱۰۹ کے | ۲۔ | ایت ۵۰ کے د نبیؑ نه خصوصاً نفی دعلم غیب کوی چه اے پیغمبره چله ورته اووایه چه زهٔ عالم الغیب نه یم |
| ۳۔ | ایضاً | ۳۔ | ایت ۵۹ کے خلاصه راوباسی (وعنده مفاتحة الغیب) |
| ۴۔ | آخرد سورة کے دعوه دتوحید (ولله ملک السمٰوٰة والارض۔۔۔) | ۴۔ | نو په دے سورة کے په دغه دعوه دلائیل عقلیه او نقلیه ذکرکوی |
| ۵۔ | ولله ملک السمٰوٰت والارض هرشه دالله دی بل ثوک متصرف نشته | ۵۔ | نو دلته سرکے الحمدلله |
| ٦۔ | د خوانچے ذکراوشو دنصاراؤ دپاره | ٦۔ | نو دلته خلاصه ذکرکوی په ایت ۱۴ کے چه ټولو ته خوراک ورکوی صرف نصاراؤ ته نه |
| ۷۔ | ایت ۱۰۳ کے رد اوشودانعام محرماؤ چه خلقو په زان حرام کړے وو۔ | ۷۔ | ایت ۱۴۳ کے بیان کوی دانعام محللاؤ |
| ۸۔ | عاجزی بیان شوے وه دعیسیٰؑ په اخرد سورة کے (ایت ۱۱۷ کے) | ۸۔ | نو دلته دنورومقربینو انبیاؤ عاجزی بیانیگی |
| ۹۔ | رددتحریمات العباداوسوچه مشرکانو به دزانه په زان بندکوو۔ | ۹۔ | ۱۴۰ ایت کے دیوبل قسم تحریمات العبادذکرکیگی چه هغه د زناوردخیلے دننه بچے دے |
| ۱۰۔ | ایت ۱۱۰ کے عیسیٰؑ ته جادوگرویلے وو | ۱۰۔ | ایت ۷ کے قران ته جادووائی نو په دے وجه ئے متصل راوړو |

## امتیازات دسورة

۱۔ سورة ممتازوے په تفصیلی رد دشرک ۲۔ په کثرت د دلائیلوعقلیاؤ (تقریباً ۲۵ دلائیل دی) ۳۔ په بیان دعقبات سته

۴۔ په کثرت داعتراضونواوجوابونو (۲۳ اعتراضات په قال قالوا او یقولون سره ذکرکوی اوجوابونه قل قل سره مطلب دا چه د نبیؐ دنبوت عمر ۲۳ سال وواوټول عمرے ٦۳ سال وو یعنی ټول عمر به په تااعتراضونه کیگی اوته به جوابونه کوے

۵۔ د ثلورو واړو اقسامو مشرکانو رددے پکے (۱۔مشرکین بالعبادالصالحین ۲۔بالکواکب ۳۔بالملٰئکه ۴۔بالجن)

٦۔ سورة ممتازدے په نزول دټول سورة په یوزلے چه دومره لوے سورة بل په یووارے نه دے نازل شوے

۷۔ نزول دکثرت دملٰئکو ددے سورة په تعظیم کے چه ۷۰ هزارفرشتے دے سره نازل شوے وے

۸۔ بیان دتقریردابراهیمؑ چه ډیرسخت تقریر یے کړے وودخپل قوم اوخاندان ته چه ۷ زله یے هغوی ته گمراه ویلے دی ایت نمبر ۷۴ نه.....

۹۔ بیان دمثالونودمشرکانو لکه ایت ۷۱ اوگوره ۱۰۔ زیات زواجرمشرکانو ته

**مقصد دسورة** رددشرک مکمل (۱)اعتقادی (۲) فعلی شرک شه دے۔ (۱) دالله صفت مخلوق ته ورکول (۲) یا دمخلوق صفت الله ته ورکول

**تقسیم دسورة** په اعتباد دمضامینو په دوو حصوکے دے

(۱) ایت ۱۱۷ پورے ړومبے حصه ده چه رددشرک اعتقاده مکمل کوی (۱۔شرک فی العلم ۲۔شرک فی التصرف ۳۔شرک فی الدعا ۴۔شرک فی العبادت)

(۲) ایت ۱۱۸ نه آخرد سورة پورے رددشرک فعلی (تحریمات الله تحریمات العباد نذورالله نذورالعباد)

نفی دشرک فی العلم اوگورے په آیت ۳، ۵۰، ۵۹، ۷۳ آخری سر، ۸۰،

نفی دشرک فی التصرف اوگوره په آیت ۳ کے (وهوالله فی السمٰوٰت ولارض) ۱۳، ۱۴، ۱۷، ۴٦، ۵۸، ٦۲

نفی دشرک فی الدعاء اوگوره په آیت ۴۰۔۴۱ کے ٦۳، ۷۱

نفی دشرک فی العبادت اوگوره په آیت ۵٦، ۱۰۲، ۱٦۲، ۱٦۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه رنگ دعوه دتوحید پرے بیابیا تفریح کولے شی تقریباً لس زله آیت ۱، ۱۷، ۱۹، ۴۵، ۱۰۰، ۱۰۲، ۱۰۶، ۱۵۱، ۱۶۲، ۱۶۳ کے۔ ددے آیتونو داټول خصوصی کلمات رایوزائے کړه او داسے یے اووایه

**الحمدلله- وان یمسسک الله بضر فلا کاشف له الا هو -قل انما هو اله واحد - والحمد لله رب العالمین -سبحنه وتعالٰی عما یصفون - لا اله الا هو - لا اله الا هو - ان لا تشرکوا به شیئا**

**قل ان صلاتی ونسکی ومحیای ومماتی لله رب العالمین - لاشریک له وبذالک امرت وانا اول المسلمین**

داسے ئے وایه تسبیح او تاویز ترے جوړ کړه او چه کله څه تکلیف، بیماری، یره وغیره دربان دے راځی نو داوایه دا مکمل علاج دے۔

په دے مسئله دتوحید دلائیل هم ذکر کوی په کثرت سره لکه آیت نمبر ا کے خلق السمٰوٰت والارض آیت ۲ کے هوالذی خلقکم من طین، ۳ کے فی السمٰوات والارض، ۱۲، ۱۳، ۱۴ (فاطر السمٰوات والارض....)، ۱۸، ۳۸، ۴۰، ۴۶، ۴۷، ۵۹، ۶۰، ۶۳، ۶۵، ۷۳، داتقریباً ۱۷ دلائیل عقلیه ذکر شو په دعوه دتوحید باندے

نو دے پسے د ۱۷ انبیاؤ نه دلائیل نقلیه ذکر کوی په دعوه دتوحید باندے نو دے دلائیلو نقلیه پسے اتلسم عقلی دلیل په آیت ۹۵ کے بل په ۸۶ کے، ۹۷، ۹۸، ۹۹، ۱۰۱، ۱۴۱، ۱۴۲، داټول ۲۵ عقلی دلائیل په سورة انعام کے ذکر کوی په دعوه دتوحید باندے او دعوه دتوحید وه الحمدلله په شروع دسورة کے۔

دارنګے په دے دعوه دتوحید دمشرکانو اعتراضونه هم په کثرت سره دی چه تقریباً ۲۳ دی او ۶۳ جوابونه لکه اوګوره آیت ۷، ۸، ۲۳ (قالوا) ۲۵ (یقول الذین) ۲۹ (وقالوا) ۳۷ (دوه وارے) ۵۳، ۲۳ اعتراضات دی به دے سورة کے او ۶۳ جوابونه مطلب دا چه ټول عمر به په تا اعتراضونه کیګی او جوابونه به ورکوے۔

**عاقبات ستہ:** په دے سورة انعام کے عقبات سته (شپګ غنډے/ ډیرے) دی چه بیان دامتحانا تو کوی په حق پرست مبلغ باندے او داهره عقبه په لفظ کذالک سره شروع کیګی ددے بیان په اصولو کے په نهم نمبرد عنوان - رموز قران - لاندے شوے وو۔ دلته یو نظر پرے بیا واچوے

عقبه ا: انعام ۵۳ وائی به چه والے دا قران یوازے تاله درزی دانور ملیان نه پوهیګی ....جواب الیس الله باعلم الشکرین: زهٔ دالله شکر ګزار یمه چه په مائے بیانوی...

عقبه ۲: بیا به دامنافقان راشی تا ته به وائی چه داولیائے کرامو عاجزی بار بار مه بیانوه ددے نه داوړه نو انعام ۵۵ :**وکذالک نفصل الایٰت ولتستبین سبیل المجرمین**، دوی به خاموش شی

عقبه ۳: شه وخت پس به بیا راشی تا ته به تپوس کوی چه: انعام ۱۰۵ دامسئله تا دکوم استاد نه زده کړے ده نو په دے مقام به ورته سمدستی دځپل استاد نوم نه اخلے ورنه کنزل به ورته اکړی۔ ورته وایه۔ چه قران نه مه زده کړے ده۔ دزان نه نه وایم اونه زما استاد دزانه مسئله کوی جواب انعام ۱۰۶ کے او ګوره اتبع ما اوحی الیک من ربک لا اله الا الله...

عقبه ۴: بخکے عقبے اسانے وے اوس لګے زیاتے مشکلے شوے اوس به خلق راجمع کوی ستا خلاف به مشورے کوی چه قتل یے جائز دے۔ چه دلارے نه یو اړخ ته شی۔ او ده په مرګ کے دسلو شهیدانو ثواب دے۔ نو انعام ۱۱۲ الله به تا ساتی ...**فذرهم**...ته ځپل بیان جاری ساته۔

عقبه ۵: انعام ۱۲۳ (چه څپله هڅ اونه کړے شی نور پورټو نه به کوی) نو الله فرمائی چه **وکذالک جعلنا فی کل قریة اکٰبر مجرمیها لیمکروا فیها....**

عقبه ۶: انعام ۱۲۹: دبل کلی بدمعاشانو سره به ئے یارانه شی او یو اتحادی لیګ به جوړ کړی لکه امریکه مګر ددوی دا اتحاد ستا د پاره دایمان مضبوطولو سبب به وی که ته الله لره قران بیانوے

شیخ صاحب فرمائی چه ما دځپل استاد نه داسورة انعام چه کله وئیلو نو چه طالبان به کله ستړے شول نو هغه به پوهشو نو مونګ ته به یے اوے چه لاړ شے چکر اولګوے بیا راځے۔ هغه به دځپل ځایه نه نه پاسید و بلکه ناست به وو کله کله به یے په ناسته ستر ګے ور غلے۔ یو وارے زهٔ دټولو طالبانو نه ړومبے راواپس شوم ګورم چه دا استاد ستر ګے بندی چه ستر ګے او غړ ولے نو ماته وائی چه ورشه او بهٔ راوړه چه وضوا کړم۔ ما او بهٔ راوړے ماته فرمائی چه خوب مه اولیده چه قیامت دے ټول خلق هیبت کے دی زهٔ هم هیبت کے یم۔ نو ما تا اواز او شو چه حسین علی ته ولے په هیبت کے یے۔ تا خو سورة انعام په صحیح طریقے او معنو سره و یلے دے او چا چه په صحیح معنو سره داسورة اووے نو هغه باندے په قیامت کے هیبت به نه وی۔

شیخ صاحب به وئیل چه دا دلاکړے کاتړے سورة دے یا به دشرک نه مکمل پاکوی او یا به دے درس نه تختوی (دیو ملیزی ۱۲ بجی وو چا ترے تپوس اکړو چه سوزا من ددی....)

ددے زائے نه دقرآن دویمه حصه شروع ده مخلے ددے تفصیل شوے دے مګر بیا ..........

که تا نه ثوک تپوس اکړی چه قران ثو مره وخت کے وئیلے شے وایه چه یو منټ کے۔ داشنګه ممکن دی داسے ممکن دی۔۔۔۔قران په اعتبار فهم په ثلورو حصو کے تقسیم دے........

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة انفال (مدنی نزولاً ۸۸ بعداز بقره ترتیباً ۸ بعداز اعراف)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة اعراف | شمار | سورة انفال |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | سورة انعام کے مسئله دتوحید ثابته شوه په دلائیلو عقلیا و سره او په اعراف کے نقلیا و سره | ۱۔ | نو دلته حکم دقتال دے مطلب دا چه په دلائیلو سره او نه شوه نو اوس ورسره جهاد او کړه تو ره ور پسے راواخله زکه چه بغیر د جهاد نه نه کیگی نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | مخکے سورتونو کے مقابله د جبے وه. | ۲۔ | نو دے سورة کے مقابله دتورے ده۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | ایت ۷۲ کے ذکر وو چه د پخوانو کفارو مُنډ م او ویستو | ۳۔ | ایت ۷ کے د دے امت دکفارو مُنډ ویستو حکم دے نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۴۔ | ایت ۹۵ کے د پخوانو امتونو دهلاکت بیان وو ورستو د مالدارے نه | ۴۔ | نو په دے سورة ایت ۲۸ کے زجر ورکوی مئومنانو ته په مینه د مال باندے |
| ۵۔ | ایت ۲۰۵ کے ذکر وو چه الله په عاجزے سره یاد کړے۔ . | ۵۔ | ایت ۲ کے د مومنانو نخه خائی چه کله الله یاد کړے شی نو د ه باندے یره راشی او عاجزی کوی الله ته |
| ۶۔ | بیان دامداد وو موسیٰ سره د طرف د الله نه وخت په وخت (په ۵ مرحلو کے د هغے ذکر او شو) | ۶۔ | ایت ۹ کے نبیؐ سره دامداد بیان دے نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۷۔ | ایت ۱۹۹ کے وو چه وَأْمُرْ بِالْعُرْف | ۷۔ | هغه درے اوامر دلته د دے سورة کے ایت نمبرا کے ذکر دی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۸۔ | واقعات وو د پخوانو امتونو او انبیاؤ | ۸۔ | نو په دے سورة کے د نبیؐ واقعات بیانوی نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۹۔ | ایت ۱۶۸ کے افتراق د بنی اسرائیلو بیان شو چه جدا جدا شوے وو۔ | ۹۔ | نو په شروع د دے سورة کے وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ (یو بل سره یو زائے شے) |
| ۱۰۔ | ایت ۲۰۴ کے حکم په اوریدو دقران وو | ۱۰۔ | نو دلته ایت ۲ کے د ایمان والا و بیان دے چه کله قران اوری نو ریگی او ایمان ئے زیاتیگی |

## امتیازات دسورة

| شمار | | شمار | |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | سورة ممتاز دے په او امر و ثلثا و باندے په اول د سورة کے ایت ۱ | ۲۔ | سورة ممتاز دے په اوصافِ خمسه د مومنانو باندے ایت ۲۔۳ |
| ۳۔ | سورة ممتاز دے په هغے وعدے چه الله کړے وه ایت ۷ کے إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ.... | ۴۔ | سورة ممتاز دے په بیان دقواعد و د میدان د جهاد۔ ۶ قاعدے د میدان د جهاد او او و مه قاعده ورستو د جهاد نه |
| ۵ | سورة ممتاز دے په بیان د فریب/ چل د قتل د نبیؐ ایت ۳۰ | ۶۔ | سورة ممتاز دے په دوو امنو د نبیؐ د زمانے ایت ۳۳ (ذات د رسول+استغفار) |
| ۷۔ | سورة ممتاز دے په بیان د مونز د مشرکانو ایت ۳۵ | ۸۔ | سورة ممتاز دے په تقسیم د غنیمتونو ایت ۴۱ |
| ۹۔ | سورة ممتاز دے په خوب د نبیؐ چه الله ورته کافران کم خکاره کړل ایت ۴۳ | ۱۰۔ | سورة ممتاز دے په بیان د تقریر د نبیؐ ایت ۳۰ |

**مقصد دسورة:** **القتال فی سبیل الله تعالیٰ** (د دے سورة بل نوم سورة القتال هم دے) یعنی د یکے د جهاد نه علاوه بله خبره نشته

**مختصر خلاصه دسورة :**

(۱) په اول کے درے اوامر ذکر کوی ایت ۱ کے (۱) اتقوا الله جهاد کے به صرف د الله نه یره کوے بل چا نه نه۔ (۲) وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ یعنی چل ملگری به نه وجنے۔ (۳) وَأَطِيعُوا اللهَ وَالرَّسُولَ

(۲) بیان د پنزو اوصافو د مومنانو ذکر کوی ایت ۲+۳ کے انما المومنون الذین.... (۱) وجلت قلوبهم (۲) زادتهم ایمانا (خکاره کوی اثر د ایمان) (۳) وعلیٰ ربهم یتوکلون (۴) یقیمون الصلوة (۵) انفاق فی سبیل الله تعالیٰ

(۳) د دے نه ورستو واقعه د جنگ بدر ذکر کوی بطور تمهید یعنی مجاهدینو ته تسلی ورکوی چه که لگ هم یئ نو د مقابل نه مه یریگئ او گوره جنگ بدر کے لگ وے مافتح در کړه ایت ۵ نه تر ۱۴ پورے د ا بیان دے

(۴) ایت ۱۵ نه شپگ قاعدے د میدان جهاد ذکر کوی او هره یوه قاعده په یا ایها الذین امنوا سره ذکر کولے شی۔

قاعده نمبرا: ایت ۱۵ فلا تولوهم الادبار دا قاعده یے لگولے ده د مومنانو هغے پنزو صفاتو کے ړومبی صفت سره چه د الله نه یریگی نو د مخلوق نه به نه یریگے جهاد کے به کافر ته شا کوے نه۔

قاعده نمبر۲: ایت ۲۰: میدان د جهاد کے د قران او سنتو تابع به یے۔ دا یے تفریح کړله په دویم صفت د مومنانو چه هغه وو زادتهم ایمانا (د تفریح مطلب نتیجه د یو عمل یا عقیدے ده)

قاعده نمبر۳: ایت ۲۴: استجیبوا لله والرسول....دا تفریح کیگی په دریم صفت د مومنانو۔ وعلیٰ ربهم یتوکلون۔ چه امیر در ته حکم او کړی چه هغے محاذ ته ورزه نو دا منه دا یه چه مونگ کم یو یا اسلحه نشته

قاعده نمبر۴: ایت ۲۷: لا تخونوا الله والرسول... دا تفریح ده په څلورم صفت د مومنانو اقیم الصلوة چه مونز کوے صحیح نو خیانت به نه کوے او صحیح مونز مونگ ته قران خائی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاعده نمبر۵: ایت۲۹: إن تتقوا اللّٰہ یجعل لکم فرقانا... که دالله نه ویریږئ نو الله به بَرے درکړی په میدان د جهاد کے۔ دا ئے تفریح کړو په پنځم صفت د مومنانو چه انفاق دے۔ که انفاق کوے نو الله به فتح او غنیمتونه ډیر درکړی

قاعده نمبر۶ ایت ۴۵:...اذا لقیتم فئة فاثبتوا دا شپګمه قاعده ده چه په جنګ کښے ۵ واړه قاعدو تفریح کړله چه په دغے قاعدو کلک شه هرے قاعدے سره فاثبتوا اولګوه دا سے حکمت والا کتاب به بل چرته وی۔

قاعده نمبر۷ ایت۶۰: دقید یا نو تفصیل بیانوی چه ترغیب د ایمان ورکړه۔ دا سے یے نه دے ویلے چه رعب دباؤ پرے واچوه او سخت سخت جیلونو کے واچوه۔ دا سے بل دین به چرته وی۔ چه کافر د پاره یکے هم امن دے۔

## دشروع نه ربط

(۱) سورة بقره کے هم د جهاد بیان دے۔ ایت ۱۷۷ کے د مجاهد ټرینګ دے ۵ د عقیدے سره او ۵ د عمل سره متعلق۔ بیا د مجاهد د ملک د اصلاح د پاره ۴ قوانین ذکر کړل (۱) قصاص من الظالم (۲) تقسیم الاموال بالقانون شرعی (۳) حکم الصوم لارتباع النفس (۴) نهی عن الرتشی او دغسے د مجاهد د کور د پاره یے ۱۸ قوانین ذکر کړل۔

بقره ۲۴۷ کے د امیر شرائط هم ذکر دی (۱) اصطفه ربه (غوره کړے شوے) (۲) علم د میدان جنګ او علم د قاعدو د جنګ (۳) د جسم: حوصله

(۲) نو ال عمران کے د تنظیم جوړولو د پاره ۵ قوانین ذکر کړل ځکه چه جهاد هله کیدے شی چه تنظیم وی د مسلمانانو قاعده (۱) ایت ۱۰۲ کے چه عقیده ډیر لوبه یوه وی (۲) ایت ۱۰۳ قانون به موقران و سنت وی (۳) ایت ۱۰۴ ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر (۴) ایت ۱۱۵ خپل مال به لګوے (۵) ایت ۱۱۸ غیر راز دار سره به راز نه ساتے او په دے پنځے قاعدے باندے دوا واقعات ذکر کوی د جنګ بدر او د جنګ احد...... دا مه وایه چه مسئله نرمه کوه چه خلق ډیریږی۔ نه فتح په کثرت ده او نه شکست په قلت دے۔

(۳) نو سورة نساء کے د معاشرے د اصلاح د پاره قوانین دی۔ د عوامو نه ۱۸ قوانین او د امیر او معمور میتز کے ۸ یا ۹ قوانین دی۔ او بیان د دریو ډلو دوه مطلب دا چه د مومنو ډلے سره ملګرے شه او زان اُساته د منافقو او کفارو دواړو نه۔

(۴) سورة مائده کے د حل او حرمت مسئله ده۔ مطلب دا چه جهاد هغه ټوک کولے شی چه په مسئله د حل حرمت یے ایمان او عمل دواړه وی۔

(۵) سورة انعام کے د شرک اقسام دی او د میدان تبلیغ ۶ قاعدے/غنډے ذکر دے د پاره د توحید

(۶) سورة اعراف کے په دغے مسئله د توحید دلائل نقلیه دی

(۷) سورة انفال: اوس میدان جهاد ته راشه۔ جهاد او کړه هغو سره چه د جنګ مسئلے نه مخ اړوی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة توبه (مدنی نزولاً ۱۱۳بعداز مائده ترتیباً ۹بعدازانفال)

ربط ماسبق سره

| شمار | سورة انفال | شمار | سورة توبه |
|---|---|---|---|
| ا۔ | قاعدے ذکروے دمیدان دجهاد | ا۔ | نودلته اعلان دجهاددے نو به دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | ایت۶۰ کے لاتعلمونهم (رسول اواصحابه ټول دادشمنان نه پیژنی) | ۲۔ | ایت ۱۰۱ کے لاتعلمهم (اے رسوله ته ئے نه پیژنے) مفردصیغه |
| ۳۔ | قاعدے دمیدان جهادذکروے | ۳۔ | نودلته هغه فرقے بیانوی چه هغوی سره به جهادکوے۔ |
| ۴۔ | ایت ۴۱ کے تقسیم دغنیمتونو وو | ۴۔ | نه دلته ایت۶۰ کے تقسیم دفرضی صدقاتو دے یعنی ۸مصارف خائی |
| ۵۔ | ایت۵۸ کے وائی چه که ددے کافرو دے لوظو نه یریگئے نه معاهده واپس کړے۔ اوجهاد ورسره اوکړے۔ | ۵۔ | ایت ۷ کے وائی چه د مشرکانو به شه لوظ وی۔ نو به دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۶۔ | په سردسورة کے اووے چه فاصلحوذات بینکم (جپلو کے یوزائے شے) | ۶۔ | نو په سر ددے سورة کے وائی چه برآت من الله (غیر دسره بائی کاټ اوکړے) |
| ۷۔ | ایت۶۰ کے اووے واعدو لهم مااستطعتم تیارے اوکړے۔ | ۷۔ | ایت ۴۶ کے زجر هغو ته چه تیارے نه کوی۔ |
| ۸۔ | اوصاف دمومنانو ذکروو په شروع دسورة کے هم او په اخر دسورة کے هم | ۸۔ | اوصاف دمنافقانو بیانوی۔ نو به دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۹۔ | واقعه دجنگ بدرذکروه۔ | ۹۔ | نودلته واقعه دجنگ حنین اوجنگ تبوک ذکرده |
| ۱۰۔ | ایت۳۵ کے دمشرکانو مونز بےفائدے دے۔ | ۱۰۔ | ایت ۱۸ کے وائی چه عبادات یے بےفائدے دی نومسجد شله جوړ وی۔ |
| ۱۱۔ | قاعدے دمیدان جهادذکروے شپگ | ۱۱۔ | صفات دمنافقانو چه دوی چرته هم په دے قاعدو عمل نه کوی |

**نومونه دسورة:** دسورة گنړ نومونه دی: لکه ۱) سورة توبه: دشه مسلمانانو نه شه غلطی شوے وه نو دهغوی دتوبے ذکر دے پکے۔

۲) سورة برآءت: چه اعلان دبائی کاټ دے مشرکانو سره

۳) سورة مُبَاثره: اوچتونکے: دمشرکانو نه ی ءدوړے اوچتے کړے دے

۴) مُشَرِده: شړول : منافقان اومشرکان ئے شړولے دی

۵) خافره: کنستونکے: د منافقانو ۶۳ گندونه ئے راکنستے دی۔ (داسے نورے هم ډیر نومونه ددے سورة دی۔)

**امتیازات دسورة:**

| شمار | | شمار | |
|---|---|---|---|
| ا۔ | سورة ممتاز دے په بیان دفرقِ اربعاو (چه کوم سره به جهادکوے) | ۲۔ | سورة ممتاز دے په بیان د تقسیم دمشرکان چه کوم تاسره جنگ کوی |
| ۳۔ | سورة ممتاز دے په تفصیلی بیان داوصافو دمنافقینو چه ۶۳ صفات دی | ۴۔ | سورة ممتاز دے په بیان دحکم دمشرکانو دمسجد جوړولو چه نه دے جوړ وی۔ ایت ۱۸ |
| ۵۔ | سورة ممتاز دے په بیان دغزوه حنین اوتبوک | ۶۔ | سورة ممتاز دے په ایت ۳۱ چه خپل پیران اومولیان به په خدائے توب سره نه نیسے |
| ۷۔ | سورة ممتاز دے په بیان دغارثور ایت۴۰ | ۸۔ | سورة ممتاز دے په بیان دمصارفو دفرضی صدقاتو ایت۶۰ |
| ۹۔ | سورة ممتاز دے په بیان مسجد ضرار . | ۱۰۔ | سورة ممتاز دے په دے چه سر کے بسم الله نشته |
| ۱۱۔ | سورة ممتاز دے په بیان دخیراتونو دمشرکانو ایت۱۹ | ۱۲۔ | سورة ممتاز دے په بیان دجنازے نه کولو دمنافقو ایت ۸۴ |

## مقصد دسورة: القتال فی سبیل الله تعالیٰ او بیان دفرق اربعاو

مشتئ مینیرتج

(۱)مشرکان (ددوی بیادرے اقسام دی: یو معاهدین: چه ستاورسره معاهده شوے ده۔ بل مخالفین: چه تاسره جنگ کوی دریم: متاممنین چه تاته امن غواړی)

(۲)اهل کتاب (دا دوه قسمه دی یو یهودیان بل نصٰرٰی/عیسیان

(۳)منافقان (دا ټول یو قسم دی) (۴)مومنان (ددوی درے اقسام دی ورته به بیان شی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تقسیم دسورة:** سورة ثلور حصو کے تقسیم دے:

(۱) ایت ۱-۲۸ پورے : پہ دیکے بیان دمشر کانو دے او ددوی درے واڑہ اقسام ذکر کولے شی۔ اوددوی سرہ دجهاد کولو وجوہات خائی۔

(۲) ایت ۲۹-۳۷ پورے: پہ دے حصہ کے بیان داهل کتابو دے۔ یعنی یهود او نطرٰی دهغوی پلیتیے ذکرکوی اوهغوی سرہ دجهاد وجویات ذکرکوی۔

(۳) ایت ۳۸-۹۰ پورے: پہ دے حصہ کے منافقان بیانوی۔ پہ دوی کے اقسام نشتہ بلکہ ټول یوقسم دی۔ نو ددوی ۶۳ صفات دلتہ بیانوی۔ (دنبی ؐ عمرهم ۶۳ سال وو۔ اشارہ دہ یکے دیتہٗ چہ ټول عمربہ دے منافقانو باندے ردکوے۔)

(۴) ایت ۹۱-آخر دسورة پورے: پہ دے حصہ کے مومنان بیانوی۔ او ددوی درے اقسام: ۱) **مجاهدین:** چہ هروخت جهادلرہ تیار وی

۲) م**تکاسلین** داهم مجاهد دی مگر کلہ کلہ دستیے نہ کار اخلی۔ لکہ دلتہ چہ زنی ملگری لیٹ رازی۔

۳) **معذورین:** کلک دی مگر کلہ کلہ دشہ عذر دوجے عمل اونہ کڑے شی۔

## وجہ چہ پہ شروع دسورة کے بسم اللہ و لے نشتہ:

(۱) حضرت عثمان ؓ نہ حضرت ابن عباس ؓ تپوس اوکړو چہ تا ددے سورة سر کے بسم اللہ ولے نہ دہ لیکلے۔ جواب ورکوی چہ وجہ دا وہ چہ نبی ؐ باندے بہ چہ کلہ ایتونہ نازلیدل۔ نو ما بہ دغہ ایتونہ لیکل۔ او ماتہ بہ ئے ویل چہ دا ایت دے دے سورة کے دلتہ دلتہ اولگوہ۔ اودا سورة دے سورة پسے اولگوہ۔ نو کلہ بہ چہ نوے سورة راغے نو نبی ؐ بہ دهغے سورة پہ شروع کے بسم اللہ ویلہ۔ مگر دلتہ ئے نہ دہ ویلے نو ماهم اونہ لیکو۔

(۲) بلہ وجہ چہ حضرت علی ؓ خائی۔ فرمائی چہ بسم اللہ چونکہ امان دے او پہ دے سورة کے خوامان نشتہ کافرولرہ (راوینسہ ویتړہ سټ ترے اوخہ قتل یے کړہ)

(۳) بعضو صحاباو ددے وجہ داخولے دہ چہ سورةِ انفال اوتوبہ یو سورة دے۔ پہ دے وجہ بسم اللہ نشتہ ددے شروع کے۔

☆ آیا بسم اللہ دقران ایت دے یانہ دے نو سورةِ نمل کے بہ راشی چہ دا دقران ایت دے۔

☆ آیا دا بسم اللہ دهر سورة جز دے نو امام ابوحنیفہ ؒ فرمائی چہ نہ دے نو دا مخے تہ ولے راوړے دے۔ دا د پارہ دبرکت۔ اود پارہ دجدائے دیو سورة دبل سورة نہ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة یونس مکی (نزول: بعداز بنی اسرائیل ترتیباً ۱۰ بعداز توبه)

**ربط ماسبق سره:**

| شمار | سورة توبه | شمار | سورة یونس |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | هرکله چه په آخر دسورة کے ایت ۱۲۸ کے صداقت د رسولؐ اوشو۔ | ۱ | نو په دے سورة کے دغه اثبات د رسولؐ بار بار (تقریباً ۷ وارے) کیگی |
| ۲۔ | په آخر دسورة کے مسئله د توحید ذکر شوه په لا إله الا هو سره | ۲۔ | نو دلته انجام ذکر کوی د منکرینو/مخالفینو د دغے مسئلے د توحید۔ |
| ۳۔ | هرکله چه مخکے سورة کے بیان اوشو د جهاد بالسیف (تورے سره جهاد کول) | ۳۔ | نو دے سورة کے بیان کیگی د جهاد باللسان چه هغه بیان د اصول ار بعاو دے۔ |
| ۴۔ | مخکے سورة کے مسئله د قتال ذکر شوه۔ | ۴۔ | نو دلته هغه مسئله ذکر کوی چه کومے لره به جهاد کوے (یعنی توحید) |
| ۵۔ | هرکله چه په آخر دسورة کے ذکر شوه د توحید مگر بغیر د دلائیلو | ۵۔ | نو په دے سورة کے په دغے مسئله دلائیل پیش کوی نو په دے وجه ئے متصل راوڑو۔ |
| ۶۔ | دعوه د توحید ذکه وه په آخر د سورة کے | ۶۔ | نو په دے سورة کے به دغے دعوه د توحید شبهه د مشرکانو ذکر کوی به ایت ۱۸ کے |
| ۷۔ | آخری ایت کے (قل حسبی الله) زما د پاره الله کافی دے | ۷۔ | نو دلته مثالات د دغے چه اوگوره نوحؑ، موسیٰؑ او نورتول پیغمبرانو لره الله کافی وو۔۱۰۳ |
| ۸۔ | ایت ۴۲ کے اووے چه منافقان دروغجن دی۔ | ۸۔ | نو دلته ایت ۱۷/۶۹ کے ذکر د رختنو خلقو کوی او د هغوی درجے ذکر کوی۔ |
| ۹۔ | دلته بیان د فرق ار بعاو وو چه درے ډلے یکے مخالفین د قران وے۔ | ۹۔ | نو دلته ترغیب الی القران کوی او زجر ورکوی منکرینو د قران ته۔ |
| ۱۰۔ | دلته د آخری رسولؐ د امت د توبے بیان وو۔ | ۱۰۔ | نو دلته د یونسؑ د قوم د توبے بیان دے۔ |
| ۱۱۔ | بیان د برآءت د مشرکانو نه اشو | ۱۱۔ | نو دلته ایت ۱۴+۱۰۴ کے په نور و الفاظو سره بیان د بائی کاٹ کوی۔ |
| ۱۲۔ | ایت ۱۹۹ کے اووے کونو مع الصادقین۔ | ۱۲۔ | نو دلته ایت ۲ کے وائی چه رختنو سره ملگرے شوے نو (ان لهم قدم صدق) دنیا او آخرت به دے د دواړه خه شی۔ |

**امتیازات دسورة::**

| شمار | | شمار | |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | سورة ممتاز دے به بیان د هغے مشهورے شبهے د مشرکانو چه د ابا گان الله مقرر کړے دی۔۱۸ | ۲۔ | په بیان د دلائیل عقلیا و مع تفریعات (مخکے دلائیل ذکر کړی نو بیا پرے مسئله د توحید تفریع کړی) |
| ۳۔ | ممتاز دے به بیان د توبے د قوم یونسؑ | ۴۔ | په بیان د مقاصد و ار بعاو (نور و کے هم شته مگر دے سورة کے په بیل شان دی) |
| ۵۔ | ممتاز دے۔ په توبے د فرعون چه قبوله نشوه په وخت د عذاب کے ایت ۹۰ | ۶۔ | په بیان د بد دعائے چه موسیٰؑ فرعون او د هغه قوم ته کړے وه ایت ۸۸ |
| ۷۔ | سورة ممتاز دے په بیان د اولیاؤ د تعریف او د هغوی د رجو او کراماتو ایت ۶۲-۶۳ | ۸۔ | سورة ممتاز دے په چیلنج د حضرت نوحؑ چه خپل قوم ته ئے ورکړے وو۔ چه راوزے میدان ته۔ |
| ۹۔ | سورة ممتاز دے به بیان د هغے خلقو چه وائی چه قران پریدے او بل کتاب راواخلے ایت ۱۵ | ۱۰۔ | سورة ممتاز دے په [illegible] |

[illegible]

**مقصد دسورة:** اثبات د مقاصد ار بعاو مراراً (یعنی بار بار) او انجام د منکرینو د دے مسئلے نه

**تقسیم دسورة:** دوه حصے دے: ۱) ایت ۱--۷۰ پورے: اثبات د مقاصد ار بعاو کوی بار بار په دلائیلو سره او دفع د شبهے کوی د مشرکانو

۲) ایت ۷۱-آخر دسورة پورے: درے واقعات بیانوی بطور تفریع/نتیجه په انکار د دغے مخکے مسئلے نه چه کومه ړومبے حصه کے تیره شوه۔ چه چا او نه منله نو انجام به ئے په شان د قوم نوح او قوم فرعون شی او که چا او منله نو انجام به یے د قوم یونس شی۔ چه الله ترے عذاب دفع کړو۔

په مقاصد ار بعاو کے ړومبے اگرچه ړومے مقصد توحید دے مگر دلته ئے قران مخکے کړے دے۔ داولے؟ ز که چه قران ته نه یے راغلے نو نه توحید پیژندے شے نه رسول نه قران او نه آخرت۔ چه قران ته ناست نه ئے نو هیث باندے به نه پوهیگے.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة هود مکی (تربیاً ۱۱ بعدازیونس او نزولاً ۵۲ بعد ازیونس - دواړولحاظوسره سورة یونس نه بعددے)

## ربط ماسبق سره

| شمار | یونس | شمار | هود |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | اثبات دتوحیداوشوپه دلائیلوعقلیاؤسره | ۱۔ | نودلته اثبات دتوحیدکیګی په دلائیلوعقلیاؤاونقلیاؤدواړوسره نوپه دے وجه ئےمتصل راوړو۔ |
| ۲۔ | اثبات دتوحیداوشوپه دلائیلوعقلیاؤسره او دفع دشبهے دمشرکانواوشوه۔ | ۲۔ | نودلته ترغیب فی التبلیغ ورکوی چه شابه دغه مسئله اورسوه۔ نوپه دے وجه ئےمتصل راوړو۔ |
| ۳۔ | واقعه دنوحؑ اجمالاً وه | ۳۔ | نودلته تفصیلاً ذکرکولےشی۔ |
| ۴۔ | آخرکےاوفرمائیل اتبع مایوحٰی الیک | ۴۔ | نودلته ایت۱۲کےتسلی ده په اتباع دما انزل چه تکالیف به رازی مګرزړه به نه تنګوئے |
| ۵۔ | ایت۴کے الیه مرجعکم جمیعا | ۵۔ | ایت۴ کے الی الله مرجعکم |
| ۶۔ | ایت۴۲کے: افانت تسمع الصم | ۶۔ | ایت۲۰: ماکان یستطیعون السمع |
| ۷۔ | انکاردمشرکینوذکردے۔ | ۷۔ | حالت دمشرکینوذکرکیګی۔ |
| ۸۔ | ایت۲ کے نبیؑ ته ساحراوجادوګروئیلے دی۔ | ۸۔ | ایت۷کےقران ته سحر وئیلے دے۔ |
| ۹۔ | ایت۳ کے ددنیاپیداکیدوبیان شوےوو۔ | ۹۔ | ایت۷کےزیادت کوی یعنی ددنیادپیدائیش علت خائی لیبلوکم ایکم احسن عملا |
| ۱۰۔ | شروع په ترغیب الی القران اوشوه۔ | ۱۰۔ | نوداسورة هم په ترغیب الی القران سره شروع شو۔(داسےسورتونه چه په ترغیب الی القران سره شروع کیګی هغےته ذوات الراء وئیلےکیګی) نوداد واړه سورتونه د ذوات الراء نه دی) |
| ۱۱۔ | ایت۳۸کےدمشرکینونه مطالبه وه دیوسورة راوړلو۔ | ۱۱۔ | ایت۱۳کے دلته دوی نه مطالبه کیګی دلسو سورتونو۔ نوپه دے وجه ئےمتصل راوړو۔ |
| | | | |

**امتیازدسورة:** ۱) ممتازدےپه بیان دمسائیلوار بعاؤ ۱-توحید ۲-نفی دشرک فی العلم (دادوه دمقاسدعالیاؤنه دی) ۳-ترغیب فی التبلیغ ۴- تسلی (دا آخره دوه ضمناً/ضمناً ذکرکولےشی)

۲)سورة ممتازدے په مطالبه د لسوسورتونو ایت۱۳ (اګرچه نوروسورتونوکےهم مطالبےشته مګردلسوسورتونومطالبه صرف دےسورة کےده)

۳)سورة ممتازدے په تفصیلی واقعے دنوحؑ باندے اګرچه سورة نوح کےصرف دنوحؑ بیان دےمګرهلته هم دومره تفصیل ئےنشته۔

۴)ممتازدےپه طلب داستغفاراوتوبےدواړو ایت ۳ ۔ ۵۔ ممتازدےپه هغےایت چه انه لیس من اهلک

۶) ممتازدےپه ایت کان عرشه علی الماء ۔ ۷۔لاترکنواالی الذین ظلموافتمسکم النار(مطلب: بائی کاټ ترےاوکړه)

۸) نوحؑ ته:لن نومن من قومک ۔ ۹)نوحؑ خپل زوی ته:لاعاصم الیوم(نن ورزدبچاوزائےنشته

۱۰)ممتازدےپه آخری ایت چه دسورة ټلورواړه مسئلےیےپکےراټولےکړےدی۔کوم چه دسورة مقصددے۔روستوپرےبیان کیګی۔

**مقصددسورة:** بیان دڅلورومسئلو : (۱) العِبادالله وحده(عبادت به دیو الله کوے) (۲)نفی دشرک فی العلم (۳)ترغیب فی التبلیغ (۴) تسلی مبلغ ته

اوس لګ شان تفصیل ددےڅلورومسئلو:

(۱) العِبادالله وحده(عبادت به دیو الله کوے) دامسئله تقریباً اووه ځله ذکرکولےشی: ایت۲کے: الاتعبدوا الا الله ایت۱۴کے: وَاَن لا اِلٰه الاهو

ایت۲۶کے:(نوحؑ وائی) الاتعبدوا الا الله ایت۵۰کے (هودؑ فرمائی) یٰقوم اعبدالله ایت۶۱کے (صالحؑ فرمائی)یٰقوم اعبدالله

ایت۸۴کے(شعیبؑ فرمائی) یٰقوم اعبدالله ایت۱۲۳کےچه آخری ایت کے فاعبدوه

(اوګوره ړومبےدعوه بیان شوه بیاپرےدلائیلِ نقلیه بیان شول اخرکے ثمره فیصله ئے درته واوروله چه فاعبدوه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) دویمه مسئله نفي دشرک في العلم: داهم بیا بیا ذکر کولے شي: ایت ۵ کے يعلم مايسرون..... ایت ۶ کے: ويعلم مستقرها ومستودعها كل في كتاب مبين

ایت ۴۶ کے فلا تسئلن ماليس لك به علم ایت ۴۷ ان اعوذ بك ان اسئلك ماليس به علم ایت ۵۷: ان ربي على كل شيء حفيظ (بل ثوک دا سے نشته)

ایت ۶۱: ان ربي قريب المجيب (بل ثوک دا سے نشته)

بیا پر ے واقعه راوړی دابراهیمؑ چه اوگوره دفرشتو په حال خبر نه وو۔ ایت ۶۹: جاء بعجل حنيذ (وریت کړے سخے ئے راوړو) اوایت ۷۷ کے واقعه دلوطؑ چه اوگوره

عالم الغیب نه وو دابراهیمؑ پشان دے هم دفرشتو په حال خبر نو وو۔

ایت ۹۲ کے: ان ربي بما تعملون محيط (هرشه زما درب په علم کے دی) او آخر کے بیا والله غيب السموات والارض (اوگوره نوم دالله ئے مقدم کړے دے په علم غیب باندے

اشاره ده چکے دیته چه ایا ثوک بل هم شته چه علم غیب ورسره وی)

(۳) دریمه مسئله ترغيب في التبليغ: هم بار بار: ایت ۱۲ انما انت نذير ایت ۱۷: افمن كان على بينة ....شاهد منه (نو چه ستاداشان دے نو اوس به قلار نه کینے تبلیغ اوکړه)

ایت ۲۸: ما سره دالله کتاب دے چه دارحمت دے نو ددے تبلیغ تا سو لے بد گڼړے)

ایت ۵۲ (هودؑ) ويقوم اعبدوالله (دابراه راست تبلیغ دے مونگ ته ترغیب دتبلیغ راکوی) ایت ۶۳ کے (صالحؑ) ويقوم اعبدوالله

ایت ۸۴ کے (شعیبؑ) ويقوم اعبدوالله..... ایت ۸۵ کے: ويقوم اوفوا الكيل والميزان بالقسط ته هم دا سے تبلیغ اوکړه

ایت ۱۱۰ کے ولقد اتينا الكتب..... ته هم دکتاب دغسے تبلیغ اوکړه کنه تکړه شه ایت ۱۱۲ کے: محمدؐ ته او اُمتي ته: فاستقم كما امرت ومن تاب معك...

داټول په آخری ایت کے راټولوی وتوكل على الله سره چه ته به وائے چه تبلیغ کے زما ملگری نشته نو الله فرمائی چه په ما زان اوسپاره

(۴) تسلی: ایت ۱۲ کے تسلی محمدؐ ته – چه سینه مه تنگوه ایت ۲۷: قالت... ایت ۳۲ کے قالوا..... دغسے به تا ته هم وائی۔

دغسے هودؑ سره ئے هم جگړے کړی دی ایت ۵۲ اوگوره: ما جئتنا ببينة... تا ته به هم وائی چه ته خو مُلا نه یے نو و لے دزانه خبرے کوے ورته اووایه چه ستا دمُلا په شان دے ما الله نه کړی۔

نو ته به دحضرت هودؑ پشان مطمئن اوسے او همت به نه بیلے۔

ایت ۶۲ حضرت صالحؑ ته: تا نه خو زمونگ دا امید نه وو زمونگ خو دا خیال وو چه ته به مونگ ته خوگے خوگے خبرے کوے قصے به کوے۔

ایت ۸۷: شعیبؑ ته: اصلوتك تامرك.... ایا تا ته ستا دین دا خولے دی چه ته مونگ د ځپل زوړ دین نه واړوے۔ تا ته به هم وائی چه ولے زمونگ دا مشران او ملیان نه پوهیگی

ایت ۱۱۵ کے واصبر (براه راست تسلی ده) ایت ۱۱۸ کے: (ستا زړه به تنگ شی چه داخلق ایمان و لے نه راوړی) نو جواب: ولوشاء ربك.... الله به ځپل زور چلو لے وو

په اخری ایت دے داټولے تسلے راغونډے کړے په اليه يرجع الامر كله سره چه ته ددے په انجام نه پوهیگے الله پرے پوهیگی ته چله مسئله جاری ساته۔

نو سورة کے ثلور مسئلے وی او په اخری ایت کے ثلور واړه مسئلے راټولے کړے: لکه:

ړومبے مسئله العباد الله وحده: نو دلته اخری ایت کے فاعبدوه یے اووے۔ دویمه مسئله نفي دشرک في العلم: نو دلته والله غيب السموات والارض

دریمه مسئله: ترغيب في التبليغ (تبلیغ کوه او دبل چا پرواه مه ساته نو دلته توكل على الله ثلورمه مسئله: تسلی: انجام به دے خه وی: واليه يرجع الامر كله (الله ته واپس کیگی ټو لے فیصلے)

ددے آخری ایت مثال په مثال دهغے جال دے چه کبانو د پاره ئے په سند کے واچوی یا مرغانو د پاره یے په غنمو پټی کے واچوی او په رو روئے راټولوی آخر کے دغه دښکار میان

یا مرغان جال کے یوزائے ته راټول شي نو دلته هم آخری ایت کے ثلور واړه مسئلے یے یوزائے ته راټولے کړے۔

نو مقصد دسورة بیان دثلورو مسئلو دے او په دے مسئلو واقعات دپیغمبرانو هم بیانوی

په توحید باندے واقعات د نوحؑ، هودؑ، شعیبؑ او آخری ایت کے: فاعبدوه

په نفي دعلم غیب باندے واقعات د ابراهیمؑ او لوطؑ راوړی په تفصیل سره

په ترغيب في التبليغ او تسلی دواړو باندے واقعه دموسیٰؑ راوړی

اوداسورة دذوات الراء نه دے اوذوات الراء هغه سورتونه دی چه په شروع دهغے کے ترغیب الی القران بیانوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوسف (مکی)

(نزولاً ۵۳ بعداز هود ترتیباً ۱۲ بعدازهود - دواړولحاظو سره سورة یوسف دسورة هود نه وروستو دے)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة هود | شمار | سورة یوسف |
|---|---|---|---|
| ١۔ | نفی دعلم غیب اوشوه په بیان دواقعے دابراهیمؑ اولوطؑ چه په ظاهره ئے فرشتے اونه پیژندے | ١۔ | نو دلته نفی دعلم غیب ده په واقعه دیعقوبؑ چه اوگوره په حال دخپل زوی خبر نشو تر ۴۰ سال پورے او نه یوسفؑ خبرو دحال دخپل پلاره چه حیات دے یاوفات۔ |
| ٢۔ | دعوه دتوحیدے ثابته کړه په واقعاتو دانبیاؤ سره بطور دلیل نقلی | ٢۔ | نو دلته هم دعوه دتوحید ثابتوی په واقعه دیوسفؑ چه په جیل کے فرمائی.....ایت ۳۹-۴۰ |
| ٣۔ | آخر دسورة کے اوفرمائل / وَتوکل علیه | ٣۔ | نو نمونه دتوکل چه اوگوره یعقوبؑ اویوسفؑ شنگه زان سپارلے دے الله ته ایت ۸۶: انما اشکو.. |
| ۴۔ | آخر کے ایت ۱۲۰ کے اودوے چه (وَکُلّ نقص علیک من انباء الرسل ماتثبت به فؤادک) | ۴۔ | نو دے سورة کے واقعه دیوسفؑ دپاره دثابت قدمے راوړی۔ |
| ۵۔ | ایت ۷۱ کے: فبشرنٰها باسحٰق... ومن وراء اسحٰق یعقوب | ۵۔ | نو دلته واقعه دحضرت یعقوبؑ په تفصیل سره ذکر کوه۔ |
| ٦۔ | ایت ۶۹ او ۷۳ کے اودوے چه دالله سلامتیا رحمتونه اوبرکتونه دے وی اے کورو الو دابراهیمؑ | ٦۔ | نو دے سورة کے نمونه دبرکت خائی چه کړوسی ورته دیونوسی نه الله یو درجن ورکړل۔ |
| ٧۔ | دقوم لوطؑ دبدعملے نمونه بیان شوه | ٧۔ | نو دے سورة کے دیوے خزے دبے حیائے بیان دے۔ |
| ٨۔ | الله دهرشنه خبردار دے - ولله مافی السمٰوٰت والارض | ٨۔ | ایت ۳: (وان کنت من قبله لمن الغٰفلین) اے پیغمبره ته ددے واقعے نه خبر نه وے۔ |
| ٩۔ | ایت ۱۱۳ لاترکنوا الی الذین ظلموا میلان اونه کړے سُستو اوظالمانو ته۔ | ٩۔ | دیوسفؑ نمونه چه اوگوره گناه ته یے میلان نه دے کړے اگر چه دعوت ورکړے شوے دے دگناه |
| ١٠۔ | افتتاح دسورة اوشوه په صداقت دقران | ١٠۔ | ددے سورة هم افتتاح کولے شی په صداقت دقران |
| ١١۔ | سورة په نوم دپیغمبر دحضرت هودؑ | ١١۔ | نو دا سورة هم په نوم دپیغمبر دحضرت یوسفؑ دے۔ |

## امتیازات دسورة:

١۔ سورة ممتاز دے په تفصیلی واقعه دحضرت یوسفؑ ٢۔ سورة ممتاز دے په گنړو خوبونو لکه خوب دیوسفؑ، خوب دجیلیانو، خوب دباشاه دمصر (د درے خوبونو بیان دے پکے)

٣۔ سورة ممتاز دے په ایت ۲۸: ان کیدکن عظیم ۴۔ سورة ممتاز دے په بیان ددوه قسمه محبت باندے۔ یو جائز لکه دپلار خپل زوی سره بل ناجائز لکه دپردئ خزے پردی سړی سره وغیره۔

۵۔ سورة ممتاز دے په تدبیر دروڼړو خلاف دخپل یو رور۔ ٦۔ سورة ممتاز دے په تقریر دیوسف په جیل کے۔

٧۔ سورة ممتاز دے په سیاسی سوچ بوجھ دیوسفؑ باندے لکه جیل یے بهتر اوگنړو ولود گناه نه۔ بل داچه جیل کے زان سره ملگری جوړکړل۔ بل دمخلوق بچاؤ د راروان یو آفت نه۔ داټول کارونه دسیاسی بصیرتونه دی۔ دینه اسلامی سیاست وائی۔ لفظ سیاست د سوس نه دے معنی یے دقوم خیرخواهی ده۔

## مقصد دسورة: تسلی نبیؐ ته په واقعه دیوسفؑ (حالِکَ کحالِ یوسفؑ)

**واقعه دیوسفؑ په شپږو مرحلو کے بیانیگی:** مرحله ١: یوسفؑ ته روڼړو چل جوړکړو زکه چه دپلار محبت ورسره ډیر وو۔ نو کنوی ته یے ورغورزولو۔

مرحله ٢: قافلے والاؤ اوچت کړو او مصر کے خرڅ کړو۔ مرحله ٣: جیل ته اورسیدو مرحله ۴: وزارت ورته ملوشو

مرحله ۵: چه روڼړه ئے راغلل اوپلار ئے خبرشو۔ مرحله ٦: چه خاندان دیوسف مصر ته رانتقل شو۔

## مماثلت دواقعاتو په مابین ددواړو پیغمبرانو:

(١) لکه شنگه چه یوسفؑ ته دخپلو روڼړو دلاسه چل جوړشو۔ نو اے پیغمبره تاته به هم دخپل قوم دلاسه به چل جوړشی اودخپل وطنه به روک کړے شے۔ سورة انفال ایت ۳۰ واذ یمکر بک الذین کفرو.....اویقتلوک او یخرجوک۔ نو حالِکَ کحالِ یوسف

(٢) لکه شنگه چه یوسفؑ په کنوی کے درے ورزے تیرے کړے دی۔ نو اے پیغمبره ته به هم په غارثور کے درے ورزے تیروے۔ نو حالِکَ کحالِ یوسف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) لکه شنګه چه یوسفؑ په اندېښو کے مصر ته روان کړے شوے دے چه پته نه لګی چه مصر کے به زما څه حال وی۔ نو دغسے ته به هم دغار ثور نه په اندېښو کے روان ئے مدینے ته پته به درته نه وی چه هلته به ستا څه حال وی۔ نو حالِک کحالِ یوسف

(۴) لکه شنګه چه یوسفؑ عزتمند شو په ډو مبنے ورز په مصر کے چه وزیرؓ ورستو او ځلیے خزے ته یے اووے چه ددۂ استوګنه خه کړه نو ته به هم په ړمبے ورز مدینه کے عزتمند کیګے۔ دنبیؐ استقبال ته خلق ولاړ وو۔ یو وئیل چه زما میلمه به وی۔ بل وئیل زما میلمه به وی آخر دا چه نبیؐ اوفرمائیل چه زما اوخه دچا دکور مخے ته کیناسته ۔ زۀ به هغه سره پاتے کیګم ۔نو حالِک کحالِ یوسف

(۵) لکه شنګه چه یوسفؑ باندے هغے کور والا ؤ بدنامه اولګوله نو تا باندے اوستا بی بی باندے به هم دمدینے څه خلق بدنامه لګوی۔ نو حالِک کحالِ یوسف

(٦) لکه شنګه چه یوسفؑ ته الله خپل رونړه په چپو کے اوغورزول دغه شان ستا قوم به هم الله ستا په چپو کے غورزوی۔ نو حالِک کحالِ یوسف

(۷) لکه شنګه چه یوسفؑ خپلو رونړو ته اووے چه لاتسریب علیکم الیوم نو ته به هم دفتح مکے په ورز اووائے چه لاتسریب علیکم الیوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة رعد (ترتیباً ۱۳ العداز یوسف نزولاً ۹۶ بعداز محمد)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة یوسف | شمار | سورة رعد |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۔ | مسئلہ ئے ثابتہ کڑلہ پہ دلائیلو سره | ۱۔ | نو دلتہ وضاحت دمسئلے کوی پہ مثالونو سره |
| ۲۔ | ایت ۱۰۵ کے اووے آیا دوی بره اوخکتہ نہ گوری چہ دالله وحدانیت پرے اوگوری | ۲۔ | نو دے سورة کے دالله دکائینا تو، هغه چہ کوم بره دی اوکوم خکتہ، دهغے تفصیلی ذکر کولے شی۔ |
| ۳۔ | دسورة یوسف اختتام اوشو پہ ترغیب الی القرآن سره | ۳۔ | نو ددے سورة افتتاح کیگی پہ ترغیب الی القران سره |
| ۴۔ | نفی دشرک فی العلم دانبیاؤ نہ اوشو۔ | ۴۔ | نو دلتہ نفی دشرک فی الدعاء کیگی (چہ عالم الغیب نہ دی نو لم تدعونهم) دلے رامدکوے |
| ۵۔ | ایت ۴۰ کے اووے چہ انے مشرکانو تا سوسره پہ دے شرک ئه دلیل شتہ | ۵۔ | نو دے سورة کے پہ توحید گنڑ دلائیل ذکر کوی۔ |
| ۶۔ | دصبر دنیاوی مثال وو چہ یعقوبؑ اویوسفؑ صبر اوکڑ ونو انجام ئے بهتر شو۔ | ۶۔ | ایت ۲۰ کے دصبر دآخرت بیان کوی۔ |
| ۷۔ | ایت ۴۰ کے بیان دمسئلے پہ جیل کے وو چہ یوسفؑ کڑے وو۔ | ۷۔ | ایت ۳۶ کے اعلان دمسئلے کیگی پہ میدان کے دطرفه دنبیؑ نه۔ |
| ۸۔ | ایت ۱۰۳ کے اووے (وما اکثر الناس بمومنین) | ۸۔ | ایت ۱ کے (ولکن اکثر الناس لایومنون) |
| ۹۔ | ایت ۳۹ کے مسئلہ دتوحید ذکر شوه۔ | ۹۔ | نو ایت ۱۶ کے تشریح اووضاحت کوی۔ پہ من رب السمٰوٰت والارض سره |
| ۱۰۔ | ایت ۱۰۹ کے (وما ارسلنا من قبلک من الرسول الا رجالا....) | ۱۰۔ | ایت ۳۸ کے فرمائی چہ ددغے پیغمبرانو خزے اوبچی هم وو۔ |

## امتیازات د سورة

۱۔ سورة ممتاز دے بہ کثرت دتنبیهاتو باندے۔ ۲۔ سورة ممتاز دے پہ مثال دمشرکانو چہ شنگه مشرکان بابا ته اواز کوی لکه چه یوسڑے اوبو ته اواز کوی ایت ۱۴۔

۳۔ ممتاز دے پہ بیان دمثال دمسئلے چہ کله تہ مسئلہ بیان کڑے نو لکه چه باران اوشی۔ اودهغے باران سره خوڑ ونه ڈک شی۔ گندونه راباهر شی۔ ایت ۱۶

۴۔ ممتاز دے پہ علاج داطمینان قلب پہ ایت ۲۸ کے ۵۔ ممتاز دے پہ بیان دتسبیح درعدنو مے فرشتے۔

۶۔ ممتاز دے پہ بیان دمطالبے دمشرکان نه چه ذچلو الهانو نومونه واخلے۔

**دعوه دسورة:** لہ دعوة الحق (ایت ۱۴)

**مقصد دسورة:** نفی دشرک فی الدعا بالا دلۃ المتنوعا

**تقسیم دسورة:** سورة ۴ بابونه دے۔

باب ۱: ایت ۱-۱۴ پورے: پہ دے باب کے ۵ قسمه دلائیل ذکر کوی۔ اوآخر کے پرے مسئلہ دتوحید تفریع کوی۔ شروع کے ترغیب الی القران دے بیا ایت ۲ کے ڑومبے قسم دلیل ذکر کوی۔

(۱) ڑومبے قسم دلیل پہ توحید: (الخالق لکل شئی هوالله) ڑومبے دلیل پہ تخلیق ایت ۲ کے آسمانونه چا دی پیدا کڑے۔ مادی پیدا کڑے۔

دویم دلیل پہ تخلیق ایت ۳ کے زمکه چا ده غوڑولے او چا ده پیدا کڑے۔ ماده پیدا کڑے۔

دریم دلیل پہ تخلیق ایت ۴ زمکه کے چہ داٹوٹے دی جختے جختے دا چا دی پیدا کڑے۔ اودامیوے دانے غلے چا دی پیدا کڑے۔ مادی پیدا کڑے

نو پته اولگیده چه الخالق لکل شئی هوالله هرشه الله دی پیدا کڑے۔

(۲) دویم قسم دلیل ذکر دے ایت ۸ کے (العالم لکل شئی ء هوالله) (۳) دریم قسم دلیل ذکر دے ایت ۱۱ کے (الحافظ لکل شئ ء هوالله)

(۴) ثلورم قسم دلیل ذکر دے ایت ۱۲ (متصرف فی کل شئ ء هوالله) (۵) پنزم قسم دلیل ذکر دے ایت ۱۳ کے تسبیح درعدنو مے فرشتے نو پته اولگیده چه ٹول ماته دی محتاج۔

نو ایت ۱۴ کے دعوه پرے تفریع کوی (لہ دعوة الحق) خاص دے الله ره چغه ده لایق۔

نو اوگوره داقران چه دے رالیگلے۔ الله دے رالیگلے نوله دعوة الحق۔ اسمانونه چا دی پیدا کڑے۔ الله فرمائی مادی پیدا کڑے نو لہ دعوة الحق زمکه چا ده غوڑولے۔ خاص الله ده غوڑولے۔ نو لہ دعوة الحق (دغسے یو یو نعمت دالله ذکر کڑه او دعوه (لہ دعوة الحق) پرے تفریع کڑه چه ملگر و ته وضاحت اوشی۔)

نو کله چه دعوه پرے تفریع کڑی نو بیا یو مثال پیش کوی۔ چه اوس هم ثوک دالله نه بغیر بل چا ته اواز کوی نو دهغه مثال ایت ۱۴ کے: والذین یدعون من دونه.... شنگه چه اوبه ددهٔ پہ اواز دره خلے ته نشی رارسیدے دغسے غیرالله ده ته امداد پاره نشی رارسیدے۔ شنگه چه داوبو غوگونه ستر گے چپے لاسونه شته دغسے دهغے مڑ دلی هم شته۔ اعراف ۱۹۵...اوگوره۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

باب ۲: ایت۱۵ - ۲۵پورے : دیکے فرمائی چہ ټول اللہ لہ دی ساجد۔ او صرف اللہ دے مسجود نو لہ **دعوۃ الحق** (تحکینو ۵ دلائیلو سرہ دا دلیل شپږم شو پہ دعوہ د توحید)

نو ایت۱۶ کے پرے بل قسم دلیل دے چہ زۀ یمہ رب او ټول ماتہ دی مربوب نو لہ **دعوۃ الحق**

ایت۱۷ کے یو مثال بیان کوی چہ کلہ تہ مسئلہ لہ **دعوۃ الحق** پہ صحیح طریقے سرہ بیان کړے نو ډوډے بہ او خیږی دهغے زائے نہ لکہ چہ باران اوشی نو هرہ کندہ کے دهغے کندے مناسب سیلاب راشی

وړو کے ملا بہ ذهیل وس مطابق ستا خلاف کوی او غټ ملا بہ ذهیل وس مطابق ستا خلاف کوی۔ دے بیان سرہ بہ گندونہ ټول راباهر شی لکہ دخوړ پہ شان مگر دا بہ لگ وخت پورے وی بیا بہ

سپینے پاکے او بہ اودینے یعنی ستا حق بیان بہ پاتے شے او د دے باطل پرستو پروپیگنډے بہ ختم شی۔

ایت۱۸: کے مستجیبین د دے مسئلے او غیر مستجیبین د دے مسئلے او د دواړو انجام خائی۔ ایت۱۹ کے فرمائی چہ دواړہ برابر نہ دی۔

ایت۲۴ پورے د دے مستجیبنو ۸ صفات بیانوی او د دوی بدلہ خائی۔

باب ۳ ایت ۲۶ - ۳۲ بل قسم دلیل ایت۲۶ کے فرمائی چہ زۀ یمہ رازق ټول ماتہ دی مرزوق - نو لہ **دعوۃ الحق** ایت۲۷ کے غیر مستجیبین او ۲۹ کے مستجیبین او دهغوی بدلہ ذکر کیگی۔

ایت ۳۰ کے ترغیب الی القران ایت۳۱ کے حال د ضدیانو عنادیانو او انجام دهغوی ایت۳۲ کے تسلی مبلغ تہ چہ زړۀ مہ تنگوہ۔

باب ۴ ایت۳۳ آخر د سورۃ پورے ایت۳۳ کے زجر مشرکینو تہ ۳۵ کے بشارت مومنینو تہ ۳۶ او ۳۷ کے ترغیب الی القران ایت۴۰ کے تخویف ۱۴-۳۴ کے بیا تسلی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة ابراهیم (مکی نزولاً ۷۲ بعداز نوح ترتیباً ۱۴)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة رعد | شمار | سورة ابراهیم |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | اهم مسئله بیان شوه (له دعوة الحق - لا اله الا هو) | ۱۔ | نو دلته ترغیب فی التبلیغ ورکوی چه شا به دا مسئله به اوس رسوے خلقو ته۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۲۔ | رد د شرک فی الدعا او شو۔ | ۲۔ | ایت ۱۸ کے مثال پیش کوی د مشرک د عمل چه لکه هوا راشی اوا یرے الوزوی۔ |
| ۳۔ | مثال د مسئلے بیان شو ایت ۱۷ کے چه کله مسئله بیان کړے نو لکه چه باران اوشی او خوړ راشی... | ۳۔ | مثال بیانوی د کلمے د توحید په ایت ۲۴-۲۵ کے نو په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۴۔ | ایت ۱۱ کے ان الله لا یغیر ما بقوم حتی یغیر ما بانفسهم | ۴۔ | ایت ۲۸ کے دهغے مثال ذکر کوی چه او گوره الله نعمت کړے وو په فرعون مگر انکار یے اوکړو... |
| ۵۔ | ایت ۳۸ کے اعتراض د مشرکانو چه داشنگه پیغمبر دے چه خزه او بچی ئے دی | ۵۔ | ایت ۳۵ کے مثال د ابراهیم پیش کوی چه اولاد او بی بی یے وه۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۶۔ | مسئله ذکر شوه د توحید | ۶۔ | ایت ۶ او نورو ایتونو کے تذکیر بایام الله دے (یعنی د منونکو انجام او نه منونکو انجام څه شو۔) |
| ۷۔ | ایت ۲۳ کے فرشتے به داخلیگی په دے جنتیانو باندے او سلامونه به وائی۔ | ۷۔ | ترقی ده۔ چه داسے به ټول عمر کیگی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۸۔ | ایت ۳۲ کے حالات ذکر شول د پیغمبرانو چه هغو پورے ټوقے کړے شوے وے | ۸۔ | نو دے سورة کے دهغے تفصیل وو چه چا ټوقے کړے وے دهغوی انجام څه شو۔ |
| ۹۔ | ایت ۳ کے اووے چه هر شه زه پیدا کوم | ۹۔ | ایت ۳۲ کے تفصیل د دغے خلقت چه باران راورومه هغے سره هر شه راوباسم۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۲ کے فرمائی چه هر شے چلیے نیټے ته روان دی۔ | ۱۰۔ | ایت ۳۳ کے فرمائی چه همیشه به دا هر شه روان وی ترڅو چه دنیا اباده وی۔ |
| ۱۱۔ | ایت ۱۴ کے د مشرک چغے ته ئے گمراهی او ویله | ۱۱۔ | ایت ۳ کے فرمائی چه دوی گمراهان دی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو |

## امتیازات د سورة:

۱۔ سورة ممتاز دے په بیان د مثال د کلمه د توحید ایت ۲۴۔ ۲۔ سورة ممتاز دے په بیان د دے چه هر قوم ته دهغوی په ژبه پیغمبر لیگلے دے۔ ایت ۴

۳۔ سورة ممتاز دے په ایت ۳۵-۳۶ چه ابراهیم خپل بچے او بی بی په بیابان کے پریدی۔ ۴۔ سورة ممتاز دے په بیان د شکر د ابراهیم په اولاد باندے آخر د سورة کے۔

۵۔ سورة ممتاز دے ایت ۴۰ باندے چه الله فرمائی چه په هر پیغمبر تکلیف راغلے دے داسے چه هغے سره غرونه او جړ قولے شو مگر د اپیغبران ورسره اونه جړ قیدل۔

۶۔ سورة ممتاز دے په تقریر د شیطان په جهنم کے ایت ۲۳ ۷۔ سورة ممتاز دے په ترغیب فی التبلیغ او د منکرینو او مبلغینو حالاتو بیانولو باندے۔

**مقصد د سورة:** ترغیب فی التبلیغ او تذکیر بایام الله (فندور کول په نعمتونو د الله او عذابونو د الله)

**خلاصه مختصر:** ۱) ړومبے ترغیب ورکوی قران ته او بیا ترغیب فی التبلیغ

۲) بیا ایت ۹ نه لفظ الم سره د ابیانوی چه چا مسئله بیان کړه نو هغه سره به خلق جگړے کوی۔ ایت ۱۸ پورے دا بیان جاری دے۔

۳) ایت ۱۹ نه لفظ الم سره داذکر کوی چه دا مشرکین به قیامت کے څنګه کے به جگړو وی۔ ایت ۲۳ پورے دا بیان جاری دے۔

۴) ایت ۲۴ نه لفظ الم سره مثالونه د دوو فرقو د مشرکانو د شرک مثال او د موحدینو د کلمے د توحید مثال پیش کوی۔ تر ایت ۲۷ پورے

۵) ایت ۲۸ کے لفظ الم سره زجر، تخویف او دلائیل او واقعه ذکر کړی د ابراهیم د پاره د ترغیب فی التبلیغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الحجر (مکی ترتیباً ۱۵ البعد ازالحجی ابراهیم نزولاً ۵۴ بعد از یوسف)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة ابراهیم | شمار | سورة الحجر |
| --- | --- | --- | --- |
| ا۔ | سورة ابراهیم کے ترغیب فی التبلیغ دقران وو۔ | ا۔ | نو دلته انجاد هغو خلقو خائی چه ورته تبلیغ اوشو مگر مسئله ئے او نه منله۔ نو په دے وجه یے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | حالت دمشرکانو پیرانو او دهغوی دمریدانو چه قیامت کے به جګړے کوی ایت ۲۱-۲۲ | ۲۔ | افسوسونه دمشرکانو چه هائے هائے چه مونګ قران ته ناست وے۔ نو په دے وجه یے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | دسورة خاتمه په دے اوشوه چه یره ورکړه په قرآان سره | ۳۔ | ایت ۹۶ چه په دے قران یره ورکړے شوه مگر هدایت یے نه چیل نه کړو نو انجام ئے ذشو۔ |
| ۴۔ | بیان ددوو فرقو اوشو۔ منونکی او منکرین | ۴۔ | نو دلته انجام ددواړو ډلو خائی۔ نو په دے وجه یے متصل راوړو۔ |
| ۵۔ | ایت ۴۶ وقد مکرو مکرهم | ۵۔ | نمونے دهغے مکرونو او انجام دهغے مکارو خائی چه څه رنګ سزا ورکړے شوه۔ |
| ۶۔ | دسورة افتتاح اوشوه په حکمت دنزول دقران سره | ۶۔ | نو دا سورة هم شروع کیګی په صداقت دقران سره۔ نو په دے وجه یے متصل راوړو۔ |

## امتیازات دسورة

ا۔ سورة ممتاز دے په آرزوګانو دمجرمانو په مختلفو اوقاتو کے ایت ۲ لوکانو مسلمین (دمرګ په وخت کے، په قبر کے او په قیامت کے)

۲۔ سورة ممتاز دے په بیان دحفاظت دقران کریم ایت ۹

۳۔ سورة ممتاز دے په بیان دابوالجن او ابوالانس د پیدا کیدو چه د څه نه پیدا کړے شوے دی۔

۴۔ سورة ممتاز دے په بابونو دجهنم ایت ۴۴ لها سبعة ابواب

۵۔ سورة ممتاز دے په امر/حکم دالله نبیؐ ته چه ترمرګه پورے عبادت کوه آخری ایت

۶۔ سورة ممتاز دے په بیان دهغے فتوے چه څوک دالله درحمت نه نا امید شی۔ ایت ۵۶

**مقصد دسورة:** بیان داحوالو دمنکرینو او انجام دمنکرینو

**تقسیم دسورة:** درے حصے دے: ۱) ایت ۱-۱۵ پورے: اول ترغیب الی القران، زجر منکرینو ته دقران، تخویف او صداقت دقران کریم

۲) ایت ۱۶-۲۵ پورے: عقلی دلائیل دی

۳) ایت ۲۶-آخر دسورة پورے: حالات داقوام مهلکاؤ

**خلاصه دسورة:** دا سورة بطور تتمه دمخکے سورة ابراهیم ده۔ هغے کے دوه ډلے ذکر شوے وے نو دے سورة کے دهغوی انجام ذکر کوی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة النحل (مکی ترتیباً ١٦ بعد از الحجر نزولاً ٧٠ بعد از کهف)

ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الحجر | شمار | سورة النحل |
|---|---|---|---|
| ١- | هر کله چه سورة الحجر کے عذاب د سابقینو ذکر شو- | ١- | نو دے سورة النحل کے عذاب د موجوده خلقو(مکے والو) بیانیگی په شروع ددے سورة کے |
| ٢- | سورة ابراهیم کے ترغیب فی التبلیغ وو نو حجر کے نمونے د عذاب وے- | ٢- | نو دے سورة کے هغه اصل مسئله د توحید بیانوی چه د هغے نه په انکار عذاب رازی- |
| ٣- | ایت ٢٨ کے د انسانانو د نیکثه د پیدائش ذکراوشو چه د خٹے نه پیدا وو- | ٣- | ایت ٤ کے د عامو انسانانو د پیدائش ذکر کیگی چه د نطفے نه پیدا دی- |
| ٤- | الله بیان اوکڑو چه ټول ما دی پیدا کڑے- | ٤- | ایت ٢١ کے د مخلوقاتو د عجز ذکر کوی چه ټول ماته دی مختاج |
| ٥- | ایت ٤٦ کے بشارت وو د جنت جنتیانو ته | ٥- | ایت ٣٢ کے ترقی ده په ما سبق باندے- |
| ٦- | حالات بیانیدو د مفسدینو او مئوحدینو | ٦- | نو ایت ٣٦ کے د هغے خلاصه راوباسی- چه د چا ثه انجام شو- |
| ٧- | د انسان پیدائش ذکر وو- | ٧- | ایت ٧٠ کے انقلاب د انسان ذکر کوی- چه ددثه په ژوند کے ثنگه انقلاب رازی-بُڈا شی... |
| ٨- | ایت ٤٩-٥٠ کے (نبّأ عبادی انی انا الغفور الرحیم وان عذابی هو العذاب الالیم) | ٨- | ١١٢ کے ددغے عذاب مثال بیانوی چه الله پرے قحط مسلط کڑو په مکے والو باندے |
| ٩- | آخر کے اووے چه ثه تر مرگه پورے عبادت کوه | ٩- | خپل احسانات ذکر کوی چه تر مرگه پورے زما احسانات دی نو زکه تر مرگه پورے به عبادت کوے- |

## امتیازات د سورة

١) سورة ممتاز دے په بیان د رانگا رانگ دلائیلو عقلیاثو په توحید باندے-

٢) سورة ممتاز دے په تفصیلی فائدو د چارپایانو باندے

٣) سورة ممتاز دے په بیان د بعضو قواعدو د دریاب باندے

٤) سورة ممتاز دے په بیان د هغے کلمے د کفر چه په وخت د اکراه کے ویلے کیگی ایت ١٠٦

٥) سورة ممتاز دے په حکم د مچے د طرفه د الله نه ایت ٦٨

٦)سورة ممتاز دے په فائدو د شاتو باندے فیه شفاء للناس

٧) په بیان د هغے خزے چه خپل طاقت به ئے خپله تباه کوو-

٨) په بیان د اجماع ایت باندے ایت ٩٠ چه ټول اوامر و نواهی پکے راجمع دی-

٩) په بیان د هغے قحط چه په مکه باندے راغلے ووچه دے کافرو به خپل بول خوڑل ایت ١١٢

## مقصد د سورة: اثبات دتوحید بالادلة المتنوع (رنگا رنگ عقلی دلائیلو سره)

## تقسیم د سورة: شپگ بابونه دی : (١) ایت ١-٢٣: دیکے توحید باندے دلائیل دی متنوعه (رنگا رنگ)

(٢) ایت ٢٤-٣٥: زجر هغو ته چه اَوزی د توحید نه نو هغوی ته د هغوی په قول او فعل دواڑو زجر ورکوی-

(٣) ایت ٣٦-٤٧ : دلیل نقلی او نفی د تصرف د غیر الله نه

(٤) ایت ٤٨- ٦٤: دلائیل عقلیه په دے باندے چه ټول مخلوق الله ته دی مختاج او تابعدار-

(٥) ایت ٦٥- ٨١ : دیکے دلائیل عقلیه به دے چه نعمتونه ټول ما دی پیدا کڑے

(٦) ایت ٨٢- آخر : تسلی محمدؐ ته او هر مبلغ ته، تخویف منکرینو ته او احوال د مشرکانو په قیامت کے او ترغیب ورکوی قران ته او واقعه دابراهیمؑ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورۃ بنی اسراءِیل مکی (ترتیباً ۱۷ بعدازسورۃ النحل - نزولاً ۵۰ بعدازسورۃ القصص)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورۃ النحل | شمار | سورۃ بنی اسراءیل |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | ایت ۱۲۵ کے (ادع الی سبیل ربک....) نو چه کله ته رابلے۔نو تکلیف به ضرور در کولے شي | ۱۔ | چه تکلیف دِ برداشت کړو۔نوراشه چه اوس در باندے ددے په انعام کے سیل داسمانونو اوکړم نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | هرکله چه دے سورۃ النحل کے اعلان دعذاب دو (اتی امرالله۔۔۔۔) | ۲۔ | نو دے سورۃ کے وجوہات دعذاب ذکر کوی ثلور۔نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | ترغیب الی الهجرت دو۔که مسئلے ته دے نه پریدی نو ملک پریده۔ | ۳۔ | حالات دانبیاؤ ذکرکوی چه مسئلے دپاره ئے هجرت کړے وو۔ |
| ۴۔ | ایت ۹۹ کے اووے چه دشیطان زور په هغو چلیګی چه هغه ددهٔ دوستان وی یامشرکان وی۔ | ۴۔ | ایت ۶۴ کے دشیطان هتکنډے/طریقے دګمراه کولو ذکرکوی۔نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۵۔ | ایت ۱۲۴ کے اووے چه یوم السبت په چامقرر شوے وو۔ | ۵۔ | نو دے سورۃ کے تفصیلی بیان داهل السبت کوی۔نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۶۔ | ایت ۱۲۷ کے اووے، چه زړهٔ مه تنګوه۔ دصبر اجر به ضروز درکوم۔ | ۶۔ | ایت ۱۰۳ کے ددغے صبر مثال ذکرکوی۔ |
| ۷۔ | مسئله دتوحید ئے ثابته کړله په دلائیلو عقلیاؤ سره۔ | ۷۔ | نو دے سورۃ کے حالات دهغو ذکرکوی چه مسئله ئے اونه منله اوشرک ئے کړے دے۔ |
| ۸۔ | حالت دمهاجرو بیان شول په ایت ۴۰ کے او ۱۱۰ کے۔ | ۸۔ | ایت ۷۶ کے انجام دهغو بیانوی چه مهاجر ئے په هجرت مجبور کړے وو۔ |
| ۹۔ | ایت ۸۸ کے اووے چه زیات به کړو ددوی دا عذاب | ۹۔ | ایت ۹۷ کے داخائی چه شنګه به ورله داعذاب زیاتوو۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۳۲ اووے چه مسئله بیان کړه نوفرشتے به درته زیری درکوی۔ | ۱۰۔ | چه چاحق پرستو پورے توقے اوکړے نو دهغوی انجام به څه وی۔ |

## امتیازات دسورۃ:

۱۔ سورۃ ممتاز دے په بیان دعلت دعذابونو باندے یعنی وجوہات دعذاب بیانوی۔

۲۔ سورۃ ممتاز دے په بیان د اِسْرا باندے۔چه نبیؐ ئے بیت المقدس ته دشپے شپے بوتلے وو۔اوبیان ئے بره آسمانونو ته اوچت کړے وو۔

۳۔ سورۃ ممتاز دے په بیان د ۲۵ اوامرو او نواهی باندے۔

۴۔ سورۃ ممتاز دے په ایت ۷۰ باندے چه کرامت د بنی آدم بیانوی۔ ولقدکرمنابنی ادم...

۵۔ سورۃ ممتاز دے په بیان دتهجدو باندے۔

۶۔ سورۃ ممتاز دے په هغے ایت ۸۸ باندے چه الله فرمائی چه اے انسانانو او جناتو، چه تاسو منکر دقران ئے۔راجمع شئے او ددے قران به شان یوقران راوړے۔

۷۔ سورۃ ممتاز دے په ایت ۹۵ چه علت خائی چه ماانسانان وله پیغمبران رالیګلے دی او فرشتے م ولے نه دی رالیګلے دے انسانانو ته بطور پیغمبر۔

**مقصدد سورۃ:** بیان دهغے ثلورو اعمالو چه دهغے په کولو سره عامل دعذاب مستحق کیګی۔

۱۔ **شرک مُسْتَمِره** (چه په شرک باندے همیش ګری اوکړی اوتوبه او نه باسی نوالله ئے معذب کوی۔)

۲۔ **هتک د شعائرالله سبب لنزُول عذاب** (بے عزتی دشعائرالله سبب دعذاب ګرزی)

۳۔ **اخراج الرسُل سبب لنزُول عذاب** (دانبیاؤ اوحق پرستو وتل دعذاب سبب ګرزی)

۴۔ **استهزاءالرسل سبب لنزُول عذاب** (درسولانو پورے ټوقے سبب دعذاب ګرزی۔)

**تقسیم د سورۃ:** سورۃ تقسیم دے په ثلورو حصو باندے۔

(۱) ایت ۱-۵۸ پورے: په دیکے ړومبے سبب دعذاب (**شرک مُسْتَمِره**) تفصیل سره ذکرکوی۔او په دے واقعه د بنی اسرائیلو ذکرکوی چه همیشه ئے شرک کوونو الله پرے دوه وارے عذابونه راولیګل یووارے دبخت نصر اوبل وارے درومیانو دطرف نه۔ او دریم وارے [illegible]

(۲) ایت ۵۹-۷۵ پورے: **هتک دشعائرالله** او په دے واقعه دقوم صالح ذکر دی۔ چه داوخے بے عزتی ئے اوکړه نو دعذاب مستحق شول۔

(۳) ایت ۷۶-۱۰۰ پورے: **اخراج الرسل سبب لنزُول عذاب** په دے واقعه دنبیؐ ذکرکوی چه هرکله مکے والو رسول کره دمکے نه اوویستونو دامکے والامعذب شول۔الله پرے عذاب راوستو۔

(۴) ایت ۱۰۱- آخر پورے: **استهزاءالرسل سبب لنزُول عذاب** په دے واقعه دفرعون او دهغه دقوم په کله ئے موسیٰؑ پورے ټوقے اوکړے نو الله ددوی لره تباه کړل۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

## واقعه د معراج مختصر

ایت ۱ : په دے ایت کے اشاره ده د نبیؐ معراج ته- معراج سره دوه سفرونه د نبیؐ متعلق دی یو د بیت الله شریف نه تر بیت المقدس پورے دا یو ځومبی سفر ددے سورة ایت نمبر ۱ نه ثابت دے- ددے سفر منکر د قران منکر دے- دا سفر ئے کړے دے په بُراق- بُراق د خر نه لوے او اس نه رکوټے وی- بعضو کمبختو دغے براق لره تصویر کے سر د ښځے جوړ کړے وی-دا د نبیؐ بے عزتی ده-

ددغے بیت المقدسؓ نه بره بیا اللهؒ خپل رسولؐ لره په خپل خاص لفټ ذریعے سره خیژولے دے- چه د دغے سفر ذکر بیا احادیثو کے دے- او سورة نجم کے ورته هم اشاره شوے ده-

آیا دا سفر په یوه شپه کے بدنی وو- یا روحانی نو د قران ددے ایت نه دا ثابتیگی چه بدنی وو- ځکه چه عَبْدِهِ ئے ویلے دی او روحِ عَبْدِهِ ئے نه دے ویلے-

جبراء یلؑ ورسره په براق وو- تر بیت المقدس پورے- بیا اسمانونو کے هم ورسره وو-چه ځومبی آسمان ته اوختلو نو د نبیؐ ملاقات آدمؑ سره اوشو- فرمائی چه آدم بره اوکتل نو خوشحاله شو ځکه چه د خپل اولاد روحونه ئے په علیین کے اولیدل- او کله چه ئے لاندے اوکتل نو خپه شو- او په ژړه شو- ځکه چه د خپل ئه اولاد روحونه یے په سجین کے الیدل-

په دویم اسمان کے ملاقات د یوسفؑ سره اوشو-په سلام اچولو سره او په جواب د سلام-

په دریم اسمان کے ملاقات د یحیٰ او عیسیٰؑ سره اوشو- په څلورم اسمان کے ادریسؑ سره پنځم اسمان کے هارونؑ سره شپگم اسمان کے ملاقات د موسیٰؑ سره اوشو- او اووم اسمان کے ملاقات د ابراهیمؑ سره اوشو بیت المعمور سره- او خپل امت یے هم اولیدل چه ئه بهترین درجے والا وو- او ئه کمے درجے والا وو-

دے پیغمبرانو سره د نبیؐ ملاقات څنگه اوشو ځکه چه ددوی بدنونه خو زمکه کے قبرونو کے پراته دے؟ جواب الله ورته ددوی هغه روحونه متشکل کړی وو-

دا واقعه معراج کله شوے وه- ددے د تاریخ پته نشته- دومره ده چه د هجرت نه مخکے وه- او ددے واقعے تصدیق د ژړه نه کول نخه د ایمان ده- په دے اتفاق دے چه الله نبیؐ سره اسمانونو کے خبرے کړے دی- مگر ددے تصدیق نشته چه آیا نبیؐ الله ئے لیدلے دے یا نه- دیکے اختلاف دے-

نبیؐ هم دغے شپه کے واپس راغلے دے خپلے بسترے ته- نو په صبا چه نبیؐ دا واقعه د معراج خلقو ته بیانوله نو ئه کافران پکے هم ناست وو- مگر ابو بکرؓ نه وو- یو کافر منډه کړے دی او ابوبکرؓ ته وائی چه ستا هغه یار خو نن بل بل ئه وائی- هغه ترے تپوس کوی چه آیا ته خپله د هغهؐ د خُلے نه اوریدلی دی- هغه وائی چه او-نو دا کافر ابوبکر ته وائی چه آیا تهُ دا خبره منے- هغه ورته وائی چه بالکل زهٔ په دے خبره ایمان دے- ځکه څنگه چه زما ایمان د هغه په دے خبرو دے چه وائی چه جبراء یلؑ راغے او دا وحی ئے راوړله- ددے واقعے د تصدیق نه پس د ابوبکرؓ لقب صدیق شو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورة الکهف (مکی نزولاً ٦٩ بعدازغاشیه ترتیباً ١٨ بعدازبنی اسراءیل)

**ربط ماسبق سره**

| شمار | سورة بنی اسراءیل | شمار | سورة الکهف |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | افتتاح دسورة شوے وه په **سبحان الذی** سره | ۱۔ | نوداسورة شروع کیگی په **الحمدلله** سره (چه زړه دِ پاک شونو او س حمدونه وایه دالله) |
| ۲۔ | سورة ختم شو په **الحمدلله** سره (حمدونه زکه وایه چه الله بغیر نائبانو دے) | ۲۔ | شروع شو په **الحمدلله** سره (حمدونه زکه وایه چه قران ئے رالیگلے دے) |
| ۳۔ | ایت٧٦ اودے چه کله صفابیان ددین کو وے نوخلق به دِ په هجرت مجبوراکوی۔ | ۳۔ | نودے سورة کے دهغے جوانانو ذکر دے چه چله ئے دین د پاره هجرت کړے وو۔ زکه چه ردد منکرے ئے نشوکولے۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۴۔ | ایت١۴ کے اودے چه عمل دِ خپله اولوله۔ **اقراء کتٰبک** | ۴ | ایت۴٩ کے وائی چه افسوسونه به کوی۔ ی اویلتنا مالِ **هٰذ الکتٰب لایغادر صغیرة ولاکبیرة**۔۔۔ |
| ۵۔ | ایت۴٦ کے اودے چه دقران او توحیدنه منکر به په شا اوړی په نفرت سره۔ | ۵۔ | ایت٥٧ کے ترقی ده په ماسبق باندے چه داغث ظالمان دی۔ |
| ٦۔ | معجزه دمعراج ذکروه۔ | ٦۔ | نودے سورة کے نور شبهات دمشرکانو ذکرکوی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ٧۔ | آخر دسورة کے **لم یتخذ ولد** راوړو یعنی رد دشرک ئے اوکړو۔ | ٧۔ | ایت۴ کے یره ورکوی هغو ته چه الله سره نائبان گرزوی۔ |
| ٨۔ | بیان دهغے ثلوروامورو/ خباثتونو او شو چه دهغے په کولوسره کو د نکے دهغے مستحق دعذاب گرزی۔ | ٨۔ | ددغے ثلورونه دڑومبی عمل یوشاخ / خباثت ذکرکوی چه هغه شرک فی العلم دے۔ یعنی ثوک چه بل لره علم غیب ثابتوی نو معذب کیگی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ٩۔ | قران په اعتبار دفهم ثلور حصے دے۔ (١) فاتحے نه مائدے اخرپورے - **الخالق لکل شیٔ هوالله** (٢) انعام نه بنی اسراءیل پورے - **المربی لکل شیٔ هوالله** | ١٠۔ | نودے سورة نه دریمه حصه شروع ده تر سورة احزاب پورے او دریمه مسئله بیانوی - **المبارک فی کل شیٔ هوالله**۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ١٠۔ | مالدار همیشه استهزاء کوی دحق پرستو پورے۔ | ١٠۔ | خباثت یعنی سپک والے ددنیا بیانوی بالوجوه الثلاثه په دریو اسبابوسره۔ |

**امتیازات دسورة**

١۔ سورة ممتازدے په تفصیلی واقعے داصحاب کهف

٢۔ سورة ممتازدے په بیان دهغے دوو روڼوچه یو به په مال فخرکو او بل په ایمان

٣۔ سورة ممتازدے په بیان دخباثت یعنی سپک والی ددنیا بالوجوه الثلاثه

۴۔ سورة ممتازدے په تفصیلی واقعے دحضرت خضرؑ او موسیٰؑ

٥۔ سورة ممتازدے په تفصیلی واقعے د ذوالقرنین

**مقصد دسورة:** (١) نفی دعلم غیب بالواقعاة اربعه۔

(٢) خباثت ددنیا بالوجوه الثلاثه (اشاره ده یکے دیته چه ثوک علم غیب بل لره ثابتوی نو دهٔ کے دنیاوی محبت راغلے دے۔ نو ددے په وجه ددنیا سپک والے بیانیوی په درے اسبابو سره۔

**خلاصه دسورة:** سورة کے ثلور واقعات بیانوی په مسئله دعلم غیب باندے۔

(١) اول واقعه داصحاب کهف بیانوی چه اوگوره وے اولیاء دی مگر دخپل زمانه خبرنه دی۔ ٣٠٩ کاله ئے تیرکړل په غار کے ایت١٩ کے فرمائی چه **قال قائل منهم کم لبثتم قالوا لبثنا یوماً او بعض یوم** اوگوره اوده دی۔ مړهٔ نه دی مگر بیا هم خبرنه دی بقره ٢٥٩ کے دحضرت عزیرؑ واقعه وه چه پیغمبر وو۔ سل کاله مړهٔ پروت وو۔ ثلورسوه موسمونه پرے راغلل لاړل مگر دزان دحاله خبرنه وو۔ هلته هم وو۔ **قال کم لبثت قال لبثت یوماً او بعض یوم** حاصل دا شو چه نه پیغمبر خبر دے نه اولیا کرام خبر دی۔ صرف یو الله خبر دے۔

(٢) دویمه واقعه دنبیؐ په نفی دعلم غیب چه دټولو انبیاؤ سردار دے مگر پته ورته نشته چه صبا به شه کیگی۔ ایت ٢٣ اوگوره: **ولاتقولن لشایٔ انی فاعل ذالک غداً** نو چه پیغمبر ته پته نشته نو بل به ثوک وی چه عالم الغیب به شی۔

(٣) دریمه واقعه دموسیٰؑ او حضرت خضرؑ چه اوگوره دواړه یوزائے روان دی مگر موسیٰؑ ته دحضرت خضرؑ او دهغه دد ریو کارونو دحقیقت پته نشته یو کشتی ماتول بل هلک وژل بل دیوال جوړول۔ او سره ددے چه حضرت خضرؑ دموسیٰؑ نه وعده هم اخستے وه۔ چه اعتراض به نه کوے۔ مگر خپله وعده ترے هیر یگی او اخر کے ورته حقیقت خائی چه ایت ٨٢ **و مافعلته عن امری** (دا کارونه ما دزانه نه دو کړے بلکه الله ماته حکم کړے وو۔ نو دواړه دیو بل حقیقت نه خبرنه دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴) څلورمه واقعه په نفي دعلم غیب ذکرکوي دحضرت ذولقرنین۔ دیکې اختلاف دے چه ایا دے پیغمبر وو۔ یا ولی مګر ولی خو ضرور وو۔ نو اوګوره دیو قوم په ژبه نه پوهیګی۔ نو چه په ظاهر و خبرو دیو بل نه پوهیګی نو عالم لغیب به څنګه شي۔ عالم الغیب خو هغه وي چه په زړه دانسان خبروي۔ او دا صفت صرف دالله دے۔

نو دا څلور واقعے دے دپاره ذکرکوي۔ چه عالم الغیب صرف یو الله دے اولیاء نه ده پیغمبران نه دي نو دعا هم صرف دیو الله نه غواړه۔

کله چه ړومبے دوه واقعے ذکرشي۔ نو بیا خاتمه ثت ددنیا ذکرکوي۔ د دوو روښو واقعے سره په دریو وجوهو سره:

(۱) که ته علم غیب زان لره یا پیرلره ثابتوے نو ته مقصد لره داسے کوے دنیا لره نو دے واقعے کے فرمائي دنیا به درنه وانخستے شي لکه څنګه چه هغے باغ والا نه وانخستے شوه۔ ایت ۴۲ اوګوره

(۲) دویمه وجه (وَمَتَٰعٌ قَلِيلٌ) وخت دے لګ دے لکه دفصل چه خه برابر شي ناګهانه پرے آفت راشي او فصل تباه شي ایت ۴۵-۴۶ اوګوره۔

(۳) دریمه وجه (الدّنیا تکون وبال علیک) دا دنیا به په تا وبال شي ایت ۴۹ آخر کے به بیا وائے چه **یٰویلتنا مال هٰذا الکتٰب**۔۔۔

نو دا دسورة حاصل وو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة مریم مکی (نزولاً ۴۴ بعدازفاطر ترتیباً ۱۹ بعدازکهف)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة کهف | شمار | سورة مریم |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | نفی دعلم غیب اوشوه په واقعاتوار بعاو سره۔ (اصحاب کهف، نبیؐ، موسیٰؑ +خضر او ذولقرنین) | ۱۔ | نفی دتصرف کیګی دپیغمبرانو اوملائیکونه۔ |
| ۲۔ | ایت۴ کےاووے چه دوی اوړوه ددے نه چه وائی چه دالله نا بان دی۔ | ۲۔ | ایت۸۸-۸۹ کے وائی چه داډیره سخته خبره کوی۔ |
| ۳۔ | ایت۱۳ کےاووے چه اصحاب کهف چه کوشش اوکړو نوتوفیق م ورته ورکړو۔ | ۳۔ | ایت۷۶ کے وائی چه صرف اصحاب کهف نه هرچاچه کوشش اوکړو دمسلکے دبیانولو نوتوفیق ورکوم |
| ۴۔ | ایت۳۴ کے بیان دهغے باغ والا دوچه دهغے مالک وئیل چه زۀ ستانه په مال اواولا دسره زیات یم | ۴۔ | ایت۷۷ کے دبل ظالم خبره بیانوی چه ماته به الله قیامت کے ډیر مال اواولا دراکړی۔ |
| ۵۔ | آخردسورة کےاووے چه انما الٰهکم الٰه واحد | ۵۔ | نودے سورة کے رد به هغو دے چه هغوی وائی چه عیسیٰؑ اوبی بی مریم حاجت روا دی۔ |
| ۶۔ | عجزداولیاؤ او انبیاؤ ذکرشو چه انسانانو کے دااوچت مخلوق وو۔ | ۶۔ | ایت۶۴ کے عجز دملائیکو هم ذکرکوی۔ چه جبرائیلؑ هم عاجزدے۔ خپل اختیار نشی چلولے۔ |
| ۷۔ | عجز دموسیٰؑ او خضرؑ بیان شو۔ | ۷۔ | نودلته دنورو انبیاؤ عجز بیانیګی لکه زکریاؑ یحییٰؑ وغیره۔ |
| ۸۔ | ایت۱۵ کے داصحاب کهف رد وو په خپل قوم باندے | ۸۔ | ایت۴۲ کے ترقی ده۔ چه ابراهیمؑ په خپل پلار ردکوی۔ |
| ۹۔ | ایت۱۶ کے بائی کاٹ داصحاب کهف وو دخپل قوم نه | ۹۔ | ایت۴۸ کے دابراهیمؑ دبائی کاٹ اعلان دے۔ |
| ۱۰۔ | ایت۴۸ کےاووے (لقد جئتمونا کما خلقکم اول مرة - بربنډ اوناسنته به ماته راشے) | ۱۰۔ | ایت ۸۰ کے ترقی په ماسبق باندے چه هرشه به ترے واخلم او رابشی مونګ ته تش تور۔ |

**مقصد دسورة:** عجز المصطفین (عاجزی دچنړکړے شوے مخلوقاتو چه داټول عاجزه دی اومتصرف نه دی)

**تقسیم دسورة:** دوه حصے دے: (۱) ایت ۱ - ۶۳ پورے: په دیکے عجز دانبیاؤ او اولیاو بیانوی چه داټول زمینی مخلوق دے عاجزه دی الله ته

(۲) ایت۶۴ - آخرپورے: په دیکے عجز دملائیکو بیانوی چه دا اسمانی مخلوق دے اوخاص طور دجبرائیلؑ چه دملائیکو سردار دے۔

او **خلاصه راوباسی** په ایت ۶۵ کے چه: رب السموٰت والارض وما بینهما فاعبده واصطبر لعبادته۔۔۔

## امتیازات دسورة

(۱) سورة ممتاز دے په راتلو دحضرت جبرائیلؑ په شکل دسړی بی بی مریم ته ایت ۱۷

(۲) سورة ممتاز دے په فکر دانبیاو چه زان نه روستوئے فکرکړے دے دمسئلے بیانولو چه دخلقو اصلاح اوشی هر دور کے ایت ۵

(۳) سورة ممتاز دے په کرامت دبی بی مریم چه کجهورے ورته راغورزیدے او چینه ورته جاری شوه۔ ایت ۲۵

(۴) سورة ممتاز دے په خبر دعیسیٰؑ به ماشوم والی کے ایت ۳۰

(۵) سورة ممتاز دے په حالت دیحییٰؑ ایت ۱۲

(۶) سورة ممتاز دے په بیان دادریسؑ چه په درجو سره الله اوچت کړو۔ ایت ۵۷ (ورفعنٰهُ مکانا علیا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة طٰہٰ (مکی)

(نزولاً ۴۵ بعدازمریم ترتیباً ۲۰ بعدازمریم دواړولحاظوسره مریم نه روستو دے)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة مریم | شمار | سورة طٰہٰ |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | سورۃ الکهف کےنفی دعلم غیب اوشوه۔ په مریم کے په واقعاتو اربعاو سره عجزالمصطفین بیان شو دزمینی اواسمانی دواړو مخلوقاتو۔ | ۱۔ | نو دے سورة کے ترقی ده چه عالم الغیب اومتصرف یے شه کوے چه ابتلوا بالمصائب دو۔ یعنی تکلیفونه پرے راغلی دو۔ او زان نه ئے تکلیفونه نشولرے کولے۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۲۔ | - ایضاً - | ۲۔ | نو دے سورة کے تشجیع فی التبلیغ چه شابه دامسئله بیان کړه په بهادرے سره۔ |
| ۳۔ | حالات دموسیٰ بیان دو اجمالاً | ۳۔ | نو دے سورة کے تفصیل دے۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۴۔ | ایت ۴۳ کے دابراهیمؑ بیان کے رد دالهان باطله په نفی دصفاتو دالوهیت سره اوشو۔ | ۴۔ | نو دلته ایت ۸۹ کے یومثال ددغے الهان باطله پیش کوی چه هغه دسامری جوړکړے شوے یو شے دے چه نه اوری اونه وینی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۵۔ | ایت ۵۱ کے دموسیٰ صفت بیان شوے دو مُخلصا | ۵۔ | ایت ۱۳ کے أنا اخترتک مائے غوره کړے۔ مطلب ست داصفت (مخلصا) زما مهربانی ده۔ |
| ۶۔ | ایت ۵۳ کے اووے چه رور هارونؑ م ورله پیغمبر کړو۔ | ۶۔ | ایت ۳۱ کے دا ذکر کوی چه موسیٰ دخپل رور پیغمبرے دپاره دعاغوستے ده۔ |
| ۷۔ | آخر دسورة کے اووے چه کوم خلق هلاک شول دهغوی شه کش نه اورے۔ اونه ئے وینے | ۷۔ | نو دے سورة کے ددغے هلاک شوو یومثال ذکر کوی چه یو ترے فرعونیان دو۔ |
| ۸۔ | ایت ۹۷ کے ترغیب ورکړو قران ته | ۸۔ | ایت ۱۲۴ کے زجراوتخویف دنیاوی/اخروی ورکوی هغوته چه قران سره تعلق نه ساتی۔ |
| ۹۔ | ایت ۹۷ کے ترغیب الی القران دوچه قران م اسان کړے دے۔ | ۹۔ | ایت ۲ کے تسلی ده چه بیان کړه دا قران مگرکه ثوک نه منی نو ته زړه مه تنگوه۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۴ کے ترغیب الی القران دو۔ | ۱۰۔ | یت ۱۱۴ کے اداب دقران دی۔ چه بیانیگی نو خاموش ورته کینه اوته ورسره مه وایه۔ |
| ۱۱۔ | ایت ۹۷ کے اووے چه قران م اسان کړے دے۔ | ۱۱۔ | ایت ۱۱۴ کے فرمائی چه دالله نه ورسره ورسره سوال هم کوه وقل رب زدنی علما |
| ۱۲۔ | ایت ۶۵ کے اووے چه دالله په عبادت کلک شه | ۱۲۔ | ایت ۱۳۲ کے وائی چه خپل اهل وعیال ته هم ددے حکم ورکړه۔ |
| ۱۳۔ | ایت ۸۷ کے اووے چه دمتوحدینو نه بغیر به دچا شفاعت نشی کیدے۔ | ۱۳۔ | ایت ۱۰۹ کے فرمائی چه چانه الله راضی شو۔ نو دهغه شفاعت به کیگی۔ |

**مقصد دسورة** (۱) ابتلاء علی الانبیاء بالمصائب (دمخکے سورتونو نه په ترقے دے چه علم غیب اوتصرف ئے شه کوے چه مشکلات پرے راغلے دو۔)

په دے حقله واقعه دموسیٰ په تفصیل سره ذکر کوی۔

(۲) تشجیع فی التبلیغ چه شابه دامخکے مسئله بیان کړه خاموش مه کینه۔

## امتیازات دسورة:

(۱) سورة ممتاز دے په واقعه دموسیٰ چه الله ورته اوفرمائیل چه انی انا الله لا اله الا انا فاعبدنی ایت ۱۴

(۲) سورة ممتاز دے په دعادموسیٰ رب اشرح لی صدری....ایت ۲۵-۲۹

(۳) سورة ممتاز دے په هغه وعدے دمناظرے دموسیٰ چه کړے وه د یوم الزینه متعلق۔ ایت ۵۹

(۴) سورة ممتاز دے په بیان د سوزولودهغی سخی چه جوړکړے دو سامری ایت ۹۷

(۵) سورة ممتاز دے په دے چه الله وئیلے دو آدمؑ ته چه ته به په جنت کے نه اوږے کیگے او نه بربنډ یگے۔ ایت ۱۱۸

(۶) سورة ممتاز دے په بیان دسامری چه وئیل به ئے لامساس لامساس بمن شوے دو۔ ایت ۹۷

(۷) سورة ممتاز دے په لفظ طٰہٰ سره۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الانبیاء مکی (ترتیباً ۲۱ بعدازطٰہٰ نزولاً ۷۳ بعدازابراھیم)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة طٰہٰ | شمار | سورة الانبیاء |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | ایت ۱۳۵ کے اووے چہ **کل متربص** هر یوانتظار کونکے دے ذخپل انجام۔ | ۱۔ | نو په شروع ددے سورة کے **اقترب للناس حسابهم** یعنی دغه انتظار ډیر لوے نه دے۔ |
| ۲۔ | ایت ۱۲۴ کے اووے چه څوک قران نه مخ واړوی نو ژوند به ورله تنگ کړم | ۲۔ | ایت ۲ کے اووے چه مخ ښنگه اړوی **الا استمعوه وهم یلعبون** اوری مگر عمل نه کوی۔ |
| ۳۔ | رد دشرک اعتقادی فی العلم او فی التصرف اوشو۔ | ۳۔ | ایت ۹۰ کے ددغے خلاصه راوباسی چه ۱۷ پیغمبران ذکر کړی **انهم یسٰرعون فی الخیرات ویدعوننا رغبا ورهبا** چه اوگوره ټول انبیاء هم عاجزه ووالله ته۔ |
| ۴۔ | عجز دموسیٰ بیان شو۔ | ۴۔ | نو دلته عجز دنورو ۱۷ انبیاؤ بیانیگی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۵۔ | ایت ۱۳۲ کے اووے **نحن نرزقهم** | ۵۔ | نو دلته پرے یو مثال بیانیگی چه اوگوره یونسؑ مے دمَی په خیټه کے ژوندے ساتلے وو۔ |
| ۶۔ | ایت ۱۲۸ کے اووے چه ایا دوی نه گوری چه څومره ډیر اقوام مو تباه کړے دی۔ | ۶۔ | ایت ۱۱ کے علت ددغے تباهے خائی چه زکه مو تباه کړل چه ظالمان وو۔ |
| ۷۔ | کهف کے نفی دشرک فی العلم، مریم کے تصرف طٰہٰ کے عجز او ابتلاء علی الانبیاء بیان شوه۔ | ۷۔ | نو دے سورة کے نفی دشرک فی الدعاده چه هرکله عالم الغیب نه دی۔ متصرف نه دی او خپل زانه مصیبت هم نشی لرے کولے نو ته ورته ولے اواز کوے۔ |
| ۸۔ | ابتلاء دانبیاؤ بیان شوه | ۸۔ | نو دلته اکرام دانبیاؤ **بعد الابتلاء** بیانیگی۔ چه دا انبیاء مو عزتمند کړل۔ |
| ۹۔ | ایت ۱۳۴ کے حکمت د ارسال الرسل بیان شو۔ | ۹۔ | نو دلته ایت ۲۵ کے وائی چه همیشه به دے مسئله دتوحید مو پیغمبران رالیگلے دی۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۹۷ کے اووے چه موسیٰ سخے اوسوزو او دشرک اډه یے ختم کړله۔ | ۱۰۔ | ایت ۵۸ کے فرمائی چه ابراھیمؑ ذخپل قوم بتان مات کړل او دشرک اډه ئے ختم کړله۔ |
| ۱۱۔ | ایت ۱۲۴ کے اووے چه **ومن اعرض عن ذکری**..... | ۱۱۔ | ذکر نه شے دے۔ ایت ۵۰ کے فرمائی **هٰذا ذکر مبٰرک انزلنٰه** |

مقصد دسورة **نفی دشرک فی الدعا باحوال الانبیاء** (نفی دشرک فی الدعا دسورة رعد تم مقصد وو۔ مگر هلته په دلائیلو متنوعا باندے وو۔ نو دلته په حالاتو دانبیاؤ سره نفی دشرک فی الدعا کوی۔ چه اوگوره په هغوی باندے تکالیف راغلی دی نو صرف یو الله ته ئے اواز کړے دے بل چا ته نه۔)

## امتیازات دسورة:

(۱) سورة ممتاز دے په هغه واقعه دابراھیمؑ چه بتان یے مات کړے وو۔

(۲) سورة ممتاز دے په ایت ۱۰۷ **وما ارسلنٰک الا رحمت للعٰلمین**

(۳) سورة ممتاز دے په هغه ایت چه **قلنا یٰنار کونی بردا وسلاما علی ابراھیم**

(۴) سورة ممتاز دے په دعا دایوبؑ باندے ایت ۸۳

(۵) سورة ممتاز دے په عجز د پیغمبرانو په یو زل ایت ۹۰

(۶) سورة ممتاز دے په دعا دیونسؑ باندے ایت ۸۷

(۷) سورة ممتاز دے په هغه ایت چه **وما جعلنا من قبلک الخلد** ایت ۳۴

(۸) سورة ممتاز دے په هغه ایت چه زمکه او اسمان نخت وو۔ نو جدا جدا مو کړل۔ ایت ۳۰

(۹) سورة ممتاز دے په واقعه دفیصلے دحضرت داؤد او سلیمانؑ چه متعلق وه دیو گډبه او یو زمیندار سره ایت ۷۸

## تقسیم دسورة: سورة شپگ بابونه دے:

۱۔ اینت ۱-۱۵: اثبات دقیامت، رسالت کوی او زجر ورکوی منکرینو دقیامت ته او رسالت او قران ته

۲۔ ۱۶-۲۹ دلائیل عقلیه، نقلیه په دعوه دتوحید باندے۔

۳۔ ۳۰-۴۷ دلائیل عقلیه او مقاصد اربعه عایه، تسلی او تخویف

۴۔ ۴۸-۹۵ تنویر په ماسبق په واقعاتو دانبیاؤ سره (دسورة مقصد باندے رڼا اچوی په ذریعه دواقعاتو دد ے ۱۷ انبیاؤ۔)

۵۔ ۹۶-۱۰۴ زجر و تخویف مشرکانو ته او بشارت مومنانو ته۔

۶۔ ۱۰۵-آخر بشارت دنیاوی او اصل مقصد دسورة بیانیگی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الحج مدنی (ترتیبا ٢٢ بعدازانبیاء - نزولاً ١٠٣ بعداز سورة النور)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الانبياء | شمار | سورة الحج |
|---|---|---|---|
| ١۔ | په شروع کے اووے چه اقترب للناس حسابهم (قیامت رانژدے شو) | ١۔ | په شروع ددے سورة کے نشانی ددغے قیامت خائی ان زلزلة الساعة شیء عظيم |
| ٢۔ | رد د شرک اعتقادی اوشو۔ | ٢۔ | نو دے سورة کے رد دشرک فعلی کیګی۔نو په دے وجه یے متصل راوړو۔ |
| ٣۔ | ایت٢ کے اووے دوی مخ اړوی دقران نه۔ | ٣۔ | ایت٢٧ کے ترقی ده۔ چه صرف مخ نه بلکه تندے یے تریو شی په بیان دقران سره۔ |
| ٤۔ | ایت٤٣ کے اووے چه ددوی دا مدګاران امدادنشی کولے ددوی۔ | ٤۔ | ایت١٣ کے وائی چه امداد څه کوے چه ددوی دا اواز دنقصان باعث دے |
| ٥۔ | ایت٣٥ کے اووے عباد مکرمون | ٥۔ | ایت٧٣ کے وائی چه دومره عاجزه دی چه یو مچ هم نشی جوړولے |
| ٦۔ | ایت٢٩ کے دمقربینو تابعداری یے ذکر کړے وه۔ | ٦۔ | ایت١٨ کے دا ذکر کوی چه ټول م تابعداردی که مقرب دی او که غیر مقرب په زبان حال سره۔ |
| ٧۔ | ایت٣٠ کے اووے اسمان او زمکه بندوو۔ ماکولو کړل۔ | ٧۔ | ایت٥ کے داخائی چه څنګه م کولو کړل۔ |
| ٨۔ | نفی دشرک اعتقادی اوشوه | ٨۔ | اعلان دجهاد دے چه دے مسئلے دپاره به جهاد هم کول غواړی۔ |
| ٩۔ | ایت ٢٥ کے اووے چه هر پیغمبر توحید بیان کړے دے | ٩۔ | ایت٥٢ کے وائی چه هر پیغمبر سره مقابله هم شوے ده دشیطان طرف نه۔او خلق یے لمسولے دی |
| ١٠۔ | ایت ١١٠ کے اووے چه الله ستاسو په هر حال باندے پوهدے۔ | ١٠۔ | نو شروع ددے سورة کے وائی چه ددغے الله نه او یریګه خلاف یے مه کوه۔ |
| ١١۔ | ایت٥١ ولقد اتینا ابراهیم رشده | ١١۔ | ایت٢٦ ولقد بوأنا لابراهیم مکان البیت |
| ١٢۔ | ایت ٢٢ کم قصمنا من قریة ثومره ډیرکلی م تباه کړل | ١٢۔ | ذکر ددغے تباه شوو خلقو قوم نوح، هود، هاد، مدین |
| ١٣۔ | دقیامت نه انکار باندے دمشرکانو جګړاوه ایت ١ کے | ١٣۔ | دتوحید نه په انکار باندے دمشرکانو جګړا |

**مقصد دسورة:** رد د شرک فعلی اووضاحت دهغے ټلورو مسئلو چه دے شرک فعلی سره متعلق دی۔ (١) تحریمات الله (٢) تحریمات العباد (٣) نذور الله (٤) نذور العباد۔

**امتیازات دسورة:** (١) سورة ممتاز دے په اعلان درحج دطرفه دابراهیم ایت٢٧ (٢) سورة ممتاز دے په هغے اوامرو چه حاجیانو ته ورکړے شوے دی۔ایت٢٩

(٣) سورة ممتاز دے په مثال دمشرک چه لکه د مردارے او غورزیګی ایت٣١

(٤) سورة ممتاز دے په هغے ایت چه شیطان دانبیاوء بیان کے وسوسے غورزولے خلقوته ایت٥٢

(٥) سورة ممتاز دے په هغے ایت چه قران بیانولے شی نو ددے منکرینو تندے تریوشی۔ ٧٢

(٦) سورة ممتاز دے په عجز دالهانو دمشرکانو چه یو مچ هم نشی پیدا کولے۔ایت٧٣

(٧) سورة ممتاز دے په دلیل عقلی دانسان دپیدائش او په هغے ٥ تفریعات

(٨) سورة ممتاز دے په علاج دمشرک باندے ایت١٥

(٩) سورة ممتاز دے په علت دجهاد باندے ایت٤٠

**تقسیم دسورة:** سورة ٥ بابونه دے: (١) ایت١-١٠ تخویف اخروی، زجر شرکانوته ، اثبات قیامت

(٢) ١١-٢٥ بیان د مشرک، تخویف اخروی دلائیل عقلیه او ذکر دوو ډلو هٰذانِ خصمان اوبشارت

(٣) ٢٦-٣٨ بیان دشرکیا تو اربعاوٴ

(٤) ٣٩-٦٦ حکم القتال، او امور مصلحه اوبیان د دریو ډلو

(٥) ٦٧-آخر دیکے دعوه دسورة، زجر بالشرک، ترغیب فی التبلیغ اومثال د مشرکانو ذکرکولے شی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سورة المؤمنون مکی (ترتیباً ۲۳ بعداز حج نزولاً ۷۴ بعداز الانبیاء)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الحج | شمار | سورة المؤمنون |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | تخلی ذکرشوه یعنی زان نه بدصفات لرے کول/زان خالی کول دبدوصفاتو نه | ۱۔ | نو دے سورة کے تحلی ذکرکیگی چه زان متحلل/حلال کړه په دے خه صفاتو سره۔ |
| ۲۔ | رد د شرک فعلی اوشو۔ | ۲۔ | بیان دتوحید بالادِلة (دلیل عقلی، نقلی، وحی) کیگی۔نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | ایت ۷۲ کے اووے چه دالله کتاب سره دده مخ روانیگی۔ | ۳۔ | ایت ۱۰۴ کے وائی چه آخرت کے به ورله په اور دجهنم کے داغ روان کړم۔ |
| ۴۔ | ایت ۴۸ کے دپخوانو تباه شوے کلو بیان اکړو۔ | ۴۔ | ایت ۵۵ کے ددے امت بیان دے چه که مهلت مه ورکړے دے نو دامهلت شه دخیر باعث نه دے۔ دوی به هم تباه کړم۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۵۔ | ایت ۵ دانسان دپیدائش تفصیل بیان کړو۔ | ۵۔ | نو دلته ایت ۱۲-۱۳ کے پرے ترقی ده۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ٦۔ | آخر دسورة کے دخه کارونو ترغیب ورکړو۔ چه تاسو کامیاب شے۔ | ٦۔ | نو په سر ددے سورة کے دنیکئ نور کارونه بیانوی۔ |
| ۷۔ | ایت ۷۲ کے بیان دهغے سړی اوشو چه قران سره دهغه مخ روانیدو۔ | ۷۔ | په سر ددے سورة کے اوصاف دهغے خلقو چه قران پرے خه لگی۔ |
| ۸۔ | مخکے سورتونو کے بیان دعقائیدو اوشو۔ | ۸۔ | نو دے سورة کے بیان داعمالو کیگی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۹۔ | ایت ۱۹ کے بیان دمثالونو دجنگونو اوشو۔ هٰذٰنِ خصمانِ | ۹۔ | نو دلته ایت ۲۳ نه روستو نور مثالونه دجنگونو بیانیگی۔دتو مونوچلو پیغمبرانو سره۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۷۳ کے اووے چه ټوک غیرالله ته اوازکوی نو دوی خو مچ هم نشی پیدا کولے۔ | ۱۰۔ | ایت ۱۱۷ دغیرالله نه په غوستو باندے دوی سره شه دلیل هم نشته۔ |
| ۱۱۔ | تشجیع فی التبلیغ چه شابه رد د شرک اوکړه چه کامیاب شے۔ | ۱۱۔ | قد افلح المومنون دغه سړے کامیاب شو۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۱۔ | چا چه دتوحید نه مخ واړو او په توحید سره غصه شو۔ | ۱۲۔ | ایت ۱۱۷ انه لا یفلح الکافرون دغه کافرنشی کامیابیدے۔ |

**مقصد دسورة:** اثبات دتوحید بالادلة الثلاثة (عقلی، نقلی، وحی) او رد دشرک اعتقادی و فعلی دواړو۔

**امتیازات دسورة:** (۱) سورة ممتاز دے په اول کے په اوصافو دمومنانو باندے په کثرت کے۔ (۲) سورة ممتاز دے په بیان دجنت فردوس ایت ۱۱

(۳) سورة ممتاز دے په بیان دفائدو دزیتون باندے ایت ۲۰ (۴) سورة ممتاز دے په هغه ایت چه کله مشرک تباه شی نو الحمدلله اووایه ایت ۲۸

(۵) سورة ممتاز دے په تخلیق دانسان باندے مفصل ایت ۱۲-۱۴ (٦) سورة ممتاز دے په بیان دهغے زائے چه کوم زائے کے عیسیٰؑ پیدا او۔ ایت ۵۰

(۷) سورة ممتاز دے په تلفح الوجوه باندے چه مخونه به ورله اوړسوم ایت ۱۰۴ (۸) سورة ممتاز دے په بیان دهغے اودے چه دطور سینا په غر کیگی۔

(۹) سورة ممتاز دے په هغه ایت باندے چه که حق پرست تابع دباطل پرستو شه یعنی رد دمنکر پریدی نو الله به دنیا تباه کړی۔ایت ۷۱

(۱۰) سورة ممتاز دے په اِخسوفیها چه جهنم کے کورے شے سپو۔

**خلاصه دسورة:** سورة ۵ حصے دے: (۱) ۱-۱۱ اوصاف دمومنانو

(۲) ۱۲-۲۲ دلائیل عقلیه په توحید باندے

(۳) ۲۳-۴۹ اَدِلهٔ نقلیه دطرفه دپیغمبرانو نه په مسئله دتوحید او ورسره تخویفات ذکرکولےشی

(۴) ۵۰-۷۷ زواجر او تخویفات اوترغیب الی القران

(۵) ۷۸- آخر دلائیل عقلیه، اثبات دقیامت اوزجر منکرینو ته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة النور مکی (ترتیباً ۲۴ بعداز مومنون - نزولاً ۱۰۲ بعدازحشر)

رابط ماسبق سره:

| شمار | سورة مومنون | شمار | سورة النور |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | دلته هغه صفات بیان شول چه هغې سره انسان خائسته کیگی۔ (تحلی وه) | ۱۔ | نودے سورة کے د هغې اعمالو ذکر دے چه انسان سره بدلگی۔ چه هر کله زان دے مزین کړو په خو صفاتو نو دا بدو صفاتو نه زان اُساته۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ (تخلی ده) |
| | مسئله د توحید ثابت شوه پالا دِله ثلاثه (عقلی نقلی وحی) | ۲۔ | نودے سورة کے په دغه مسئله وضاحت کوی په یو مثال سره (اللهُ نورالسمٰوٰت والارض۔۔۔) |
| ۳۔ | په رسولانو اعتراضونه وو چه دے خوزمونگ غوندے بنده دے۔۔۔ | ۳۔ | نودے سورة کے د نبیؐ په بی بی بدنامه او د هغې صفائی کیگی۔ |
| ۴۔ | ایت ۱۰۱ کے د باطل پرستو خندا گانے د حق پرستو پورے۔ | ۴۔ | نودے سورة کے الزامونه او بدنامے دی۔ د دے امت د خلقو په نور د خلقو۔ |
| ۵۔ | د نوحؑ بی بی د تباہے بیان اوشو۔ (چه هغه نافرمانه د خپل خاوند وه) | ۵۔ | نودے سورة کے د نبیؐ د بی بی د صفائے بیان دے (چه هغه تابعداره د خپل خاوند وه). |
| ۶۔ | ایت ۵ کے د مومنانو صفات لفروجهم یحافظون | ۶۔ | ایت ۲۷ او نورو ایتونو کے د حفاظت طریقے خائی۔ |
| ۷۔ | ایت ۱۱۵ کے فرمائی چه ته م عبث نه ئے پیدا کړے۔ | ۷۔ | په سر د دے سورة کے فرمائی چه په تام شا احکامات فرض کړے دی۔ سورة انزلنٰه وفرضنٰه... |
| ۸۔ | ایت ۵۱ کے فرمائی چه حلال خورے اے تابعدارادو د رسولانو | ۸۔ | ایت ۶۱ کے اداب د طعام خائی۔ |
| ۹۔ | مومن هغه دے چه زنا نه زان بچ کوی۔ | ۹۔ | ظالم زنا کوی۔ |
| ۱۰۔ | مشرک سره په شرک هث دلیل نه دی۔ ایت ۱۱۷ لا برهان له | ۱۰۔ | مثالونه د مشرکانو لکه ایت ۳۹ ۴۰ |

**امتیازات د سورة:** (۱) سورة ممتاز دے په بیان د دفع د فحشاؤ / بے حیائے (۲) سورة ممتاز دے په بیان د مرتبے او صفائے د حضرت عائشہؓ ام المومنین

(۳) سورة ممتاز دے په سزا د تهمت په پاکدامنو باندے۔ چه ۸۰ کوڑے دی۔ (۴) سورة ممتاز دے په مثال د توحید ایت ۳۵

(۵) سورة ممتاز دے په سزا گانو د بدعملو باندے (۶) سورة ممتاز دے په تعلیم چه د تهمت لگونکو گواهی مه قبلوے۔

(۷) سورة ممتاز دے په بیان د درے اوقاتو د پردے۔ (۸) سورة ممتاز دے په بیان د درے قسمه زناورو باندے ایت ۴۵

(۹) سورة ممتاز دے په تعلیم د سلام د ننه کیدو کورته۔ (۱۰) سورة ممتاز دے په بیان د ۲۵ قسمه هغه خپلوانو چه د زنانه ترے پرده نشته۔

**مقصد د سورة:** دفع د فحشاؤ / بے حیائے او دے مقصد د پاره ۴ اصول او ۷ آداب

**څلور اصول دادی:** (۱) ایت ۲ لا تاخذکم بهمارافة چه په مجرم جرم ثابت شی نو بیا پرے رحم مه کوه په مجرم رحم کول په مار/لړم رحم کول دی۔ اگر که د ډیر لوے خاندانه ولے نه دی۔

(۲) ایت ۳ الزانی لا ینکح الازانیة د بدکارو د مجلس نه لرے شے۔ ورنه داخوته د هغو دے صفائی کوے۔ ورته دا معاشرے له ناصور به شی۔

(۳) ایت ۴ والذین یرمون المحصنٰت چا چه نیک خلق بدنام کړل نو ۸۰ دُرے ئے اووهئے۔ زکه چه د حق پرستو بدنامی د حق بدنامی ده۔

(۴) ایت ۶-۹ الذین یرمون ازواجهم.... د لعان مسئله چه سړے او خزه د یو بل نه جدا کړے۔ مطلب دا که یو غلط جماعت کے شامل یے نو اوس ترے جدا شه۔

**اووه اداب د پاره د رد د فحشاؤ دادی:**

(۱) ایت ۲۷ پردی کورته بغیر اجازته مه زه۔ (۲) ایت ۳۰ سړے دِ پردے خزے ته نه گوری۔

(۳) ایت ۳۱ خزه دِ پردی سړی ته نه گوری۔ (۴) ایت ۳۱ خزه دِ خپل ستر (زیب وزینت) پردو سړو ته نه خائی۔

(۵) ایت ۳۲ چه لونډانو (هلکانو/جینکو) ته وادهٔ اوکړے۔ (۶) ایت ۳۳ غلامان که ازادی غواړی نو لیکل ورسره اوکړے او ازاد ئے کړے۔

(۷) جینکئی په بے حیائے مه مجبوروے۔ ایت ۳۳

**واقعه د افک په بی بی عائشہؓ او د هغې صفائی:** د نبیؐ طریقه داوه۔ چه کله به په یو مهم تلو نو هس/قرعه به ئے واچوله او یوه بی بی به ئے ضرور زان سره بوتلله۔ چه کله غزوه بنو مصطلب ته تلو نو بی بی عائشہؓ ئے زان سره بوتله۔ په واپسے کے په یو مقام باندے پړاؤ واچوو د شپے تیر یدو د پاره۔ نبیؐ د معمول مطابق د غه سحر هم وختی پاسیدو او ملگری ئے هم وختی پاسول چه مونز اوکړی او روان شی۔ بی بی عائشہؓ خپل حاجت د پاره لرے تلے وه۔ چه واپس راتله نو د غاړے هار ئے اوشاید و هغه د هغې د مشکنړ و/مرو راټولولو باندے شود۔ په واپس راغله د نو قافله تلے وه۔ اوس دا سوال پیدا کیگی چه قافله بغیر د دے نه څنگه لاړه۔ نو حقیقت دادے چه بی بی عائشہؓ د جسم لحاظ سره ډیره سپکه وه۔ او د غې ورزو کے د پردے حکم هم راغلے وو۔ نو بی بی عائشہؓ داوخ د پاسه په کجاوه/ډولے کے به سوره تله۔ نو چه صحابا و دا کجاوه او چتوله نو دوی ته د ومره پته نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

لګيدے چه دیکے بي بي عائشهؓ موجوده یانه۔ اوګوره نه نبیؐ عالم الغیب دے نه صحابه چه د دنیا غټ اولیاء دي۔ چه نبیؐ په بل پړاو ارام ته قافله کینوله نو چه اوے کتل نو کجاوه کے بي بي عائشهؓ نشته۔ پریشان خوشو مګر مطمن هم وو۔ زکه چه د نبیؐ طریقه به داوه چه قافلے پسے به یے روستو یو صحابي راراوان کړے وو۔ او هغه به د قافلے پاتے شوے سامانونه راوړل۔ په دغے موقع یے حضرت صفوان ابن مُعطلؓ په دے مهم لګولے وو۔ نو نبیؐ مطمن زکه وو چه حضرت صفوانؓ صحابي او امتي د دے رسول دے رسول دے او امتي د رسول روحاني زوے د رسول هم وي نو د پیغمبر بي بي د دے امتي مور هم وي نو مور خپل زوي سره که په سفر زي نو د یکي ئه حرج دے۔ نو چه بي بي عائشهؓ خپل مقام دارام ته راغلے ده نو ګوري چه قافله تلے ده۔ مګر ډیره هوشیاره وه ورته پته وه چه زمونګ د قافلے یوتن روستو راراوان دے هغه سره به لاړه شمه مخکے قافلے پسے به م اورسوی۔ ئادر یے اوغستے دے او ملاسته ده چه حضرت صفوان ابن معطلؓ راورسیدو نو چه شنګه یے په بي بي عایشهؓ نظر پریوتو نو اناالله وانا الیه راجعون یے اووئیل۔ او خپل اوخ یے بي بي عائشهؓ سره نزدے کیناوو داسوره شوه او ده داوخ رسے مخکے نیولے ده او قافلے پسے روان شو۔

دلته منافقانو چیمی ګویانے شروع کړے۔ چه اوے کتل چه بي بي عایشهؓ د حضرت صفوانؓ په اوخ سوره راغله نو دوی اووے چه اوګوره داخبره ده۔ زکه چه منافق خود موقعے تلاش کے وی۔ منافق همیشه په خپله مور هم بدنامه لګوی۔ نو دے منافقو دا اووے چه اوګوره کنه دا بي بي عایشهؓ دے صحابي ته لاره کے لیټ وه کنه۔

بعضے خه خه صحابه هم په دے معامله کے د منافقو خبرے تسلیم کړے۔ زکه چه پروفیګنډه خپل یو اثر لری۔ لکه حضرت مسدحؓ او حضرت حنهؓ۔ نبیؐ یو میاشت پریشانه وو بیا د دے سورة دا ایتونه ۱۱، ۱۲، وغیره چه راغلل نو حقیقت ورته الله کولو کړو۔ صفائي الله دام المومنین خپل کتاب کے اوکړه۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الفرقان

مکی (ترتیباً ۲۵ بعدازنور - نزولاً ۴۲ بعدازیٰس)

ربط ماسبق سره:

| شمار | سورة النور | شمار | سورة الفرقان |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | چه هرکله سورة النور کے اصلاح دعمل اوشوه | ۱۔ | نو سورة الفرقان کے اصلاح دعقیدے کیگی په ایت۲/۵ وغیره کے (یعنی عمل به دے هله په کار شی چه عقیده دے درست وی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | احوال دمنافقینو بیان شول۔ چه دعوه کوی دقران اوسنتو مګر عمل نه کوی۔ | ۲۔ | نو دے سورة کے احوال دمشرکینو بیانیګی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | آخر دسورة کے اودے الاان لِله ما فی السمٰوٰت ولارض... (بیان د توحید وو) | ۳۔ | نو دلته ایت ۲ کے ترقی ده په ماسبق۔ (رد دشرک دے) نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۴۔ | فحشاء دعمل بیان شو۔ | ۴۔ | فحشاء دعقیدے بیانیګی۔ چه هغه په قران اوسنتو باندے اعتراضونه دمنکرینو دی۔ |
| ۵۔ | اول کے اودے مادا سورة رالیګلے دے او فرض کړے م دے۔ | ۵۔ | ایت۳۰ کے دنبیؑ شکایت چه زما دے امت دا فرض قران پریښے وو۔ |
| ۶۔ | دمومنانو صفات ئے بیان کړل په ایت ۶۲ وغیره کے۔ | ۶۔ | ایت۶۳ کے نور اوصاف دمومنانو بیانیګی۔ |
| ۷۔ | اول او مینځ دسورة کے ترغیب الی القران ورکړو۔ بار بار | ۷۔ | ایت۵۲ کے فرمائی وجاهدهم به جهادکبیرا (یعنی دقران بیانولو ته ئے لوے جهاد ویلے دے۔ |
| ۸۔ | اوده آداب بیان شول۔ | ۸۔ | اوده وارے لفظ ضلال ئے راوړو چه دد دے یو یو مسئلے نه توک مخ اړوی نو ګمراه دے۔ |
| ۹۔ | ایت۳۹/۴۰ کے اودے چه کفار اومنافقین تباه دی۔ | ۹۔ | نو ایت۲۷ کے فرمائی چه په لاسونو به چکونه لګوی۔ |
| ۱۰ | ایت۵۴ کے اودے اطیعواالله واطیعوا الرسول۔۔۔ | ۱۰۔ | نو ایت۲۷ کے فرمائی چه چا د رسول اطاعت اونه کړو نو قیامت کے به په لاسونو چکونه لګوی۔ |
| ۱۱۔ | ایت ۳۹ کے اودے چه دد دے مشرک اعمال کسراب (په شان د نظر دهوکے دی) | ۱۱۔ | نو دلته ایت۲۳ کے فرمائی چه اعمال به ئے ګرد و غبار کړو۔ فجعلنٰه هباء منثورا |
| ۱۲۔ | نفی دعلم غیب اوشوه دمخلوق نه چه نبیؑ د خپلے بی بی په حال خبر نه وو۔ | ۱۲۔ | نفی دشرک فی البرکات کیګی۔ په ایت ۱ کے په تبارک الذی نزل الفرقان علی عبده سره۔ |
| ۱۳۔ | ایت۱ (سورة انزلنٰها...) ایت ۴۶ (لقد انزلنا ایٰت مبیّنٰت....) مطلب دا چه قران ما دے نازل کړے | ۱۳۔ | ایت۳۰ وقال الرسول یٰرب... |

مقصد دسورة: اثبات دمقاصدے اربعاو او دفع دشبهاتو دمشرکینو۔

امتیازات دسورة:

۱) سورة ممتاز دے په اعتراضو دمشرکانو او جوابونو په نوے انداز کے۔

۲) سورة ممتاز دے په شکایت دنبیؑ په منکرینو دقران باندے ایت۳۰

۳) سورة ممتاز دے په بیان داوصافو دعباد الرحمٰن باندے ایت ۶۳ نه روستو۔

۴) سورة ممتاز دے په بیان د ترخو او خوګو اوبو او په دیکے پرده راوستو باندے ایت۵۳

۵) سورة ممتاز دے په ایت۵۲ چه دقران بیان ته ئے جهاد کبیر ویلے دے۔

۶) سورة ممتاز دے په لفظ تبارک سره چه درے زله ئے ویلے دے۔

۷) سورة ممتاز دے په ایت۲۳ باندے چه دمشرکانو اعمال ته ئے (هباء منثورا) ویلے دی۔

۸) سورة ممتاز دے په ایت ۲۷ (یوم یعضّ الظالم علیٰ یدیه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سورۃ الشعراء مکی (ترتیباً ۲۶ بعداز فرقان - نزولاً ۴۷ بعدازواقعہ)

ربط ماسبق سره

| شمار | سورۃ الفرقان | شمار | سورۃ الشعراء |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | شروع کے ترغیب الی القرآن دو۔ | ۱۔ | نو دلته هم شروع کے ترغیب الی القران دے۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | ایت ۸ الزام په نبیؐ چه جادوگر دے۔ | ۲۔ | ایت ۳۴ الزام په موسیٰؑ چه جادوگر دے۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | ایت ۵۷ نبیؐ ته حکم دو۔ چه قل لا اسئلکم علیه من اجر | ۳۔ | نو دے سورۃ کے ۵ بار نور رسولان فرمائی چه نه غواړو په دے مسئله ټیکس/مزدوری |
| ۴۔ | ایت ۷۷ مشرکینو د مکے ته: فقد کذبتم | ۴۔ | اووه واقعات د پخوانو اقوامو په فقد کذبتم باندے بیانیګی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۴۔ | ایت ۶۸ مسئله ذکرشوه چه فلا تدعو مع الله الٰها اخر (یعنی شرک مه کوے۔) | ۵۔ | نو دے سورۃ کے دهغے خلقو حال ذکر کوی چه شرک ئے کړے وو۔ |
| ۶۔ | نفی د شرک فی البرکات اشوه درے وارے۔ | ۶۔ | ایت ۲۱۳ کے نفی د شرک فی الدعا کیګی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۷۔ | ایت ۱۷ کے خطاب ذکر دے حق پرستو اولیاؤ/ پیرانو ته ءانتم اضللتم عبادی | ۷۔ | ایت ۹۷: خپله به مجرمان په خپل زان د کفر فتوه اولګوی۔ |
| ۸۔ | اووه وارے ئے لفظ ضلال راوړو۔ | ۸۔ | اووه واقعات د پیغمبرانو او دهغوی د دشمنانو ذکر کولے شی۔ |
| ۹۔ | ایت ۴: اعتراض وو۔ چه داقران د خپله زانه جوړوی دا رسول۔ | ۹۔ | ایت ۱۹۳ کے فرمائی چه داقران روح الامین راوړی۔ |
| ۱۰۔ | استهزاء د مشرکانو د نبیؐ پوزے | ۱۰۔ | نو دلته تسلی ده۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۱۱۔ | اخر د سورۃ کے: فسوف یکونو لزاما (داعذاب به دوی پورے پیوسته شی۔ | ۱۱۔ | اووه مثالون د دغے عذاب ذکر کوی۔ چه منکرینو پورے پیوسته شو۔ |
| ۱۲۔ | ایت ۷۰ کے اووے چه چا توبه اوویسته او ایمان ئے راوړو۔ نو توفیق به د نیکو کولو ورکړم۔ | ۱۲۔ | ایت ۴۶ مثال چه ساحرو توبه اوویسته نو اوګوره شنګه په نیکو کلک شو۔ چه د مرګ نه هم نه یریګی۔ |
| ۱۳۔ | ایت ۱۷ کے مکالمه د نیکانو پیرانو او مشرکانو ذکر وه | ۱۳۔ | ایت ۹۶-۹۷ کے مکالمه د مشرکانو پیرانو او مشرکانو مریدانو ذکر ده۔ |
| ۱۴۔ | ایت ۳ کے رد وو دے امت په مشرکانو باندے۔ | ۱۴۔ | ایت ۶۹ کے رد دے د ابراهیمؑ به خپل پلار او قوم باندے |
| ۱۵۔ | ایت ۱ کے اووے چه شی داقران/رسول مخلوقاتو لره یره ورکونکے۔ | ۱۵۔ | ایت ۲۱۴ کے درته چل خائی چه دایره ورکوول ژوبے د خپل کورنه شروع اکړه۔ |

**مقصد د سورۃ:** **تسلی نبیؐ ته او هر مبلغ ته په واقعاتو د اقوامو سابقینو او دهغوی د انبیاؤ**

**خلاصه د سورۃ:** وضاحت د دوو مسئلو (۱) نجات المومنین (۲) هلاکت الظالمین او په دے اووه واقعات ذکر کوی۔ اوګوره چه چا دا مسئله منلے ده هغوی ته نجات ملو شو لکه ملګری د نوحؑ، دهودؑ دشعیبؑ د صالحؑ وغیره۔ او مخالفین ئے تباه شول۔

په دے سورۃ کے یو دوه الفاظ بار بار راوړی وان ربک لهو العزیز الرحیم چه کله یو واقعه خلاصه کړی نو دا دوه الفاظ آخر کے بیانوی۔ مطلب دا چه اوګوره ستا رب په دشمنانو غالب دے او بل خوا په مومنانو رحم کونکے دے۔

**امتیازات د سورۃ:** ۱) سورۃ ممتاز دے په بیان او اقسام د شعراؤ چه شه خه دی او شه بد۔ خه هغه دی چه د دین خدمت کوی۔ بد هغه دی چه دروغ وائی۔

۲) سورۃ ممتاز دے په مناظرے د فرعون او موسیٰؑ باندے په جدا شان سره یعنی فرعون اعتراضونه کوی او موسیٰؑ جوابونه ورکوی۔

۳) سورۃ ممتاز دے په دعا د ابراهیمؑ واذا مرضت فهو یشفین

۴) سورۃ ممتاز دے په بیان د شعراؤ باندے۔ او په بیان دے چه شعراء هره کنده کے پراته وی۔ ایت ۲۲۵ .

۵) سورۃ ممتاز دے په بیان دے چه بیان شروع کړه د خپله کوره۔ ایت ۲۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة النمل

مکی (ترتیباً ۲۷ بعدازشعراء - نزولاً ۴۸ بعدازشعراء - دواڑولحاظوسره شعراءنه روستودے)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الشعراء | شمار | سورة النمل |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | افتتاح په ترغیب الی القران سره اوشوه۔ | ۱۔ | نو دِدے سورة افتتاح هم په ترغیب الی القران سره کیگی۔ |
| ۲۔ | ایت ۲۱۴ وانذر عشیرتک الاقربین | ۲۔ | نو په دے دوه مثالونه دحیواناتو میگے او هدهد چه دچپل قوم خیرے غوستے وو۔ |
| ۳۔ | آخر دسورة کے ایت ۲۱۳ کے نفی دشرک فی الدعا اوشوه۔ | ۳۔ | نفی دعلم غیب او نفی دتصرف کیگی (یعنی په دے لحاظ سره داسورة په ترقی دے) |
| ۴۔ | آخر کے اودے چه ظالمان به پوهشی په چپل انجام۔ | ۴۔ | انجام دظالمانو ذکرکوی په دے سورة کے۔ |
| ۵۔ | د اوو پیغمبرانو واقعات ئے ذکرکول په دے سورة کے | ۵۔ | نو دلته دوه نور پیغمبران ذکرکوی۔ داودؑ او سلیمانؑ |
| ۶۔ | تسلی وه دے سورة کے نبیؐ ته اوهر مبلغ ته۔ | ۶۔ | زهٔ عالم الغیب یم اومتصرم هم (زڑهٔ مه تنگوه زهٔ به دے بچ کووم) |
| ۷۔ | زهٔ نجات ورکووم اوزهٔ هلاک کووم۔ | ۷۔ | زکه چه زهٔ خبریم په هرچا او په هرشه۔ |
| ۸۔ | فرعون ساحران مقابلے دموسیؑ ته راجمع کڑل | ۸۔ | ملکه بلقیس چپل وزیران خط دسلیمانؑ ته راجمع کڑل۔ |
| ۹۔ | دالله حکم موسیؑ اوهارونؑ ته ایت ۱۵ کے فاذهباالی فرعون لاڑشئ دواڑه فرعون ته | ۹۔ | دسلیمانؑ حکم هدهد ته ایت ۲۸ کے اذهب بکتابی |
| ۱۰۔ | ایت ۱۹۳ داقران جبرائیلؑ راوڑے دی | ۱۰۔ | ایت ۹۲ کے ان اتلوا القران |
| ۱۱۔ | کفارم تباه کڑل اومومنان م بچ کڑل۔ | ۱۱۔ | ایت ۵۹ قل الحمد لله وسلم علی عباده الذین اصطفی |

**امتیازات دسورة:** (۱) سورة ممتاز دے په بیان دمیگی چه دچپل قوم خیرغواڑی ایت ۱۸ دغیره کے۔ (۲) سورة ممتاز دے په واقعه دهدهد باندے ایت ۲۲ وغیره کے۔

(۳) سورة ممتاز دے په تفصیلی واقعه دمملکت دملکه بلقیس باندے۔ (۴) سورة ممتاز دے په ایت ۳۰ باندے چه په دے سورة کے دننه تسمیه بسم الله ده۔

(۵) سورة ممتاز دے په ایت ۳۴ باندے چه انقلاب راشی نو عزتمند خلق بے عزتی او بے عزته عزتمند شی۔

(۶) سورة ممتاز دے په ایت ۳۶ باندے چه دکفارو سیاست مونگ ته خائی چه همیشه مسلمانان په مال دهوکه کوی۔

(۷) سورة ممتاز دے په ایت ۴۸-۴۹ باندے چه دصالحؑ دمرگ بندوبست ئے کڑے وو نهو کسانو۔

(۸) سورة ممتاز دے په یو نوے طریقه دتبلیغ باندے چه کور کے به تبلیغ شنگه کوے ایت ۶۰ نه راخله تر ۶۴ پورے۔

(۹) سورة ممتاز دے په ایت ۸۲ باندے چه پکے ذکر کیگی د دآبة الارض چه دزکے نه به راوزی۔ (۱۰) سورة ممتاز دے په تبسم اوخندا دحضرت سلیمانؑ باندے۔

(۱۰) سورة ممتاز دے په بیان دمیگی اوهدهد باندے (۱۲) سورة ممتاز دے په ایت ۹۲ ان اتلوا القران (۱۳) سورة ممتاز دے په ۵ بار ءاله مع الله سره

**مقصد دسورة:** (۱) نفی دعلم غیب دمخلوق نه (۲) نفی دتصرف د مخلوق نه

**مختصر خلاصه:** (۱) ایت ۱-۶ بطور تمهید دے۔ چه ترغیب الی القران، بشارت مومنانو ته، او تخویف نه منونکو ته او تسلی منونکو ته وغیره بیانیگی۔

(۲) ایت ۷-۱۴ نفی دعلم غیب باندے واقعه دموسیٰؑ ذکرکوی چه اوگوره موسیٰؑ دچپلے لاٹے په حال خبرنشو نو بل ثوک به په علم غیب شه خبر شی۔

(۳) ایت ۱۵-۴۴ واقعه دسلیمانؑ چه بادشاه هم دے او پیغمبر هم دے مگر اوگوره عالم الغیب نه دے۔ دمملکت دملکه بلقیس نه خبر نه دے بلکه هدهد ورته په ڈاگه وائی۔ ایت ۲۲: فقال احطت بمالم تحط به

ددے دواڑو واقعاتو خلاصه راوباسی ایت ۶۵ کے چه قل لا یعلم من فی السمٰوٰت والارض الغیب الا الله.....

اوس په دویمه مسئله چه متصرف زهٔ یمه او بچاوزهٔ ورکووم او مخلوق کے ثوک متصرف نشته به دے دوه واقعات هم بیانوی۔

(۴) ایت ۴۵-۵۳ چه صالحؑ مانچ کڑو دچپل قوم دظالمانو نه

(۵) ایت ۵۴-۵۸ واقعه دلوطؑ راوڑی چه اوگوره دچپل قوم ظالمانو بے عزته کولو نو مانچ کڑو۔

ددے دواڑو واقعات خلاصه راوباسی۔ په ایت ۵۹ کے قل الحمد لله وسلم علیٰ عباده الذین اصطفی ءالله خیر اما یشرکون

ددے ثلورو واقعاتو او دوو مسئلو نه روستو دلائیل شروع کوی په الوهیت د الله باندے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة القصص (مکی)

(ترتیباً ۲۸ بعداز نمل - نزولاً ۴۹ بعداز نمل، پہ دواڑو لحاظو سره د نمل نه پس دے)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة النمل | شمار | سورة القصص |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | خاتمہ د سورة اوشوه پہ امرت ان اتلوا القران | ۱۔ | شروع پہ ترغیب الی القران تلک ایٰت القران المبین پہ دے وجہ ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | - ایضاً - | ۲۔ | نو دے سورة کے تسلی ده چہ هرکلہ قران بیانوے نو خلق بہ درتہ بدے ردے وائی زړه بہ نہ تنګوے۔ |
| ۳۔ | انبیاؤ تہ مے سلا تیا ورکړے وه لکہ موسیٰ هارونؑ لوطؑ وغیره۔ | ۳۔ | د دوی امتونو لره هم ما بچاؤ او سلا تیا ورکړے وو۔ لکہ بنی اسرائیل۔ |
| ۴۔ | نفی د علم غیب د مخلوق نہ پہ واقعاتو د دوو پیغمبرانو | ۴۔ | ایت ۴۴ کے د نبیؐ نہ نفی د علم غیب کوی۔ پہ دے وجہ ئے متصل راوړو۔ |
| ۵۔ | خاتمہ پہ الحمدللہ باندے اوشوه۔ | ۵۔ | علت د الحمدللہ خائی چہ هغہ تباهی د ظالمانو ده۔ |
| ۶۔ | ایت ۶ کے اووے چہ د اقران تاتہ درکولے شی د اللہ د طرف نہ۔ | ۶۔ | ایت ۸۶ اووے چہ کلہ تہ د اقران بیانوے نو خلق بہ دِ شړی۔ خو چہ د مشرکانو ملګر تیا اونہ کړے۔ |
| ۷۔ | ایت ۶۰-۶۴ کے ۵ دلائیل وو د پاره د اثبات د الوهیت د اللہ او رد د شرک | ۷۔ | ایت ۷۱-۷۲ کے اثبات د الوهیت او رد د شرک کوی۔ پہ دے وجہ ئے متصل راوړو۔ |
| ۸۔ | ایت ۸۳ کے اووے چہ ټول بہ جمع کړم صف در صف | ۸۔ | ایت ۷۵ کے وائی چہ د امشران بہ ترے مخکے راوباسم |
| ۹۔ | عالم الغیب او بچ کولو والا زه یم | ۹۔ | بلہ نمونہ د بچ کولو چہ موسیٰ او بنی اسرائیل مانچ کړل د فرعون نہ۔ |
| ۱۰۔ | دلائیل عقلیہ نہ بعد ایت ۶۴ کے مشرکینو تہ چیلنج چہ هاتو برهانکم | ۱۰۔ | نو دلتہ بیا ایت ۷۵ کے چیلنج مشرکینو تہ هاتو برهانکم پہ دے وجہ ئے متصل راوړو۔ |
| ۱۱۔ | نفی د شرک فی العلم پہ واقعاتو د موسیٰ او سلیمانؑ او خلاصہ پہ ایت ۶۵ / ۷۴ کے ده چہ صرف یو اللہ پوهدے پہ هر شہ۔ | ۱۱۔ | ایت ۸۸ کے نفی د شرک فی الدعا کوی۔ پہ دے وجہ ئے متصل راوړو۔ |
| ۱۲۔ | خاتمہ د سورة پہ توحید کوی | ۱۲۔ | نو دا سورة هم پہ توحید سره ختمیګی۔ پہ دے وجہ ئے متصل راوړو۔ |

## امتیازات د سورة

۱۔ سورة ممتاز دے پہ ایت ۱۲ باندے چہ وحرمنا علیہ المراضع (پہ موسیٰ مونږ د نورو خزو پئی بند کړے وو۔)

۲۔ سورة ممتاز دے پہ واقعہ د قتل د قبطی چہ موسیٰ یو موکے/ټوک سره مړ شو۔

۳۔ سورة ممتاز دے پہ ایت ۹ باندے چہ د فرعون خزے اووے چہ قرت عین لی ولک لاتقتلوه

۴۔ سورة ممتاز دے پہ هغے واقعہ چہ موسیٰ د حضرت شعیبؑ د لوڼړو ګډو تہ اوبہ ورکولے وے۔ فسقیٰ لهما

۵۔ سورة ممتاز دے پہ واقعہ د تباهے د قارون ایت ۷۶ وغیره۔

۶۔ سورة ممتاز دے پہ ایت ۸۵ چہ قران مے در باندے فرض کړے دے۔

۷۔ سورة ممتاز دے پہ تفصیلی واقعہ د موسیٰ د پیدائش، پہ دریاب کے د غورزولو، د فرعون کور کے پہ دیدو او لوے دو او مدین تہ پہ تلو باندے۔

۸۔ سورة ممتاز دے پہ مزدورے کولو د موسیٰ حضرت شعیبؑ سره لس کالا

۹۔ سورة ممتاز دے پہ بیان د خزانو د قارون ۱۰۔ سورة ممتاز دے د ناپوهہ خلقو پہ ارمان باندے د پاره د خزانو او ټاټ باټ د قارون

## مقصد د سورة: تسلی محمدؐ تہ پہ واقعہ د موسیٰ حالک کحال موسیٰ

تقسیم د سورة: سورة دوه حصے دے: (۱) ایت ۱- ۴۳: د دیکے اول ۶ ایتونہ بطور براعت استحلال دی۔ براعت استحلال دا مطلب چہ سپوږمئ ځکاره کیدل۔ شنګہ چہ سپوږمئ د اولے ورزے ډیرو کمو خلقو تہ پہ نظر رازی۔ دغہ رنګ براعت استحلال کے یو مفصل واقعہ / خبره پہ مختصر الفاظو کے موجود وی مګر ډیر کم خلق پرے پوهیګی۔ سپوږمئ بیا د روڼیګی نو درے /څلور روزے پس هر چا تہ پہ نظر رازی۔ دغہ رنګ ایت ۷ کے بیا مکمل تفصیل شروع کوی نو پہ دے تفصیلی واقعہ د موسیٰ کے تسلی ده محمدؐ د پاره۔

(۲) ایت ۴۴ - آخر د سورة پورے پہ دیکے بیان د مقاصد اربعہ، زبر ښکر ینو تہ او تزهید من الدنیا ذکر کیګی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة العنکبوت (مکی) (ترتیباً ۲۹ بعدازقصص - نزولاً ۸۵ بعدازروم)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة القصص | شمار | سورة العنکبوت |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | ابتلاء علی موسیٰؑ ذکرشوه۔ | ۱۔ | نو دلته ابتلاء د عامو مومنانو ذکرکولے شی۔نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | تسلی وه محمدؐ ته | ۲۔ | تسلی ده عامو مومنانو ته۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | نفی دشرک فی الدعا وه دے سورة کے په آخری ایت ۸۸ کے۔ | ۳۔ | نو دلته ترغیب فی التبلیغ ذکرکولے شے چه شاپه دا مسئله بیان کړه خلقو ته۔ |
| ۴۔ | دفرعون او قارون دحالاتو ذکر اوشو۔ | ۴۔ | نو دے سورة کے دنورو اقوامو هلاکاؤ حالات بیانیګی۔نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۵۔ | شبهات دمنکرینو ذکرشول۔ | ۵۔ | تباهی دمنکرینو ذکرکولے شی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۶۔ | ایت ۱۵ کے دقبطی عمل ته ئے دشیطن عمل او وے۔ | ۶۔ | ایت ۳۸ کے دنورو منکرینو اعمالو ته ئے اعمال دشیطن ویلیے دی۔ |
| ۷۔ | بیان وو په سر د سورة کے مستضعفین/کمزورے او چتومه ایت ۵ | ۷۔ | نو دے سورة کے سبب داوچتو لو خائی۔ |
| ۸۔ | ایت ۸۵ کے (ان الذی فرض علیک القران لرآدک الی معاد) کے ترغیب الی الھجرت وو۔ | ۸۔ | ایت ۵۶ کے هم ترغیب الی الھجرت دے۔(ان ارضی واسعة فایای فاعبدون) |
| ۹۔ | په بنی اسرائیلو امتحان دفرعون طرف نه | ۹۔ | په مومنانو امتحان دنفس طرف نه/ د والدینو طرف نه/ دنا کاره ملیانو او پیرانو طرف نه۔ |
| ۱۰۔ | ایت ۷ کے الله د موسیٰؑ مور بی بی ته او وے لاتخافی ولاتحزنی | ۱۰۔ | فرشتے لوطؑ ته ایت ۳۳ کے فرمائی لاتخف ولاتحزن |

## امتیازات دسورة

۱۔ سورة ممتاز دے په بیان دمدت دتبلیغ دنوحؑ باندے (ایت ۱۴) چه ۹۵۰ سال ئے تبلیغ کړے وو۔

۲۔ سورة ممتاز دے په بیان دهغے مثال چه دمشرکانو دشرک مثال یے دعنکبوت او دهغه جالے سره لګولے دے۔

۳۔ سورة ممتاز دے په ایت ۴۵ باندے (ان الصلوٰة تنھیٰ عن الفحشاء والمنکر)

۴۔ سورة ممتاز دے په ایت ۴۸ باندے چه اے پیغمبرهٔ نه دے لیکل کولے شول او نه پړهاوول بلکه امی وے۔شوریٰ ۵۲ کے هم دغسے شته مګر په بیل شان۔

۵۔ سورة ممتاز دے په هغے نهو وسوسو دشیطن چه هغے سره سستی پیدا کوی په انسان کے۔ایت ۵۶ او روستونورو ایتونو کے۔

۶۔ سورة ممتاز دے په ایت ۶۹ باندے (والذین جاهدو فینا لنهدینهم سبلنا)

۷۔ سورة ممتاز دے په بیان دابتلاؤ اود هغے په منازلو او مراتبو۔

۸۔ سورة ممتاز دے په بیان دڅلورقسمه عذابونو په یوایت کے ایت ۴۰

۹۔ سورة ممتاز دے په بیان د عنکبوت او دهغه دکور ایت ۴۱ (ان اوهن البیوت لبیت العنکبوت)

۱۰) سورة ممتاز دے په ایت ۵۶ (یٰعبادی الذین امنوا ان ارضی واسعة فایای فاعبدون) چه وطن پریده مګر چه مسئله پرے نه دے۔

## مقصد دسورة : الابتلاء علی المومنین وتسلیة لھم (امتحان په مومنانو او تسلی مومنانو ته)

**خلاصه دسورة** سورة کے دابتلاء/ دامتحان منازل او مراتب ذکرکړی۔یعنی امتحان به دڅا طرف نه رازی، څو مره زمانه به وی۔او په کوم کیفیت به وی۔

منازل دامتحان درے دی: (۱) ړومبے امتحان دنفس طرف نه به وی ایت ۶۔ مګرزان به کلکه وے۔ړومبے به دے قران نه منع کوی داڅو ګران کتاب دے۔داخو اوس شروع شو په نشته چه کله به ختمیګی۔

اوکه زده کړے داقران نو بیا به دبیان ته نفس نه پریدی چه زان لره جګړه وے مه ګوره۔ خپل قبر کے به سملی او خپل قبر کے به سملم۔نو ړومبے ازمائش دنفس طرف نه به وی۔

(۲) دویمه ابتلاء دوالدینو طرف نه ایت ۸۔ هغوی به دے بیان ته نه پریدی۔وائی به چه ولے مونګ خو ملیان نه یو۔فی الحال دا ستا دکالج او نوکرے وخت دے۔مګر ددین مقابله

کے به دمور او پلار نه منے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) چه د موږ پلار د دین مقابله کے او نه منے نو دوی به لا اوس شی ملا عنکبوت به د ریسے مناظرے د پاره راولی۔ د غے ملا ته به ستا په مخکے وائی چه د اهلک راته چاروان کڑے دے۔ نو دے به درته وائی چه اختلافی مسئلے مه چیڑه۔ که ته ورته او وائے چه مولوی صاحب که چرے زه بیان او نه کڑم نو الله به مے او نیسی۔ گناهگار به شم۔ نو دے به درته وائی چه گناه دے زما به غاړه۔ اے زما او منه و لے زه درته نا پوهه خکارم شه۔ و لے ما د کډ وانو پاڼڑے وئیلے دی شه۔ ایت ۱۲ ورته د دے سورة پڑهاو کڑه۔ د دے سره به د املا او تختی بیا به په شانه گوری۔ او ته به د ا مقابله او گٹے۔

نو درے منازل شو د امتحان: ۱) د نفس طف نه ۲) د ناپوهه والدینو طرف نه ۳) د ناکاره ملیانو/ پیرانو طرف نه

اوس د دے نه پس مراتب د امتحانونو۔ (۱) چه ثو مره زمانه به د ا امتحان وی۔ کال دوه درے۔۔۔۔۔۔ نو دے د پاره واقعه د نوحؑ ئے راوڑله۔ چه که عمرِ د نوحؑ هومره و لے نشی نو امتحانات به خلاص نشی۔ ټول عمر دے مقابله ده۔ داتر دے او بڑ۔ پورے نه ده بلکه داتر دے اوتر میرے پورے ده۔ (هغه واقعه د زمیندار/ گیډی/ او د هغه د خزے)

(۲) د ا امتحان به وی ثو مره سخت۔ نو واقعه د ابراهیمؑ ئے راوڑله۔ ایت ۱۵ نه بعد چه اُور کے به او غورزولے شے ایت ۲۴: **قالوا حرقوه او اقتلوه**

نو دوه مراتب شو۔ (۱) ثو مره مده به وی - ټول عمر (۲) ثو مره سخت به وی - لکه چه اُور کے او غورزولے شے۔

ایت ۵۶ نه روستو هغه نهه/ ۹ وسوسے دفع کوی۔ (۱) شیطان به درته وائی۔ چه ملک یا جماعت نه به دے او شڑی۔ نو جواب **ان ارضی واسعة**

(۲) ثوک به دے مڑ کڑی۔ جواب ایت ۵۷ کے **وکل نفس ذائقة الموت**

(۳) د لته دے کور دے د ا به در نه پاتے شی۔ جواب ایت ۵۸ کے جنت کے مے درته ماڼڑے یارے کڑے دی۔

(۴) د لته دے کاروبار دے تجارت/ نوکری ده۔ جواب ایت ۶۰ کے هیث جاندار زان باندے خپل رزق نه دے بار کڑے۔

(۵) د لته دے خلق تابعداری ستا مسئلے بیا نو لو سره به د اخلق ستا مخالف شی۔ جواب ایت ۶۱ کے چه الله به درته د نمر او سپو گمئے پشان غٹ غٹ خلق تابعدار کڑی۔

(۶) او به به در باندے بند کڑی فصل به دے او چ شی۔ جواب ایت ۶۳ کے باران به در باندے او کڑم پٹے به درته اباد کڑم۔

(۷) د لته ژوند خه دے مزے دی۔ خلق درته تخفے راوڑی۔ جواب ایت ۶۴ کے اصل ژوند د آخرت دے۔

(۸) یره ټیک نه لاڑ به شم د دے زائے نه مگر ــوار لی نشه جواب ۶۵ کے کشتے/ گاډی مے ډیر پیدا کڑے دی۔

(۹) یره هغه بل زائے به تنگه وی۔ هسے نه چه هغه خلق ما یا زما بچی مڑه کڑی۔ جواب ایت ۶۷ شنگه چه الله حرم ته امن ور کڑے دے دغسے به تا ته هم امن در کڑم

آخر کے بیا ترغیب فی التبلیغ دے۔ **والذین جاهدو فینا لنهدینهم سبلنا** ایت ۶۹ د دے سره سورة ختم شو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الروم (مکی)

(ترتیباً ۳۰ بعداز عنکبوت - نزولاً ۸۴ بعد از انشقاق)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة العنکبوت | شمار | سورة الروم |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | مصائب د مومنانو بیان شول۔ او تسلی نبیؑ ته په بیان د مخکے پیغمبرانو۔ | ۱۔ | نو بشارت دے مومنانو ته (مصائب برداشت کړه نو الله به دربانده خوشحالی راولی) لکه څنګه چه الله پاره ۳۰ کے فرمائی۔ ان مع العسر یسرا |
| ۲۔ | مصائب او امتحان په مومنانو بیان شو۔ | ۲۔ | نو دلته هغه اصل مسئله بیانوی چه دهغے په وجه امتحان رازی۔<br>او بل تشجیع بالتبلیغ۔ فاصبران وعدالله حق په ایت ۶۰ کے |
| ۳۔ | آخر کے اووے ان الله لمع المحسنين | ۳۔ | ایت ۴ کے د دغے خصوصی امداد مثال چه بدر ینو سره الله کړے وو۔ نو دغسے نورو مومنانو سره هم کوی۔ |
| ۴۔ | مسئله د توحید ذکر شوه۔ | ۴۔ | نو دے سورة کے عقلی دلائیل په کثرت سره ذکر کولے شی |
| ۵۔ | ایت ۱۴-۱۵ کے اوفرمائیل چه د نوحؑ ملګری مے خلاص کړل۔ | ۵۔ | ایت ۴۷ کے قانون ذکر کوی۔ چه پیغمبرانو مومنانو بچاو زما قانون دے همیشه هغوی بچ کوم۔ |
| ۶۔ | ایت ۹ کے اووے چه چا مسئله او منله او بیان ئے اوکړو نو نیکانو خلقو کے به ئے شمار کړم۔ | ۶۔ | ایت ۱۵ کے په هغے زیادت کوی چه دنیا خوشه چه آخرت کے به یے په باغچو کے دننه کړم۔ |
| ۷۔ | ایت ۶۵ کے اووے چه کشتئی کے چه تکلیف راشی۔ نو صرف الله ته اواز کوی۔ | ۷۔ | ایت ۳۳ کے پرے ترقی ده۔ چه صرف کشتئی کے نه بلکه هر تکلیف کے یا الله یا الله فریاد کوی۔ |
| ۸۔ | دے سورة کے د اقوام سابقه دهلاکتو نو بیان اوشو۔ | ۸۔ | نع دے سورة کیایت ۴۱ فرمائی چه عذاب چه څو مره رازی۔ که په او چه وی یا په لونده۔ دا د خپلو اعمالو دوجے رازی۔ |
| ۹۔ | شروع او خاتمه دواړه په ترغیب الی الجهاد سره اوشوه۔ | ۹۔ | خوشخبری د فتحے مومنانو ته |
| ۱۰۔ | د جولاګی مثال په دفع د شرک ذکر شو۔ | ۱۰۔ | نو دے سورة کے د مالک او غلام مثال په دفع د شرک ذکر کولے شی په ایت ۲۸ کے۔ |
| ۱۱۔ | چه په مصائبو برداشت دے اوکړو۔ | ۱۱۔ | ایت ۱۵ کے فهم فی روضة یحبرون |

**امتیازات دسورة:** ۱۔ سورة ممتاز دے په واقعه د رومیانو د شکست وقتی طور او روستو بیا په فتحے دهغوی۔

۲۔ سورة ممتاز دے په ایت ۷ چه بے دینه په دنیا خه پوهیګی لیکن په آخرت/ دین نه پوهیګی۔

۳۔ سورة ممتاز دے په ایت ۳۰ باندے چه ټوله دنیا الله تعالی به توحید/ دین فطرت پیدا کړے ده۔

۴۔ سورة ممتاز دے په ایت ۴۱ باندے چه که فساد په او چه رازی او که په لونده۔ دا په سبب د اعمالو رازی۔

۵۔ سورة ممتاز دے په بیان د فرق صحیح خیرات او غلط خیرات ایت ۳۹

۶۔ سورة ممتاز دے په دوو هغو الفاظو چه ایت ۲۱ کے فرمائیلی دی۔ مودة و رحمة چه د میاں بیوی په مینز کے مے مینه اچولے ده۔

۷۔ سورة ممتاز دے په ایت ۵۴ خلقکم من ضعف چه انسان د کمزورے شی نه پیدا دے۔

۸۔ سورة ممتاز دے په ایت ۲۸ چه انسان خپل زان سره شرک نه خوخوی نو الله به زان سره څنګه شرک خوخ کړی۔

۹۔ سورة ممتاز دے په یوے ورزے د دو فتحو سره قیصر (روم) په کسریٰ (ایران) باندے او جنګ بدر

۱۰۔ سورة ممتاز دے په ایت ۲۷ چه بعث بعد الموت الله ته ډیر اسان دے وَهُوَ أَهْوَنُ عليه

**مقصد دسورة:** بیان د دوو خبرو (۱) البشارة للمومنین (نبیؐ او مومنانو ته بشارت)

(۲) ادلة العقلیه بالتوحید وبعث بعد الموت (په توحید او دوباره ژوند باندے عقلی دلائیل)

(خلاصه دسورة بل مخ ته اوګوره)

(خلاصه دسورة بل مخ ته اوګوره)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلاصه دسورة:

درسالت دنبیؐ پنزم یا شپګم کال دے په دغه زمانه کے دقیصر (بادشاه دروم) او کسرٰی (باشاه دایران) جنګ شوے دے کسرٰی دایران بادشاه ته به ئے وئیل۔او قیصر به ئے دیورپ بادشاه ته وئیل لکه شنګه چه الیزبتهٔ ون تو دانګلینډ بادشاهانو ته به ئے وئیل۔اګر چه ددوی ځپل تونمونه به نور وو۔نو دے جنګ کے رومیانو/ قیصر بادشاه شکست اوخوړو۔ چونکه رومیان اهل کتاب یعنی عیسیان وو۔او کسرٰی/ ایرانیان آتش پرست وو۔مشرکان وو۔ نو ددے مشرکانو په دے فتحے باندے د مکے مشرکان خوشحاله شول۔جشن ئے مناو کړو۔او نبیؐ او صحابو ته به ئے اشاره کوله چه مونګ به هم دوی ته شکست ورکوو۔ یعنی د ے مکے والود ایرانیانو د فتحے قیاس په ځپل زان اوکړو۔ اود رومیانو د مغلوب کیدو قیاس ئے په مومنانو اوکړو۔نو بل طرف ته نبیؐ او صحابا خفه وو۔اګر چه رومیان هم مشرکان وو۔مګر بیا هم اهل کتاب وو۔او مسلمانانو سره لګ شان مشترک وو۔چه آسمانی کتاب ورسره کم از کم خو وو۔ نو د غیرتی سړی کار دے۔

نو د یکے دا ړومبی ایتونه ازغلل۔نو چه شنګه ابوبکرؓ دا ایتونه واوریدل نو فوری د نبیؐ د تپوس کولو نه بغیر منډه کړے دی۔او کافرو ته وائی چه مه خوشحالیګے درے کاله کے ستاسو ملګری به شکست خوری۔اګوره داسے کلک یقین په قران د صحابا و وو۔نو اُبی ابن خلف (چه رسولؐ په جنګ کے روستو بیا قتل کړے وو) هغه اووے چه دا دروغ دی۔هغے ورزو کے شرط لا حرام نه وو۔یادساتے چه شرط جواری ده۔ مګر هغے ورزو کے لا د حرمت حکم نه وو را غلے۔نو که درے کاله بعد رومیان غالب شی نو لس اوخان به ابی ابن خلف ابوبکر ته ورکوی او کے غالب نشی نو ابوبکر به ابی بن خلف ته ورکوی۔ابوبکر محمدﷺ ته راغے چه ما داسے اکړل۔نبیؐ ورته اووے چه د لفظ بضع اطلاق صرف په دریونه بلکه د دریونه تر نهو پورے کیګی نو دوباره ورشه او داوخت د دریونه نهه کاله کړه او شرط ورسره دلسو او خانو نه سل اوخان کړه۔ ابی ابن خلف په دے شرط نور هم خوشحاله شو۔ په دے دوران کے دوی ځپل زامن یو بل ته په ضمانت کے مخامخ کړل که چرے مرګ راشی یا هجرت اوشی نو د دغے مرده یا مهاجر زوے به دغه شرط ادا کوی۔

په کومه ورز چه جنګ بدر لړ او شو۔او مسلمانان فاتح شول نو هم به دغه ورز رومیان هم غالب شول په ایرانیانو باندے۔

د دے رومیانو د فتحے اسباب شه وو۔ شیخ القران وئیل چه رومیانو نه ایرانیانو فوج چاپیره پروت وو نو رومیان ډیر تنګ شول۔آخر کے ایرانیانو ته د صلحے درخواست او کړو۔ایرانیانو اووے چه ټیک ده صلحه به اکړو مګر تاسو به مونګ ته ۴۰۰ اوخان ډک د سونے راکوے۔رومیانو اووے چه ټیک ده۔در به کړو۔مګر دلته مونګ سره نشته بلکه زمونګ د ملک په مختلفو زاینو کے دفن کړے ده۔هغه به راوباسو۔او تاسو ته به ۴۰۰ اوخان ډک د سونے برابر کړو۔ ایرانیان راضی شول۔

رومیانو ۸۰۰ صندوقونه جوړ کړل او په هر اوخ ئے دوه دوه صندوقونه بار کړل او هر صندوق کے دوه دوه فوجیان سره د اصلحے بند کړل۔او یو یو سړے/ فوجی او خ سره روان شو۔نو دغسے یو یو اوخ سره ۵، ۵ سړی شول ټول ۲۰۰۰ فوجیان شول۔ او په طرف د ایران روان شول چه هر کله د محاصرے نه اووتل۔نو فوجیان د صندوقونو نه راووتل۔او لاړل د کسرٰی به دار الخلافه ئے حمله او کړله او هر شه ئے لوټ کړل زکه چه دهغوی ټول فوج خو دلته په روم کے مصروف وو۔نو دلته کسرٰی او دهغے فوج ته ئے خبر ورکړو۔چه راشه د ملک د حال خبر دے واخله۔په روم د ایرانیانو محاصره ختم شوه۔رومیان غالب شول۔او چه هر کله دا ایرانیان د روم نه واپس په طرف د ځپل وطن زی۔نو د ایران طرف نه ورته هغه ۲۰۰۰ فوج را مخامخ کیګی او دے روم طرف نه ورته نور رومیان د شا طرف نه کیګی او خه سم یے دل دول کوی۔چه بیا ئے چرے هم په روم د حملے همت نه دے کړے شوے۔

نو اشاره ده مکے د ے ته چه که نن تاسو لګ ئے او کمزورے ئے نو سبا به الله تاسو غالب کړی نو سورة کے تسلی ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورۃ القمان مکی (ترتیباً ۳۱ بعداز روم - نزولاً ۵۷ بعدازسورۃ الصف)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورۃ الروم | شمار | سورۃ لقمن |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | اثبات دتوحید باالادلۃ عقلیہ اوشو۔ | ۱۔ | نو دلتہ اثبات دتوحید بالا دلۃ ثلاثہ (یعنی عقلی نقلی او وحی درے واڑه سره کیگی) |
| ۲۔ | آخر کے ئے اوفرمائیل فاصبران وعداللہ حق | ۲۔ | ایت ۱۷ کے فرمائی واصبر علی ما اصابک ان ذالک من عزم الامور (یعنی دا پہ تکلیف کے کلکیدل دزوانا نو خلقو کار دے) نو پہ دے وجہ ئے متصل راوڑو۔ |
| ۳۔ | ایت ۳۵ کے اووے آیا دے مشرکانو سره پہ شرک شہ دلیل شتہ ۔ یعنی نشتہ | ۳۔ | ایت ۱۱ کے فرمائی چہ فارونی ما ذاخلق الذین من دونہ نو پہ دے وجہ ئے متصل راوڑو۔ |
| ۴۔ | ایت ۳۱ کے اووے چہ لاتکونن من المشرکین (یعنی رد دشرک نہ کول مشرک سره پہ شرک کے امداد دے) | ۴۔ | ایت ۱۳ کے فرمائی چہ ان الشرک لظلم عظیم نو پہ دے وجہ ئے متصل راوڑو۔ |
| ۵۔ | ایت ۲۷ کے اووے ولہ المثل الاعلیٰ (اللہ لره صفات دی اوچت اوچت پہ اسمانو نو کے هم او په زمکہ هم) | ۵۔ | ایت ۲۷ فرمائی چہ داللہ دومره صفات دی چہ کہ داٹول سندونہ سیاحی شی۔ او ورسره اووه نور شی اوداٹو لے اونے قلمونہ شی نو داللہ صفات بہ خلاص نشی۔ |
| ۶۔ | دلتہ بشارت دو مومنانو تہ دفتحے | ۶۔ | نو دے سورۃ کے بیان دھغے مسئلے (توحید) چہ دفتحے سبب جوڑ یگی۔ |
| ۷۔ | شروع کے بشارت مومنانو تہ | ۷۔ | نو دلتہ اوصاف دمومنانو ذکر کو لے شی۔ نو پہ دے وجہ ئے متصل راوڑو۔ |
| ۸۔ | ایت ۵۸ کے اووے ولئن جئتھم بایۃ (کہ چرے تہ ورتہ معجزه راوڑے هم نو نہ منی) | ۸۔ | ایت ۷ کے فرمائی واذاتتلیٰ علیہ ایٰتنا ولی مستکبرا نو پہ دے وجہ ئے متصل راوڑو۔ |
| ۹۔ | ایت ۲۷ کے اووے چہ دوباره پیدائیش ددے خلقو ماتہ اسان دے وھواھون علیہ | ۹۔ | ایت ۲۸ فرمائی چہ ادوباره پیدائش دٹولو خلقو دومره اسان دے لکہ دیو انسان پیدائیش |
| ۱۰۔ | ایت ۳۳ کے اووے چہ تکلیف کے ماتہ اواز کوی (واذا مس الناس ضر دعوا ربھم منیبین الیہ۔۔۔) | ۱۰۔ | ایت ۳۲ وائی کلہ چہ ئے موجونہ دسند دوی لره راگیر کڑی نو ماتہ چغے وخی |

**مقصد دسورۃ:** اثبات دتوحید بالا دلۃ ثلاثہ (عقلہ نقلیہ وحیہ)

## امتیازات دسورۃ:

۱) سورۃ ممتاز دے پہ تفصیلی واقعہ دحضرت لقمٰن چہ ۱۲ نصیحتونہ (اوامر و نواھی) ئے بیان کڑے دی۔

۲) سورۃ ممتاز دے۔ پہ رد د آلاتو د موسیقے باندے صریحۃً ۔ھسے خو سورۃ بنی اسرائیل کے هم شتہ مگر هلتہ اشارۃً وو۔ او دلتہ صریحۃً

۳) سورۃ ممتاز دے۔ پہ ایت ۲۷ چہ کہ داٹول سندونہ او ددے هومره نور اووه سندونہ سیاحی شی او اوونے قلمونہ شی نو داللہ صفات بہ خلاص نشی۔

۴) سورۃ ممتاز دے۔ پہ آخری ایت چہ ۵ مغیبات ذکر کوی۔ چہ ددے پنز و خبر و یا کار و نو علم غیب صرف اللہ تہ دے۔

۵) سورۃ ممتاز دے پہ ایت ۳۳ باندے چہ پلار زوی تہ پہ ورز د قیامت باندے شہ فائده نشی رسولے۔

۶) سورۃ ممتاز دے پہ ایت ۱۹ باندے چہ فرمائی چہ آوازونو کے بد اواز دخر دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سورة السجده (مکی) (ترتیباً ۳۲ بعداز لقمن - نزولاً ۷۵ بعدازمومنون)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة لقمن | شمار | سورة السجده |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | دعوه دتوحید په دلائیلو ثلاثاوَ سره بیان کړے شوه۔ | ۱۔ | نو دلته رد د شرک کیګی ایت۴ کے مالکم من دونه من ولی ولاشفیع نو په دے وجه ئے متصل راوړد |
| ۲۔ | ایت۳۰ کےاووے چه دالله رابلل حق او دمخلوق رابلل ناحق او باطل دی۔ | ۲۔ | ایت۵ کے فرمائی: یدبرالامر (یعنی زکه الله رامدکړه چه تدبیر دکارونوکوی۔) |
| ۳۔ | آخر دسورة کے اووے یعلم مافی الارحام | ۳۔ | ایت۷ کے فرمائی الذی احسن کل شیء خلقه وبدا خلق الانسان من طین |
| ۴۔ | ایت۲-۳ کے صداقت دقران اوشو۔ | ۴۔ | ایت۲ ترقی ده چه دا کتاب د رب العلمین طرف نه دے۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۵۔ | ایت۷ کے اووے چه قران واوری نو واوړی لکه چه په غوګونو کے پردے دی۔ | ۵۔ | ایت۹ کے فرمائی چه په نورو اندامونو هم دقران نه اوړی۔لکه په سترګو، په غوګونو په زړه سره۔ وجعل لکم السمع والابصار والافئدة قلیلا ما تشکرون |
| ۶۔ | آخری سورة کے نفی دعلم غیب اوشوه۔ | ۶۔ | ایت۶ کے فرمائی چه ذالک عالم الغیب والشهادة نو په دے وجه ئے متصل راوړو |
| ۷۔ | ایت۳۲ کے دمشرکانو صفت ئے بیان کړو۔ چه کله سختی راشی نو صرف یوالله ته اوازکوی او په راحت کے بیا بل ته۔ | ۷۔ | ایت۱۶ کے دمومنانو صفت فرمائی چه هر وخت کے صرف یوالله ته رامدد شے وائی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۸۔ | ایت۷ کے اووے چه شه خلق قران واوری مګر بیا دقران خلاف کوی۔ | ۸۔ | ایت۲۲ کے وائی چه دغه خلق غټ ظالمان دی۔ انتقام به ترے اخلو۔ |
| ۹۔ | ایت۱۰ کے اوفرمائیل خلق السموت بغیر عمد ترونها | ۹۔ | ایت۴ کے فرمائی چه دا هر شه ے ۶ دن کے پیدا کړل |
| ۱۰۔ | ایت۲۱ کے فرمائی چه دقران په ځائے د ځپلو مشرانو د دین تابع دی۔ | ۱۰۔ | ایت۳۰ کے فرمائی چه ټوک دقران تابع نه دی نو تعلق ورسره کټ کړے۔ |
| ۱۱۔ | مسئله دتوحید ثابت کړے شوه په دلیل نقلی سره دطرفه دحضرت لقمن نه | ۱۱۔ | مسئله دتوحید ثابتیګی دلته دطرفه دحضرت موسیٰؑ نه۔نو په دے وجه ئے متصل راوړو |

## امتیازات دسورة:

۱) سورة ممتاز دے په ایت۵ باندے چه الله فرمائی چه زهٔ تدبیرکوم دکارونو دبره نه ر حکته پورے

۲) سورة ممتاز دے په ایت۱۰ باندے چه قول دمشرکانو وقالوا ءاذا ضللنا فی الارض ءانا لفی خلق جدید

۳) سورة ممتاز دے په ایت۱۵-۱۶ باندے چه اوصاف دمومنانو بیانوی چه قران واوری نو عمل پرے کوی او د شپے په اوګدو خوب نه کوی۔

۴) سورة ممتاز دے په ایت ۲۱ باندے چه عذاب دقبر بیانوی ولنذیقنهم من العذاب الادنیٰ دون العذاب الاکبر

۵) سورة ممتاز دے په ایت۱۷ چه الله فرمائی فلا تعلم نفس ما اخفی لهم من قرة اعین چه ما داسے نعمتونه پیدا کړے دی۔ چه انسان دهغے دتذکرے نه هم خبرنه دے۔

## مقصد دسورة: رد د شبهے دمشرکانو چه باباګان/ اولیاء به مونږ خلاصوی۔

(۱) داشبهه دسر نه راروانه ده ۔ اوله شبهه داوه چه دوی سره اختیار دے۔وغیره وغیره نو سورة انعام کے هغه شبهه ختم کړے شوه۔

(۲) نو چه ددغے شبهے نه راکوزشول نو بله شبهه دے مشرکانو شروع کړله چه زمونږ سوال الله ته پیش کوی۔نو سورة یونس کے دغه شبهه ئے هم ختم کړله۔

(۳) نو دلته بیا هم دغه شبهه چه مونږ ورته خدایان خونه وایو۔مګر داچه زمونږ شفاعت به کوی۔اودالله نه به موخلاصوی۔ نو ایت۴ کے ددغے شبهے رد کوی۔چه مالکم من دونه من ولی ولاشفیع

(۴) مطلب داچه داسورة تفریع دے په مخکو ددو سورتونو (سورة روم او لقمن) چه هرکله تاسو دغے دوو سورتونو کے دلائیل عقلی، نقلیه، وحیه درے واړه واوریدل نو اوس داعقیده خپله کړه ۔چه مالکم من دونه من ولی ولاشفیع

(۵) یو حدیث کے راذی چه نبی ﷺ به کله اوده کیدو نو سورة السجده او سورة ملک به ئے اووے مطلب داچه (وثیابک فطهر) زهٔ اودګیګم په دے عقیدے سره چه بل ټوک خلاصونکے نشته او بل ټوک برکت اچونکے نشته۔

(۶) اشاره دیته ده چه قران ته ناست نه ئے نو شبهات نشی ختمیدے۔ نه شرک فعلی نه اعتقادی۔ کتب انزلناه الیک لتخرج الناس من الظلمت النور دلفظ ظلمت نه مراد هم دغه شبهے او شکوک وشبهاتو ته اشاره ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورة الاحزاب

(مدنی) ترتیباً ۳۳ بعداز الم السجده - نزولاً ۹۰ بعداز ال عمران

ربط ماسبق سره:

| شمار | سورة الم السجده | شمار | سورة الاحزاب |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | رددشبهے دمشرکانو اوشو۔ اودا ثابت شوه چه حاجت رواصرف یو الله دے۔ | ۱۔ | نو دلته دد ے مسئلے وضاحت دپاره درے مثالونه ذکرکوی په ایت ۴ کے |
| ۲۔ | آخرکے اووے چه مخ ترے واړوه چه ثوک قران نه منی۔ | ۲۔ | ایت ۱ کے فرمائی چه صرف مخ نه بلکه خبره ئے هم مه منه لاتطع الکفرین والمنافقین |
| ۳۔ | رد د شرک وو۔ | ۳۔ | نو دلته رد د رسم باطل (مطلب دا چه صرف رد د شرک نه بلکه رد د رسم باطل به هم کوے۔ |
| ۴۔ | ایت ۱۵-۱۶ کے اوصاف د مومنانو بیان شول۔ | ۴۔ | ایت ۳۵-۳۶ کے نور اوصاف د مومنانو بیانیګی۔ |
| ۵۔ | رد د مشرکانو اوشو۔ | ۵۔ | نو دلته ایت ۹-۱۱ کے د مشرکانو مستی بیانیګی چه هغوی په مدینه حمله کړے وه یعنی جنګ احزاب |
| ۶۔ | ایت ۴ کے اووے چه ما زمکه او اسمان ۶ لحو کے پیدا کړے دی۔ | ۶۔ | ایت ۲۷ کے دا بیانوی چه دے زمکے او اسمانونو ته مے خپل کارونه حواله کړی دی یا مخکے سورة کے ویلے وو چه یدبر الامر نو دلته هغه تدبیر د کارونو خائی چه حواله کړے شوے دی مخلوقاتو ته۔ |
| ۷۔ | نفی د شفاعت قهری اوشوه په ایت ۲۹ کے او اثبات د توحید هم اوشو۔ | ۷۔ | ایت ۴ کے درے مثالونه په توحید بیانیګی۔ |
| ۸۔ | ایت ۲ کے فرمائی چه قران الله رانازل کړے دے۔ | ۸۔ | ایت ۳۴ کے فرمائی چه یادکړه د قران۔ |
| ۹۔ | ایت ۲۲ کے اووے چه مجرمانو نه به انتقام اخلم | ۹۔ | مثال د انتقام بیانیګی۔ چه لکه شنګه ئے د بنوقریظے نه واخستو۔ |
| ۱۰۔ | بیان اوشو د هلاکت د اقوام سابقاو | ۱۰۔ | نو دے سورة کے بیان کیګی د هلاکت د موجوده امت۔ |

## امتیازات دسورة

۱) سورة ممتاز دے په واقعه د غزوه احزاب/خندق باندے۔

۲) سورة ممتاز دے په ۲۴ خطاباتو باندے نبیؐ او امت ته دپاره د تخصیص (تیز ولو دامت) ۱۲ خطابات نبیؐ ته او ۱۲ امت ته دی۔

۳) سورة ممتاز دے په ایت ۴ باندے چه بیان دهغے دریو مثالونو کوی چه د توحید وضاحت او رد د شرک پرے کوی۔ او رسم باطل پرے هم دفع کوی۔

۴) سورة ممتاز دے په هغه ایت باندے چه ګناه دپاره قصد شرط دے ایت ۵ ولیس علیکم جناح فیما اخطاتم به ولکن ما تعمدت قلوبکم

۵) سورة ممتاز دے په ایت ۶ باندے چه نبیؐ به تاسو ته د هر چا نه او هر شه نه خوګ دی۔ النبی اولی بالمؤمنین من انفسهم وازواجه امهتهم

۶) سورة ممتاز دے په ایت ۲۱ باندے چه ایمان والو دپاره د نبیؐ سنتو کے نمونه د ژوند تیر ولو ده۔ لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة

۷) سورة ممتاز دے په بیان د غزوه بنوقریظه ایت ۲۶

۸) سورة ممتاز دے په واقعه د حضرت زیدؓ او حضرت زینبؓ په میز کے د طلاق باندے ایت ۳۷

۹) سورة ممتاز دے په ایت ۴۰ باندے چه نبیؐ تاسو سړو کے د چا هم حقیقی پلار نه دے اګرچه روحانی دے۔

۱۰) سورة ممتاز دے په ایت ۶۹ باندے چه د موسیٰؑ صفائی الله کړے ده۔

۱۱) سورة ممتاز دے په ایت ۷۲ باندے چه اسمانونو، زمکو، غرونو ته مے خپل احکامات پیش کړل نو هغوی اومنل مګر انسان او نه منل دا انسان ډیر ظالم دے۔

۱۲) سورة ممتاز دے په نوم اخستو د حضرت زیدؓ ۱۳) سورة ممتاز دے په تذکرے د متبنیٰ باندے۔

۱۴) سورة ممتاز دے په نکاح د حضرت زینبؓ د نبیؐ سره چه الله دا نکاح خپله ورته کړے وه۔

**مقصد دسورة: التخصیض فی التبلیغ (تیزی په تبلیغ کے) والتشجیع للمبلغ (او مبلغ لره بهادری ورکول)**

خلاصه دسورة : په بله صفحه اوګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مختصر خلاصه دسورة:** اول درے اوامر پیش کوی (۱) **یایها النبی اتق الله** (یعنی هغه مخکے مسئله چه **مالکم من دونه من ولی ولاشفیع** خلقو ته بیان کړه۔)
(۲) دویم امر **لاتطع الکفرین والمنافقین** (منافق به درته وائی چه نرم نرم بیان کوه سخته مسئله مه بیانوه او کافر به در باندے رعب اچوی چه ګورے مسئله بیان نه کړے)
(۳) دریم امر ایت۲ کے **وتبع مایوحیٰ الیک** (چه منافق دے د قران ذاتباع نه وانه ړوی۔)
نو دے دریو اوامرو سره شبهه راغلله چه که نرمی نه کوو منو داټول خلق به رانو واوړی۔ او مخالف به شی راته۔ نو دفع دد غے شبهے ایت۳ کے **وتوکل علی الله** د خلقو د فتوو نه مه ریګه۔ ته
مسئله بیانوه۔
(۴) بیا ایت۴ کے درے مثالونه پیش کوی د پاره دوضاحت د مخکے سورة د مسئلے (**مالکم من دونه من ولی ولاشفیع**)
۱۔ ړومبے مثال (**ماجعل الله لرجل من قلبین فی جوفه**) چه شرنګ یو بدن کے دوه زړونه نشی کیدی دغشان دیو عالم دوه الهاء نشی کیدے۔
۲۔ دویم مثال (**وماجعل ازواجکم الّٰی تظهرون منهن امّهٰتکم**) شنګه چه ستا د ابی ستا په خُله ستا مور کیدے نشی نو دا رانګے غیرالله ته که ټوک د الوهیت صفت ورکړی نو هغه
اِلٰه (کارساز) کیدے نشی دامحض د خُلے خبرے دی۔
۳۔ دریم مثال (**وماجعل ادعیاءکم ابناءکم**) نه دی ګرزولے الله تعالیٰ ستاسو مُنه بولا بیټا/مُتبنیٰ ستاسو حقیقی زامن نو دغشان ستا په خُله هغه غیرالله اِلٰه کیدے نشی
نو هم دغے ایت کے بیا فرمائی چه (**ذالکم قولکم بافواهکم**) دامحض ستاسو د خلے خبرے دی۔ که ته ګټے ته او سپنه وائے نو وایه کنه ستا په خله دا او سپنه کیدے نشی۔
بیا د ایت۶ نه نور خطابات شروع شی۔ ایت ۱-۲ کے درے خطابات او شو نبیؐ ته
خطاب نمبر۱: ایت ۱: **یایها النبی اتق الله** خطاب نمبر۲: ایت ۱: **ولاتطع الکفرین والمنافقین** خطاب نمبر۳: ایت ۲: **واتبع مایوحیٰ الیک**
خطاب نمبر۴: ایت۷: **واذاخذنا من النبیین میثاقهم ومنک**...د صدقِ نبوت وعده مے درنه اخستے ده هغه پورا کړه (**وثیابک فطهر**) چه سبا ملامته نه ئے د الله په دربار کے
خطاب نمبر۵: ایت ۲۸: **یایها النبی قل لّازواجک**.... خطاب نمبر۶: ایت۳۷ **واذتقول للذی انعم الله علیه** خطاب نمبر۷: ایت ۳۸: **ماکان علی النبی من حرج**
خطاب نمبر۸: ایت ۴۵: **یایها النبی انا ارسلنک شاهدا ومبشرا ونذیرا** خطاب نمبر۹: ایت ۵۰: **یایها النبی انا احللنا لک ازوجک الّٰتی**....
خطاب نمبر۱۰: ایت ۵۲: **لایحل لک النساء**..... خطاب نمبر۱۱ ایت ۵۹ **یایها النبی قل لازواجک وبنتک انساءک المومنین**
خطاب نمبر۱۲: ایت۷۰ **یایها الذین امنوا تقوا الله** (داحکم نبیؐ او مومنانو ته شتمل دے)
امت ته هم ۱۲ خطابات دی: خطاب نمبر۱: ایت۶، خطاب نمبر۲: ایت۹، خطاب نمبر۳: ایت۲۱، خطاب نمبر۴، ایت۳۰ خطاب نمبر۵: ایت ۳۳
خطاب نمبر۶: ایت۳۴ خطاب نمبر۷: ایت۳۶ خطاب نمبر۸: ایت۴۰ خطاب نمبر۹: ایت۴۱ خطاب نمبر۱۰: ایت ۵۳ (لاتدخلوا...)
خطاب نمبر۱۱: ایت ۵۳ (فانتشرو...) خطاب نمبر۱۲ ایت۷۰ (داحکم نبیؐ او مومنانو ته مشتمل دے)
په دے سورة کے رد د رسم باطل هم کوی۔ درے قسمه اعمال دی: (۱) شرک، (۲) بدعت (۳) رسم: شرک سره عقیده/ایمان تباه کیګی، بدعاتو سره دین/اعمال تباه
کیګی۔ او رسوماتو سره معاشره تباه کیګی۔
(۱) شرک: شه دے: چه د الله صفت او حق مخلوق ته ورکړے۔ یا د مخلوق صفت الله له بیان کړے
(۲) بدعت: چه هغه کار او کړے چه خیرالقرون کے (یعنی د نبیؐ او صحابو دور کے) چا نه وی کړے۔ یا کړے وی مګر تاور ته یو نوے هیت (لکه سنتو/جنازے نه روستو دعا کول) ورکړے وی
(۳) رسم: هغه کار چه خیرالقرون کے چا نه وی کړے او اوس کولے کیګی مګر ثواب پکے نشی ګنړ لے کیدے (که ثواب پکے ګنړ لے کیګی نو بیا خو بدعت دے) نو دا ے رسم دے رسم سره معاشره تباه
کیګی خلق تنګیګی۔ نبیؐ د رسم ماتو نکی ته درے وارے دعا کړے ده عمرے په موقع۔ چه عربو کے دا رسم وو۔ چه سر به ئے د حج/عمرے په موقع بالکل نه خروو بلکه رکوټے کوو به ئے نو نبیؐ
اوفرمائی: **رحم الله علی المحلقین** نو صحابو به تپوس او کړو **وعلی المقصرین** نو نبیؐ به بیا اوفرمائی چه **رحم الله علی المحلقین** نو صحابو به بیا تپوس او کړو **وعلی المقصرین** نو نبیؐ په دریم
زل اوفرمائی چه **رحم الله علی المحلقین والمقصرین** نو رسم ماتو نکی ته رسولؐ درے وارے دعا کړے ده چه دے سره معاشرے نه تنګستیا لرے کولے شے۔
نو لکه شنګه چه رد د شرک او بدعاتو لازم دے دغه رنګ رد د رسوماتو هم په علماو باندے لازم دے۔ داصرف په دے نه کیګی چه الله د یا کرو او د کهنه کسی کو د یا کرو۔ ته چه وارث د
نبیؐ ئے نو د دغے نبیؐ پشان به تکالیف هم برداشت کوے۔
نو ایت نمبر۴ کے چه کوم درے رسمونه په عربو کے وو۔ قران د دے توړ او کړو او خاص طور د دغے دریم رسم توړے په نبیؐ او کړو۔ چه د حضرت زیدؓ او حضرت زینبؓ سره متعلق وو۔
چه ایت ۳۷ وغیره کے به ئے بیان راشی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورۃ سبا مکی (ترتیباً ۳۴ بعدازاحزاب - نزولاً ۵۸ بعدازلقمن)

| سورۃ احزاب | شمار | سورۃ سبا |
|---|---|---|
| ایت۴ کے | ۱۔ | نودلتہ پہ شروع دسورۃ کے الحمدللہ ے راوړو۔ یعنی اثبات دتوحید ے اوکړو |
| د مخلوق نہ | ۲۔ | ایت۲ کے اصول دنفی دعلم غیب خائی او زان لره ے ثابتوی۔ |
| شو۔ اوعلت دد ے ا ماتوهم بیان شو۔ | ۳۔ | ایت۳ کے فرمائی چہ کہ عمل وړوکے دے یالوے اللہ بہ دهغے اجر درکړی۔ |
| اوشو۔ | ۴۔ | نودلتہ مثال دهغے خلقو چہ احکامات نہ منی نو ایت ۱۵ نہ دهغوی حالت اوانجام ذکرکوی۔ |
| ہ تہ ے بیان کوونکے شاهدا ومبشرا ونذیرا | ۵۔ | ایت ۲۸ کے پرے ترقی دہ چہ ټولے دنیاتہ مے لیګلے ے۔ ومارسلنک الاکافۃ للناس بشیرا... |
| مت بارہ کے۔ | ۶۔ | ایت ۲۹-۳۰ کے ترقی سرہ هم دغہ سوال بیابیانیګی۔ |
| | ۷۔ | نودلتہ حالت دمنکرینو خائی: وقال الذین کفرولن نوءمن بهذ القران ولابالذی بین یدیہ |
| فرین ولامنافقین و ع اذاهم ددوی ددے بدورددونہ مخ | ۸۔ | ایت۴۳ کے نمونہ دهغے بدو ردو بیانوی۔ |
| | ۹۔ | عاجزی دنورو انبیاؑ جناتو او اولیائے کرامو بیانیګی۔ |
| ذکرشو۔ وحملها ال قسان | ۱۰۔ | نوایت۳۱ کے انکاردکافرو دقران نہ ذکرکوی۔ ربط ۷ کے هم داذکرشوے وو۔ |
| دپیغمبر گناه اوکړی نو ڈبل عذاب دے دوی دپارہ ۔او م ڈیل ثواب د دوی لره۔ | ۱۱۔ | ایت۳۷ کے فرمائی چہ اے مومنانوتاسولرہ هم دنیکئ ډبل ثوابونہ دی۔او بالاخانے دی۔ |
| نہ اوشوه۔ | ۱۲۔ | نودلتہ ایت۱۴ کے نفی دعلم غیب کیګی دجناتو نہ۔ فلما خرتبینت الجن |

نهے ومشرکانو (چہ وی تہ اللہ اختیارورکړے دے) نو پہ ثلورو طریقوسرہ ددغے شبهے ردکیګی ایت ۲۲-۲۳ کے۔ پہ تقسیم دسورۃ کے ددغے طریقو بیان بہ اوشی

وتئ / عصا دسلیمـ ـئ چہ چینجو/ وینوخوړلے وه۔ ۳) سورۃ ممتاز دے پہ عجزدانبیاؑ، جناتو، او فرشتو۔

د ډیم دسبا وا ۔

وَ اَسلنا لہ عین ۃ قطر مونګ جاری کړے وے سلیمانؑ دپارہ چینہ د تانبے

باتد ے چہ دپیر سا نوهغہ اعمال ذکرکوی چہ سلیمانؑ دپارہ بہ ے کوو۔

وویا ځونو پہ ملک سبا کے ایت ۱۵ ۸) سورۃ ممتاز دے پہ بیان ددے چہ داوڈ تہ اللہ اوسپنہ نرمہ کړے وه۔ ایت۱۰ کے والنالہ الحدید

وما ارسلنک الاکافۃ للناس... ۱۰) سورۃ ممتاز دے پہ ایت ۴۵ چہ اللہ فرمائی چہ موجودہ کافران دمخکے کافرو لسمے حصے تہ هم نہ رسی پہ طاقت کے

تہ (دثلورقسـ ـمہ نیکانو مخلوقاتو عاجزی اللہ تہ ذکرکوے شی دے سورۃ کے - (۱) انبیائے کرام (۲) بادشاهان - لکہ داوڈ اوسلیمانؑ دواړه هم انبیاء

وواوهـ ـم بادشاهان (۳) فرشتے (۴) جنات

دمشهورے شـ ـبهے مشرکانو کوی۔ چہ دے اولیاؤ لرہ اللہ اختیار ورکړے دے اوخلاصول کولے شی۔ نو ایت ۲۲ کے دغہ لار پہ ثلورو طریقوسرہ بندوی۔

تقسیم دسورۃ او تقسیم دقران پہ بل مخ اوګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تقسیم دسورة:** سورة ۵ بابونه دے (۱) ایت ۱ - ۹ بیان دمقاصد اربعاؤ عالیاؤ (اثبات دتوحید رسالت صداقت الکتاب ایمان با
اودے سره متعلق زجر وتخویف ورکوی نه منونکوته۔

(۲) ایت ۱۰ - ۲۱ عجز دشرفاؤ اربعاؤ ذکر کوی۔

(۳) ایت ۲۲ - ۳۰ عجز داولیاوء ثابتوی په ثلورو طریقو سره - اثبات دقیامت دلیل عقلی ط

(۴) ایت ۳۱-۳۹ زجر منکرینو دقران ته، دهغوی حالات دنیوی او اخروی او اثبات دقیامت

(۵) ایت ۴۰-آخر عجز دملائیکو زجر بالشرک او اثبات دقیامت او نفی دشفاعت قهری

**تقسیم دقرآن:** ددے زائے نه دقران ثلورمه حصه شروع ده۔ مخکے بیان شوے دے چه قران په اعتبار دفهم ثلورو حصو کے تقسیم دے:

(۱) فاتحه - مائده : الخالق لکل شیء هوالله هر څیز ما جوړ کړے دے او ماته دے محتاج په وجود راتللو کے

(۲) انعام - بنی اسرائیل: المربی لکل شیء هوالله صرف په وجود کے نه بلکه په تربیت کے هم ماته دی محتاج اگر چه هغه انبیا

(۳) کهف - احزاب: المبارک فی کل شیء هوالله په دغه ټولو مخلوقاتو کے، په ذرا ذرا کے که خیر دے او که شر هغه ما اچولے د

(۴) سبا - ناس: اثبات دقیامت او نفی دشفاعت قهری

هره حصه په الحمد لله سره شروع کیگی مگر آخره حصه کے دوه وارے الحمدلله دے۔ په شروع دسورة سبا کے هم
داز که چه دلته دوه مسئلے ذکر کولے شی۔ (۱) اثبات دقیامت او (۲) نفی دشفاعت قهری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورۃ فاطر (مکی)

ترتیباً ۳۵ بعدازسبا - نزولاً ۴۳ بعداز فرقان

## ربط ماسبق سره:

| شمار | سورۃ سبا | شمار | سورۃ فاطر |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | ایت ۲۲-۲۴ کے چه هرکله داثابته شوه چه اختیارصرف دیوالله دے۔ مخلوقات حصه دار/ معاون/شریکان نه دی ۔ | ۱۔ | نودلته په سردسورة کے الحمدلله ے راوړو۔ چه دالوهیت صفات صرف یوالله لره وایه۔ |
| ۲۔ | رد د شرک اوشو په ثلورو وجوهاتو سره ایت ۲۲-۲۳ کے۔ | ۲۔ | نودے سورة کے اثبات دتوحیدکوی بالادلة العقلیه |
| ۳۔ | هرکله چه دے سورة کے عجزد شرفاؤ اربعاو اوشو اوخاص طور دحضرت داؤدؑ او سلیمانؑ | ۳۔ | نودلته ایت ۱۵ کے زیادت کوی چه یایها الناس انتم الفقراء الی الله والله هوالغنی الحمید |
| ۴۔ | ایت ۴ کے اووے چه زهٔ به دے مئونکو (موءمنانو) رزق عزتمندکړم۔ | ۴۔ | ایت ۷ وائی چه صرف رزق نه بلکه اجرِعظیم به هم ورکړم۔ |
| ۵۔ | نفی دتصرف وه دانبیاؤنه او دملکونه | ۵۔ | نوایت ۲ کے اثبات دتصرف کوی الله جل زان دپاره |
| ۶۔ | هرکله چه دے سورة کے ثابت شوه داخبره چه اختیارصرف دیوالله دے۔ | ۶۔ | نودلته ایت ۱۳ کے وائی چه دا اولیاء دپوشکی واکداران هم نه دی۔ |
| ۷۔ | ایت ۲۲ کے اووے لایملکون مثقال ذرة..... | ۷۔ | ایت ۱۳ کے وائی لایملکون من قطمیر |
| ۸۔ | ایت ۲۷ قل ارونی الذین الحقتم به شرکاء | ۸۔ | ایت ۴۰ قل اریتم شرکاءکم الذین تدعون من دون الله ارونی ماذا خلقوامن الارض.... |
| ۹۔ | سورة شروع وو په الحمدالله سره | ۹۔ | نودا سورة هم شروع دے په الحمدلله سره |
| ۱۰۔ | ایت ۲۸ کے اووے ومآارسلنک الاکافة للناس بشیرا و نذیرا | ۱۰۔ | ایت ۲۴ کے فرمائی انا ارسلنک بالحق بشیراونذیرا |

## امتیازات دسورة

۱) سورة ممتاز دے په بیان دفرشتو وزرو ایت ۱

۲) سورة ممتاز دے په ایت ۱۱ چه دغیرالله لپئے ته نے سرحنا شرک وئیلے دے۔

۳) سورة ممتاز دے په ایت ۱۵ باندے (یایها الناس انتم الفقراء الی الله والله هوالغنی الحمید)

۴) سورة ممتاز دے په ایت ۱۸ باندے چه هیث ثوک به دبل بوج نشی اوچتولے اگرچه دا ددهٔ نیکه ولے نه وی۔ (اگرچه نورو زائینو کے شته لاتزو وازرة وزرا اخرا مگردا سے تفصیل سره نه دے)

۵) سورة ممتاز دے په مثال دمعبودحق او معبود باطل ایت ۱۹-۲۲

۶) سورة ممتاز دے په ایت ۳۲ باندے چه قران ته خلق کینی نو درے درجو کے تقسیم شی۔

۷) سورة ممتاز دے په ایت ۲۷ چه رنگونه دغرونو بیانوی

۸) سورة ممتاز دے په ایت ۲۸ باندے چه په مخلوقاتو کے علماء د الله نه یریگی (انما یخشی الله من عباده العلماء)

۹) سورة ممتاز دے په ایت ۱۰ باندے چه کلمه طیبه جل ویونکی لره اوچتوی

۱۰) سورة ممتاز دے په ایت ۳۴ باندے چه جنتیان به وائی چه الحمدلله الذی اذهب عنا الحزن

**مقصد دسورة: اثبات دتوحید بالادلة العقلیه** اوداثابتوی چه غیرالله خلاصول نشی کولے نودے مسئلے لره عقلی دلائیل بیانوی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة یٰس مکی ترتیباً ۳۶ بعدازفاطر - نزولاً ۴۱ بعدازجن

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة فاطر | شمار | سورة یٰس |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | مسئله دتوحیدئ ثابته کړله په دلائیلو عقلیا وُسره۔ | ۱۔ | نو دے سورة کے په دغه مسئله دلیل نقلی بیانیګی دطرفه دصاحب یاسین۔ |
| ۲۔ | ایت ۷ کےاودے لهم اجر کبیر | ۲۔ | ایت ۱۱ کےوائی اجرکریم |
| ۳۔ | ایت ۱۹ کےاودے چه ړوند (مشرک) او بینا (موحد) یوشان نه دی۔ | ۳۔ | نودے سورة کے د دواړو انجام خائی۔ |
| ۴۔ | ایت ۴۳ کےاودے۔ لن تجد لسنت الله تبدیلا (دمخالفینو په حق دے دالله په فیصلو کے تبدیلی نه رازی) | ۴۔ | ایت ۲۹ کے پرے مثال پیش کوی چه اوګوره شنګه الله ساړهٔ کړل پشان دسړے ایرے |
| ۵۔ | نفی دشفاعت قهری اوشوه په عقلی دلائیلو سره۔ | ۵۔ | دلته پرے مثال پیش کوی په دلیل نقلی دصاحب یاسین نه یعنی ترقی په ماسبق ده۔ |
| ۶۔ | ایت ۱۳ کےاودے مایملک من قطمیر | ۶۔ | ایت ۷۵ کےترقی ده۔ چه اختیار شه چه ستاامدادته محتاجه دی دغه اولیاء او مړی۔ |
| ۷۔ | ایت ۴ کےاودے چه که ستا تکذیب کوی نودا پخوانے طریقه ده ددے منکرینو | ۷۔ | ایت ۱۵ کےدهغے مثال دے چه اوګوره شنګه تکذیب ئے کړےوود ددے پیغمبرانو۔ |
| ۸۔ | ایت ۹ کےاودے کذالک النشور | ۸۔ | ایت ۱۲ کے پرےترقی ده چه صرف نشور نه بلکه حساب کتاب به هم کیګی دعمل۔ |
| ۹۔ | ایت ۸ کےفرمائی چه شیطان ورته بدعمل خایسته کړےدے۔ | ۹۔ | نودے سورة کے په هغے مثال دے چه اوګوره دصاحب یٰسین دشمنانوته قتل دهغه خائسته کړے شوےوو۔ |
| ۱۰۔ | مسئلہ ئے ثابت کړله دتوحید په دلائیلو باندے۔ | ۱۰۔ | نو دلته ترغیب فی التبلیغ دے په واقع دصاحب یٰسین چه اوګوره یوتن وو۔ دمرګ پرواه ئے نه ده کړے۔ اومسئله ئے بیان کړےده۔ |
| ۱۱۔ | ایت ۱۴ اودے چه ستااواز نه اوری دا مړی۔ اونه ستاحاجت پورا کولےشی۔ | ۱۱۔ | ایت ۴۳ کےفرمائی چه امدادشه کوے چه زهٔ ئے غرق کړم نو امداد به ئے هم ثوک نشی کولے۔ |
| ۱۲۔ | درےوارےتوحید ذکرشو۔ ایت ۱ ۳ ۱۳ | ۱۲۔ | درےوارےلفظ صیحه ذکرکیګی۔ |
| ۱۳ | ایت ۱۰ کےاودے فلله العزة جمیعا | ۱۳۔ | مثال ددغے عزت لکه شنګه عزت چه ئے صاحب یٰسین ته ورکړو۔ |
| ۱۴۔ | ایت ۶ کےفرمائی چه ان الشیطن لکم عدو فاتخذوه عدوا | ۱۴۔ | ایت ۶۰ یٰبنی آدم لاتعبدالشیطن |

## امتیازات دسورة:

۱) سورة ممتاز دے په واقعے دصاحب یٰسین چه د استاذانو صفائی ئے کړےده۔ اوبیا قوم شهید کړےدے۔

۲) سورة ممتاز دے په ایت ۳ باندے چه زهٔ ئے ډوب کړم نوثوک ئے راویستےنشی۔

۳) سورة ممتاز دے په ایت ۵۹ باندے وامتازالیوم ایها المجرمون جداشئن ورزاے مجرمانو۔

۴) سورة ممتاز دے په ایت ۷۵ باندے چه دے مشرکانو داکوم مددګاران نیولی دی خپل امدادلره۔ نوحقیقت کے دامشرکان ددے مددګارانو امدادکوی۔

۵) سورة ممتاز دے په ایت ۸۰ باندے چه مادشنے اونے نه اُور پیداکړےدے۔

۶) سورة ممتاز دے په کرامت دصاحب یٰسین باندے ایت ۲۷ وجعلنی من المکرمین۔

۷) سورة ممتاز دے په ایت ۶۵ باندے الیوم نختم علی افواههم

## مقصد دسورة: نفی دشفاعت قهری او اثبات دتوحید اوپه دے دواړو مسئلو باندے دلائیل عقلیه اونقلیه

## فضائیل دسورة یٰس:

حدیث دے چه لکل شیءٍ قلبٌ وقلبُ قرانِ یٰس دهرشی یوزړه وی اودقران زړهٔ سورة یٰس دے۔ علماء ددے مختلف وجوهات بیانوی چه دے سورة ته ئے قلبِ قران ولے وئیلے دے۔ فرمائی چه ټول بدن اوددے داعضاؤ دصحت دارومدار په زړهٔ وی۔ لکه چه هغه حدیث دے چه خبردار په بدن کے یوټوټه ده دغوښے چه که دا سمه وی نوټول بدن سم وی او که داخرابه/بیماره شی نوټول بدن اداعضاء ورسره خراب وی۔ ذهم دغه رنګ چه قران کے چه کوم حلال وحرام او اومرونواهی دی نودا په مثال داعضاؤ دی۔ او ددے سورة مقصد دے اثبات د توحیداو اثبات د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیامت اونفی دشفاعت قهری دے۔ یعنی که داعقیده دِراشی چه قیامت نشته او قیامت کے ماتوک دالله نه نشی خلاصولے نو که ستاداعقیده پورا او پخه وی نو دقران په بیان کړے شوے مسئلے دحل حرمت او په اوامرواونواهی به دے عمل هم وی۔ او که مادرے مسلونه انکار او کړونو مابه هیث ثوک خلاص نه کړے شی۔ او که داگمان دے راغے چه مابه بابا خلاصوی نو دقران په دے احکاماتواونواهی وغیره به هیث کله عمل اونه کړے شے زکه چه یره زړه که نشته۔ نو ددے سورة دامقصد دِیروی دالله دپکړنه په ورزدقیامت چه دقران په نورواومرو او نواهی عمل اوکړه۔

شیخ القران صاحب به ددے وجه داسے فرمائیله چه ددے سورة کے دانسان اصل حقیقت خکاره کړے شے دے۔ چه یوزل پکے لفظ نطفه په ایت ۸۸ کے او درے وارے پکے لفظ صیحه راغلے دے۔ په ایت ۲۹، ۴۹، او ۵۳ کے یعنی پیدائے دنطفے اوپیدائش دے په صیحه مرگ دے په صیحه اوقبرنه راوتل دے په صیحه نو چه داستا حقیقت دے نوبیا تکبراومستی ولے کوے۔ اودقران، دالله او درسول خلاف ولے کوے۔

هغه یوحدیث کے چه رازی چه مړو ته سورة یٰس اووائے نودهغے دامطلب نه دے چه زنکدن او بے هوشے کے ورته سورة یٰس اووائے بلکه مطلب دادے چه شه وخت دے ژوندے دے اوهوش کے دے نوداسورة ورته په معنوسره اووائے چه عقیده ئے درست شی۔ او په دے پوهشی چه قیامت کے مادالله نه هیث ثوک نشی خلاصولے۔

یادساتے چه دقران دڅلورمے حصے دا رومبے باب دے۔ چه پکے درے سورتونه دی (سبا فاطر او یٰس) چه درے واړه اثبات دقیامت او نفی دشفاعت قهری کوی۔ په سورة سبا ایت ۲۲ کے نفی دشفاعت قهری کړے وه په دریو وجوهوسره (۱) مالکان نه دی (۲) حصه دارنه دی (۳) مددگاران نه دے لهٰذادشفاعت اختیارورسره نشته۔ نوسورة فاطرکے پرے ترقی وه چه خلاصول زکه نشی کولے چه عاجزه دی۔ نوسورة یٰس کے پرے دلیل عقلیه اونقلیه راوړی چه اوگوره صاحب یٰس هم وای چه

**ان یردن الرحمٰن بضرٍ لاتغنی شفاعتهم شیئاً ولاینقذون۔**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الصفت مکی

ترتیباً ۳۷ بعداز یٰس - نزولاً ۵٦ بعداز انعام

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة یٰس | شمار | سورة الصفت |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۔ | چه هر کله دے سورة کے مسئله ثابته کړے شوه په دلائیلو عقلیاؤ او نقلیاؤ سره چه بغیر دالله نه بل ثوک خلاصونکے نشته | ۱۔ | نودے سورة کے عجز المصطفین په مثل دسورة مریم ذکر کیگی چه چنړشوے مخلوقات که اسمانی دی او که زمینی وغیره داټول الله ته عاجزه دی۔ |
| ۲۔ | عجز د کواکبو لکه ستوری نمر سپوږمئ ذکر شو۔ ایت ۳۸ ۳۹ ۴۰ وغیره کے۔ | ۲۔ | نو دلته عجز دچنړشوے مخلوقاتو ذکر کوی چه شنگه داغٹ غٹ کائنات عاجزه دی دغه رنگ پیغمبران او انبیاء هم عاجزه دی۔ |
| ۳۔ | ایت ۷۸ کے زجر بالانکار قیامت وو | ۳۔ | نودے سورة کے ایت ۱٦ او ۵۳ کے پرے زیادت کوی |
| ۴۔ | ایت ۷۵ کے زجر مشرکانو ته وو. چه اولیاء ستاسو امداد نشی کولے بلکه الٹه ستاسو امداد ته محتاجه دی۔ | ۴۔ | ایت ۲۵ کے وائی چه دنیا کے خو پریده بلکه اخرت کے به هم امداد نشی کولے۔ |
| ۵۔ | ایت ۵۲ کے دقبرونو والو حسرت ئے بیان کړو۔ | ۵۔ | ایت ۲۰ کے دا حسرت بیانوی په نورو الفاظو سره۔ |
| ٦۔ | دسورة خاتمه اوشوه په تسبیح سره | ٦۔ | نو دا سورة ختمیگی په حمد سره |
| ۷۔ | اثبات درسالت دوایت ۳ کے انک لمن المرسلین | ۷۔ | نودے سورة کے مقصدد رسالت ذکر کوی۔ |
| ۸ | په جنت والو دالله د طرف نه سلام د تحئے ذکر شو | ۸۔ | په ټولو پیغمبرانو سلام په آخر دسورة کے ذکر کیگی سلام علی المرسلین |
| ۹۔ | ایت ۵۹ وامتازوا الیوم ایها المجرمون | ۹۔ | ایت ۲۴ وقفوهم انهم مسئولون |

## امتیازات دسورة

۱) سورة ممتاز دے په ایت ۱۵ چه مکالمه دجنتیانو ذکر کیگی پکے۔

۲) سورة ممتاز دے په ایت ٦۵ چه د زقوم نسبت ئے کړے دے د شیطٰن سرونو سره

۳) سورة ممتاز دے په ایت ۷۷ چه دنیا کے ټومره انسانان دی داټول د نوحؑ اولاد دے۔

۴) سورة ممتاز دے په ایت ۱۰۲ باندے چه اراده د ذبح کولو کوی ابراهیمؑ د خپل بچی۔

۵) سورة ممتاز دے په ایت ۱۲۵ چه د الیاسؑ دقوم درا بلولو بیان دے بعل نومے بت ته

٦) سورة ممتاز دے په ایت ۱۴۱ چه دیونسؑ متعلق کشتئ والو گره اچولے وه۔

۷) سورة ممتاز دے په ایت ۱۴۷ چه دیونسؑ دقوم تعداد ئے بیان کړے دے۔

۸) سورة ممتاز دے په ایت ۱۳۴ - ۱۴۴ چه که یونسؑ تسبیح نه وه ویلے نو تر قیامته به دکب په خیټه کے وو۔

۹) سورة ممتاز دے په ایت ۱۴٦ چه په یونسؑ مے اونه دکدو راوخیژولا او دنمر نه مے بچاو ورکړو۔

۱۰) سورة ممتاز دے په ایت ۹۷ چه دابراهیمؑ دسوزولو له مینار جوړ و لے شی۔

**مقصد دسورة:** عجز المصطفین پشان دسورة مریم (دچنړشوے مخلوقاتو عاجزی (۱) درے وارے د فرشتو (۲) نهه وارے دانبیاؤ (۳) دوه وارے دجناتو)

ددے سورة نه دقران دآخری حصے دویم باب شروع دے چه دیکے درے سورتونه دی سورة صفت ص زمر مخکے ژوبے حصه کے نفی دشفاعت قهری اوشوه نودے سورة کے پرے ترقی ده چه خلاصول ئے شکوے خپله عاجزه دی الله ته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة ص (مکی)

ترتیباً ۳۸بعداز صٓفات - نزولاً ۳۸بعدازقمر

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة صٓفات | شمار | سورة ص |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | چه هرکله دے سورة کے عجزالمصطفین (عاجزی دچنړکړے شوے مخلوقاتو) بیان شوه | ۱۔ | نو دے سورة کے پرے ترقی ده چه صرف عاجزه نه بلکه ابتلوابالمصائب تکالیف پرے هم راغلے وو۔ چه د زانه ئے تکالیف نه دی لرے کړے شوے۔ |
| ۲۔ | دے سورة کے د اوو(۷) اولی العزم پیغمبرانو عاجزی بیان شوه | ۲۔ | نو دلته د نهو(۹) نورو پیغمبرانو عاجزی بیانیګی درے مفصل (داوٗد سلیمانؑ ایوبؑ) او شپګ مختصر (ابراهیمؑ اسحٰق یعقوب اسماعیلؑ یسعیؑ او ذولکفلؑ) |
| ۳۔ | ایت ۳۵ کے اووے چه دوی ته توحید بیان شی نو مخ اړوی۔ اذا قیل لهم لا اله الا الله یستکبرون | ۳۔ | ایت ۶ کے پرے ترقی ده چه صرف خپله مخ نه اړوی بلکه نورهم اړوی امشوا امشوا زاے ترے دا پنچیر یان دی اولیاء نه منی۔ او زکه چه اجعل الالهة الٰها واحداً ایت ۵ |
| ۴۔ | ایت ۱۷۳ کے اووے ان جندنا لهم الغالبون زمونګ لښکرے غالبے دی هروخت | ۴۔ | ایت ۱۱ کے نمونه دد غے غلبے/عذاب خائی۔ |
| ۵۔ | چه هرکله دد ے سورة خاتمه په توحید اوشوه۔ | ۵۔ | نو اوس په دے سورة کے په مسئله دتوحید باندے د نهو(۹) انبیائے کرامو ذکرکولے شی۔ |
| ۶۔ | ایت ۳۵ کے دمشرکینو تکبر بیان شو۔ دمسئلے دتوحید نه۔ اذا قیل لهم لا اله الا الله یستکبرون | ۶۔ | ایت ۷۴ کے دشیطان تکبر استکبر وکان من الکٰفرین |
| ۷۔ | ایت ۲۷-۲۳ جګړاد کافرانو ذکرده په قیامت کے په خپل مابین کے | ۷۔ | نو دے سورة کے دمشرکانو جګړه ذکرکولے شی په دنیاکے |
| ۸۔ | ایت ۱۶۵ کے دفرشتو حال ذکردے۔ انا لنحن الصافون (مونګ دالله په تابعدارے کے صف بسته یو۔) | ۸۔ | ایت ۷۳ کے فرمائی فسجد الملٰئکة کلهم اجمعون |
| ۹ب | ایت ۶۶ کے د کافرو خوراک په دوزخ کے لاٰکلون منها (زقوم به خوری) | ۹۔ | ایت ۵۷ فلیذوقوه حمیم وغساق ګرمے اوبه او پیپ دزخمونو به څکی |
| ۱۰۔ | دے سورة کے دمشرکینو جګړا د موحدینو سره ذکرشوه۔ لکه دابراهیمؑ دقوم جګړا ابراهیمؑ سره | ۱۰۔ | ایت ۶۲: دغه مشرکان به وائی چه وقالوا مالنا لانریٰ رجالا کنا نعدهم من الاشرار |

## امتیازات دسورة

۱) سورة ممتاز دے په ایت ۶ باندے چه امشوا امشوا زاے ترے زاے ترے خوارهٔ شے دد ے سړی نه۔

۲) سورة ممتاز دے په ایت ۲۱-۲۲ د داوٗد هغه واقعه چه په دیوال سړی راختلے وو

۳) سورة ممتاز دے په واقعه دسلیمانؑ چه اسونو د جهاد سره مینه کوی ایت ۳۱

۴) سورة ممتاز دے په واقعه دسلیمانؑ چه وئیلے یے وو چه زما به دومره بچی پیداکیګی چه هغوی نه به لښکر دمجاهدینو جوړوم مګر انشاءالله ئے نه وو وئیلے۔ نو هیث او نه شو۔ ایت ۳۴

۵) سورة ممتاز دے په ایت ۴۴ باندے چه ایوبؑ سزا ورکوی خپلے بی بی ته چه چل ورته الله خائی

۶) سورة ممتاز دے په ایت ۶۲ باندے چه جهنمیان به وائی چه چرته دی هغه شریان۔ مالنا لانریٰ رجالاً کنا نعدهم من الاشرار

۷) سورة ممتاز دے په ایت ۲۶ باندے یداوٗدُ انا جعلنٰک خلیفة فی الارض

۸) سورة ممتاز دے په ایت ۴۲ د حضرت ایوبؑ په بخه چینه کے دلامبلو چه حکم ورته کړے دو الله

**مقصد دسورة:** الابتلاء علی انبیاء بالمصائب یعنی دمخکے نه په زیاتے ترقی دی چه اوګوره اُبتلوا بالمصائب تکلیفونه پرے راغلے وو۔ زان ئے نه وو بچ کړے شوے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الزمر

مکی - ترتیباً ۳۹ بعدازص - نزولاً ۵۹ بعداز سبا

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة ص | شمار | سورة الزمر |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | چه هرکله دے سورة ص کے مسئله ابتلوا بالمصائب بیان شوه چه داټول مخلوقات عاجزه دی۔ مصیبتونه پرے راغلے وو۔ | ۱۔ | نو په سر دے سورة کے ایت ۲ کے فرمائی فاعبدالله مخلصاله الدین مطلب دا چه هرکله ټول عاجزه دی نو بیا بندګی خاص کړه صرف دے یوالله ره (یره طمع بینه دخدائے توب) |
| ۲۔ | په اول ددے سورة کے ترغیب الی القران وو۔ او په آخر د سورة کے هم۔ | ۲۔ | نو دے سورة کے هم اول کے ترغیب الی القران دے۔ |
| ۳۔ | دمشرکانو اعراض د مسئلے د توحید نه ذکر وو۔ ایت ۵ کے اجعل الالهة الها واحدا | ۳۔ | نو دے سورة کے ددغے اعراض مقابله کے ګنړ دلائیل په توحید بیانوی۔ |
| ۴۔ | ایت ۵۰ کے او وے چه د جنت دروازے به د مخکے نه کولو وی۔ | ۴۔ | ایت ۷۳ کے فرمائی چه فرشتے به ورته استقبال ته ولاړے وی۔ |
| ۵۔ | ایضاً | ۵۔ | ایت ۷۲ کے فرمائی چه د جهنم دروازے به بندوی کله چه ورته نزدے شی نو اچانک به د جهنم دروازے پرے راکولو کړے شی۔ |
| ۶۔ | ایت ۲۹ کے او وے چه عقلمند هغه دے چه قران کے تدبر کوی۔ | ۶۔ | ایت ۱۸ کے فرمائی چه عقلمند هغه دے چه صرف سوچ نه بلکه عمل هم کوی۔ |
| ۷۔ | ایت ۶۳ کے او وے وما من اله الا الله | ۷۔ | نو په دے سورة کے پرے عقلی دلائیل راوړی په دغه مسئله د توحید باندے۔ |
| ۸۔ | د آدم د تخلیق ذکر اوشو په ایت ۷۱ وغیره کے | ۸۔ | نو دے سورة کے ایت ۶ کے د آدم د اولاد د تخلیق ذکر کولے شی خلقکم من نفس واحدة |
| ۹۔ | د مشرکانو یو اعتراض وو په ایت ۵ کے اجعل الالهة الٰه واحدا | ۹۔ | ایت ۳ کے د مشرکانو بل اعتراض یقربونا الی الله زلفه |
| ۱۰۔ | دنیکو او بدو خلقو ذکر اوکړے شو چه د دنیا کے د دوی نه حال دے۔ | ۱۰۔ | نو دلته د آخرت حوالے سره د دوی بد حال ذکر ئے کولے شی ایت ۷۱ او ۷۳ کے وسیق الذین کفروا.... |

## امتیازات دسورة:

۱) سورة ممتاز دے په ایت ۳ باندے په عقیده د مشرکانو چه دا اولیاء زمونګ د تقرب ذریعے دی

۲) سورة ممتاز دے په ایت ۶ باندے چه بچے د مور په خیټه کے په درے پردو کے پروت وی۔

۳) سورة ممتاز دے په ایت ۲۳ باندے چه فرمائی الله انزل احسن الحدیث متشابها مثانی

۴) سورة ممتاز دے په ایت ۲۹ باندے چه د مشرکانو مثال ئے پیش کړے دے د مشترک خر سره۔

۵) سورة ممتاز دے په ایت ۴۵ باندے چه کله مشرک ته توحید بیان شی نو زړه ئے تنګ شی۔

۶) سورة ممتاز دے په ایت ۵۳ باندے چه اطماع ایت د ټول قران دے۔

۷) سورة ممتاز دے په شړلو د کافرانو جهنم ته ایت ۷۱ وسیق الذین کفروا الی جهنم زمرا

۸) سورة ممتاز دے په ایت ۴۲ باندے چه الله اخلی هغه روح چه فیصله ئے شوے ده د مرګ۔ او نه اخلی هغه روح چه لا فیصله ئے نه ده شوے۔

## مقصد دسورة اثبات د توحید بالادلة العقلیه او رد د شبهاتو د مشرکانو

**مختصر خلاصه دسورة:** دا سورة روستے دے د هغو شپږو سورتونو نه چه سورة سبا نه راشروع وو په یو انداز کے چه د ټولو مقصد وو نفی د شفاعت قهری۔

(۱) سورة سبا کے وو عجز الشرفاء (۲) نو فاطر کے په دغه مسئله (عجز الشرفاء) باندے دلائیل عقلی وو۔ (۳) نو سورة یٰس کے په دغه مسئله باندے دلیل نقلی وو۔

(۴) نو په صفات کے په دے مسئله باندے نورا ترقی وه۔ چه خپله هم عاجزه دی (۵) نو ص کے پرے نورا ترقی وه چه ابتلوء بالمصائب

نو ددغے مخکے ۵ واړه سورتونو نچوړ په دے سورة کے راوړی۔ دلته دعوه د توحید بیا بیا راوړی۔ لکه ایت ۲ ۶ ۱۱ ۲۹ ۳۸ ۴۴ ۴۶ ۶۲

اته وارے توحید ذکر کوی چه د ټولے خلاصه د مخکو سورتونو ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة المومن مکی (ترتیبا ۴۰ بعداز زمر - نزولاً ۶۰ بعداز زمر)

(دسورة الزمرنه تراحقاف پورے دټولوسورتونوترتیب دنزول مسلسل روان دے)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الزمر | شمار | سورة لموءمن |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | دے سورة الزمرکے رد دشفاعت قهری اوکړو۔ | ۱۔ | نو دلته ایت ۱۴ کے فرمائی فدعوالله مخلصین له الدین نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | ترغیب الی القران وو شروع کے هم او په درمیان دسورة کے هم بار بار | ۲۔ | نو دا سورة هم شروع کیګی په ترغیب الی القران سره۔ |
| ۳۔ | په آخر دے سورة کے اووے چه فرښتے هروخت دالله تابعدارے دی۔ | ۳۔ | نو دے سورة ایت ۷ کے فرمائی چه موحدینو پاره ددوی د والدینو پاره اولاداو خزے دپاره دافرښتے دعا اواستغفار هم غواړی۔ |
| ۴۔ | ایت ۳۶ کے اووے چه الله ئے ګمراه کے پریدی نو مهر دګمراه ہے ورته اولګوی نو هیڅ ټوک ورته لاره نشی خودلے | ۴۔ | دهغے مثال چه اوګوره یو طرف ته موسیٰ او بل طرف ته رجل مومن کوششونه کوی مګر دغه فرعونیان په لاره نشو زکه چه الله ورته مهر دګمراه ہے وځلے وو په وجه ددوی دضداو عناد۔ |
| ۵۔ | ایت ۳۷ کے اووے الیس الله بعزیز ذوانتقام (آیا نه دے الله خاوند دبدلے) | ۵۔ | ایت ۴۵ کے مثال په دغے پیش کړو۔ چه اوګوره الله د موسیٰ او رجل مومن بدله واخسته او فرعونیان ئے تباه کړل۔ |
| ۶۔ | ایت ۵۹ کے اووے چه دوی دحق تکذیب کوی۔ واستکبرت اوزان غټ ګنړی۔ | ۶۔ | نو دے سورة کے پرے زیادت کوی چه صرف تکذیب نه بلکه جګړے او بحث مباحثے هم کوی۔ |
| ۷۔ | ایت ۶۶ کے وئیلے وو چه دیو الله بندګی کوه | ۷۔ | ایت ۱۴ کے وائی چه دے بندګے کے اخلاص پیدا کړه چه بل ټوک ییکے الله سره شریک نه کړے۔ فدعوالله مخلصین له الدین |
| ۸۔ | ایت ۵۴ کے اووے چه ستاسو امداد به اونه کړے شی دا چاته چه رامدشه وائے بغیر الله نه۔ | ۸۔ | ایت ۱۸ کے فرمائی ما لظالمین من حمیم ولا شفیع یطاع |
| ۹۔ | ایت ۲ فاعبدالله مخلصا لو الدین ایت ۳ الا لله الدین الخالص | ۹۔ | ایت ۱۴ فدعوالله مخلصین له الدین |
| ۱۰۔ | آخر دسورة کے اووے وقیل الحمد لله رب العالمین | ۱۰۔ | ایت ۶۴ کے فرمائی چه فتبرک الله رب العالمین |
| ۱۱۔ | ایت ۴۵ کے دمشرک حال ذکر وو۔ چه توحید سره ئے تندے ګنجے شی او غصه شی۔ | ۱۱۔ | ایت ۱۲ کے نور حال ددے مشرک بیانوی ذلکم بانه اذا دعی الله وحده کفرتم وان یشرک به تومنوا |
| ۱۲۔ | سات بار توحید ذکر وو۔ | ۱۲۔ | دلته هم سات بار توحید ذکر دے۔ |

## امتیازات دسورة

(۱) سورة ممتاز دے په ترغیب الی القران سره او تبلیغ الی القران سره په نوے انداز کے۔

(۲) سورة ممتاز دے په ایت ۷ په دعا دغوستو دملائیکو دموحدینو پاره دهغوی والدینو، خزو، بچو وغیره دپاره۔

(۳) سورة ممتاز دے په بیان درجل مومن ایت ۲۷ نه روستو ئے تفصیل کیګی۔

(۴) سورة ممتاز دے په بیان دعذاب دقبر دفرعونیانو ایت ۴۶ چه په فرعونیانو سحراو ماخام عذاب وړاندے کولے شی۔ النار یعرضون علیها غدوا و عشیا

(۵) سورة ممتاز دے په ایت ۸۳ باندے چه پکے بیان دهغے علماؤ دے چه په خپل علم مغرور ه دی او دالله کتاب ته نه کینی۔

(۶) سورة ممتاز دے په ایت ۱۹ باندے یعلم خائنة الاعین

(۷) سورة ممتاز دے په ایت ۲۶ چه وائینا ددے فرعون ده انی اخاف ان یبدل دینکم

(۸) سورة ممتاز دے په ایت ۴۴ باندے وافوض امری الی الله زهٔ سپارم خپل کارونه یو الله ته

**مقصد دسورة:** نفی د شرک فی الدعا او اثبات دتوحید په عقلی نقلی او وحی دلائیلو سره او طریقه دتبلیغ او په دے مثال درجل مومن او یوولس اعتراضات په توحید دطرفه دمنکرینو او دهغے جوابونه۔ (شاهے خبرے بل مخ ته اوګوره)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) یادساتے چہ داسورۃ تفریع کوے لشی پہ مخکے سورتونو باندے لکہ شنگہ چہ سورۃ الرعد تفریع شوے وو۔ پہ مخکے سورتونو باندے۔ اوسورۃ الانبیاء تفریع وو پہ مخکے سورتونو باندے۔ سورۃ یونس کے باند مقاصد اربعہ وو سورۃ ھود کے هغه ثلور مسئلے بیان وے لکہ۔ العبادللہ وحدہ +نفی دشرک فی العلم +ترغیب فی التبلیغ + تسلی نوسورۃ یوسف کے بیان کڑے شوے وو دتسلے نوسورۃ الرعدئے پرے تفریع کڑو چہ هرکله ټول عاجزه دی نو **له دعوۃ الحق**

(۲) دغشان سورۃ الانبیاء هم وو۔ لکہ سورۃ الکهف کے نفی دعلم غیب وه چہ انبیاءاو اولیاء نه دی خبر نوسورۃ مریم کے عجز المصطفین بیان کڑو پہ طٰهٰ کے ئے اوے چہ صرف عاجزه نه بلکه ابتلوء بالمصائب تکالیف پرے هم راغلے وو۔ نو سورۃ الانبیاءئے پرے تفریع کڑو۔ چہ **فلم تدعون** نو بیا دے ورته اوازونه / چغے وخے چہ راورسے او رامددشے۔

(۳) نوهم دغسے داسورۃ المومن تفریع دے پہ مخکے سورتونو باندے لکہ سورۃ سبا کے نفی دشفاعت قهری وه او عجز دانبیاؤ او اولیاؤ ذکرو ونوسورۃ فاطر کے په دغه عجز باندے ئے یو ولس (۱۱) دلائیل عقلیاؤ سره ئے دغه مسئله ثابته کڑله بیا سورۃ یٰس کے دلیل نقلی دصاحب یٰس نه پرے پیش کڑو چہ **اءتخذ وامن دون اللہ الهۃ ان یردن الرحمٰن بضر**.....نوسورۃ صٰفات کے پرے ترقی پیش کڑله چہ عجز دانبیاؤ اونورو مخلوقاتوئے ذکر کڑو۔ چہ ټول عاجزه دی سورۃ صٓ کے وائی چہ صرف عاجزه نه بلکه ابتلوء بالمصائب نوسورۃ الزمر کے دد غے مخکے سورتونو خلاصه وه دعوۃ دتوحید او ۸ بار دلائیل عقلیه ئے ذکر کڑل۔ او ۸ بار ترغیب الی القران وو۔ نو داسورۃ المومن پہ هغے مخکے سورتونو تفریع کوے لشی۔ چہ هرکله داټول مخلوقات عاجزه دی نو ایت ۱۴ **فدعوا اللہ مخلصین له الدین** پہ فادعو کے دا فا تفریع دپاره ئے راوړے دے۔

(۴) نومقصد دسورۃ نفی دشرک فی الدعا اثبات دتوحید او طریقه دتبلیغ بالقران

(۵) بله خبره یاد ساتے چہ ددے زائے نه دا دریم باب د آخری حصے شروع دے اخری حصه دقران شروع وه۔ دسورۃ سبا نه چہ اثبات د آخرت کوی۔ پہ دے دریم باب کے ۷ سورتونه دی چہ دے ته حوامیم سبع وائی یعنی هغه اووه سورتونه چہ حٰم سره شروع کیگی۔ دے حوامیموته لُبابُ القران هم وائی حضرت ابن عباسؓ فرمائی چہ **لکلِ شیٍ لُباب وَلُبابُ القرانِ حوامیم** دے ته وے لباب دقرآان وائی زکه چہ دقران اصل مسئله چہ هغه بیان دتوحید دے نو چہ پہ دغه مسئله دتوحید کوم اعتراضات دی نو دے حوامیم سبع کے دهغے ۱۱ اعتراضونو جوابونه ذکر دی نو پہ دے وجه دے حوامیم سبع ته لباب القران ویلے کیگی۔ لکه شنگه چہ سورۃ یٰس ته قلب القران ویلے کیگی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورة فصلت/ حٰم سجده مکی (ترتیبا ۴۱ بعد از مومن - نزولا ۶۱ بعدازمومن)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة المومن | شمار | سورة حٰم سجده |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | چه هر کله ئے دے سورة کے دامسئله ثابته کړله په عقلی، نقلی، او وحی دلائیلو سره چه لائق د بلنے صرف یوالله دے بل څوک نشته۔ | ۲۔ | نو دلته رد د شبهاتو شلو روکیګی۔ زکه چه دا دباطل پرستو پخوانے طریقه ده چه کله مسئله بیان شی په دلائیلو سره نو دوی نور شبهات پیدا کړی او اعتراضونه کوی۔ |
| ۲۔ | ایت ۳۰ کے اووے چه تاسو یروم دعذابونو نه | ۲۔ | ایت ۱۵ کے تفسیر دد غے عذابونو کوی۔ |
| ۳۔ | ایت ۴-۵ کے اووے چه کافر به همیشه د حق خلاف جګړے کوی۔ | ۳۔ | ایت ۲۶ کے هغه طریقه د دوی د جګړے بیانوی چه دوی وائی چه شور جوړ کړے دالله په کتاب کے۔ وقال الذین کفروا لاتسمعوا لهٰذا القرانِ والغو فیه |
| ۴۔ | ایت ۸۳ کے زجر هغو ملیانو ته دو۔ چه هغوی وائی چه مونګ لره خپل علم کافی دے۔ قران ته ضرورت نشته کینو۔ فرحوا بما عندهم من العلم په خپل علم نازیدل | ۴۔ | ایت ۵ کے زجر ورکوی امیانو ته چه وائی چه مونګ په قران نه پوهیګو نو ضرورت لره قران ته کینو۔ وقالوا قلوبنا فی اکنة مما تدعون الیه |
| ۵۔ | ایت ۱۶ کے اووے یوم هم برزون په دغه ورز کے به دوی الله ته مخامخ وی پټ به نشی | ۵۔ | ایت ۲۰ کے فرمائی چه پټیدل نشو کوے چه دوی اندامونه به په دوی ګواهی کوی۔ |
| ۶۔ | شروع کے ترغیب الی القران وو۔ | ۶۔ | نو دلته هم شروع کے ترغیب الی القران دے۔ |
| ۷۔ | ترتیبا او نزولاً برابر دے یعنی یو بل پسے دی۔ | ۷۔ | ترتیباً او نزولاً یو بل پسے دی۔ |
| ۸۔ | جګړا د کافرو ذکر کړه په ایت ۴ کے مایجادل فی ایٰت الله الا الذین کفروا | ۸۔ | وجه د جګړے ذکر کوی ایت ۵ کے وقالوا قلوبنا فی اکنة |
| ۹۔ | ایت ۳۱ کے اووے چه ما عادیان او ثمودیان هلاک کړل۔ | ۹۔ | ایت ۱۵ کے علت د هلاکت خائی فاما عاد فاستکبروا فی الارض او ایت ۱۷ کے واما ثمود.. فاستحبوا العمی.... |
| ۱۰۔ | ایت ۷ کے اووے فرښتے قران والو د پاره دعا د مغفرت غواړی۔ | ۱۰۔ | ایت ۳۰ کے فرمائی چه دے قران والو ته فرښتے راززی او تسلی ورکوی۔ |

**امتیازات د سورة** (۱) سورة ممتاز دے په شبهاتو ابعه بعد البیان باندے

(۲) سورة ممتاز دے په ایت ۱۱ باندے چه اسمان نه ئے تعبیر اوکړو په دخان سره یعنی نشت وو شتهٔ م کړو۔

(۳) سورة ممتاز دے په ایت ۲۶ باندے چه قران والا به هله کمزورے کړے شی چه تاسو د هغوی په درسونو/ بیانونو کے شور جوړ کړے۔

(۴) سورة ممتاز دے په ایت ۳۰ باندے چه بشارت په استقامت فی الدین باندے۔

(۵) سورة ممتاز دے په ایت ۴۲ باندے چه الله په یو جدا شان سره فرمائی چه زهٔ به د دے قران حفاظت کووم سورة حجر ایت ۹ کے په جدا شان سره وئیلے وو۔

(۶) سورة ممتاز دے په ۲۹ باندے چه کافر به وائی جهنم کے۔ چه یا الله مونګ ته او خائی هغه دوه قسمه خلق چه ذخپو لاندے ئے دَل دول کړو۔

(۷) سورة ممتاز دے په ۳۴ باندے چه قران سره دشمن دوست کیګی۔ لکه شنګه چه ئے ال عمران ۱۰۳ کے وئیلے وو۔ مګر دلته په جدا شان سره وائی۔

(۸) سورة ممتاز دے په ایت ۶-۷ مشرک یو هغه دے چه زکوٰة نه ورکوی۔

**مقصد دسورة: نفی د شرک فی الدعا او دفع د شبهاتو اربعاؤ** (دد ے حوامیمو ټول یو مقصد دے چه هغه نفی د شرک فی لدعا دے او دغه دعوه مخکے سورة مومن کے دد ے وارے تیره شوه لکه ایت ۱۴ کے فدعوا الله مخلصین له الدین ایت ۶۰ وقال ربکم ادعونی استجب لکم.... ایت ۶۵ کے هوالحی لا اله الاهو فدعوه مخلصین له الدین نو دے سورة کے پرے شبهات منکرینو به د غے دعوه بیان کړل نو د هغے جوابونه ورسره بیانیګی۔

( خلاصه د سورة بل مخ ته اوګوره )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خلاصہ مختصر:** سورۃ کے ثلور شبہات د طرفہ د مشرکینو او د ھغے جوابونہ ذکر دی۔ پہ شروع کے ڑومبے ترغیب الی القران او زجر منکرینو د قران تہ ذکر دے۔ بیا ایت ۵ نہ شبہات شروع دی۔ نو

**(۱) ڑومبے شبہہ/اعتراض** ایت ۵ **وقالوا قلوبنافی اکنۃ** ستاپہ خبرہ مونگ نہ پوھیگو۔ ستا خبرے زمونگ د سمجھ نہ بالاتر دی۔ لک چہ نن امیان وائی چہ مونگ قران تہ ځلہ کینو۔ ځکہ
چہ دے لرہ ۱۴ علوم ضروری دی۔ دا شبہہ د پخوانہ راروان دہ۔
نو ایت ۶ کے جواب دے۔ چہ قران ھم داخبرہ کوی چہ **قل انما انا بشر مثلکم** زۂ ھم ستاسو پہ رنگ انسان یم نو چہ زما پہ سمجھ کے رازی داقران نو ستاسو سمجھ کے ولے نہ رازی۔
**یوحیٰ الی** فرق زما او ستاسو مابین کے دا دے چہ ماتہ وحی کیگی او تاسو تہ نہ کیگی۔ د شہ وحی کیگی؟ **انما الٰھکم الہ واحد** دا د توحید مسئلہ اسانہ مسئلہ دہ اخر ولے ستاسو سمجھ کے نہ رازی۔

**(۲) دویمہ شبہہ/اعتراض** مونگ ستاخبرہ ځکہ نہ منو چہ د شپے بابا/ولی پہ خوب کے راغلے وو۔ او کونبی یے راتہ نیغہ نیغہ کولہ چہ کہ زما پہ نوم دے نذر منختہ بند کڑلہ نو نقصان بہ درکڑم۔ لہذا
مونگ ھغہ زوڑ دین پسے زو۔
نو ایت ۲۵ کے جواب: **وقیضنا لھم قرناء**۔۔۔ دا بابا/ولی اللہ نہ بلکہ ستاسو ھغہ دوست ابلیس دے چہ پہ تاسو مقرر دے او ستاسو دوست دے۔ اولیاء خو ستاسو د حال نہ
بے خبرہ دی۔

**(۳) دریمہ شبہہ/اعتراض** چہ یرہ دا کتاب د اللہ کتاب نہ دے ورنہ دا بہ ضرور بلہ جبہ کے راغلے وے۔ تہ ھم عربی یے او دا قران ھم پہ عربئ کے دے لہذا دا تہ چپلہ لگ لگ جوڑوے پہ
چپلہ جبہ کے او بیا ئے خلقو تہ بیانوے۔ کہ دا د اللہ کتاب وونو بلہ جبہ کے بہ راغلے وو۔
نو ایت ۴۴ کے جواب **ءَ اَعْجَمِی وَّعَرَبِی** کہ قران بلہ جبہ کے راغلے وونو بیا بہ دے دا اعتراض کوو چہ قران عجمئ جبہ کے دے او رسول عربی دے۔ مونگ نہ منو دا قران۔

**(۴) ثلورمہ شبہہ/اعتراض:** چہ کہ دا قران رشتیا د اللہ طرفہ وے نو پہ یوزل بہ راغلے وے۔ دا خو چہ لگ لگ بیانولے شی۔ نو مطلب دا شو چہ دا رسول د زانہ جوڑوی۔
نو ایت ۴۵ کے جواب چہ موسیٰ تہ پہ یو وخت او پہ یوزل راغلے وو۔ ھغے کے ھم تاسو اختلاف جوڑ کڑو۔ ھغہ ھم تاسو اونہ منو۔ یعنی تاسو د بنی اسرائیلو نہ پہ ضد او عناد کے کم نہ
ئے۔

نو دا ثلور شبہے د منکرینو دلتہ دے سورۃ کے بیان دی۔ بیا نورے درے شبہے مخکے سورۃ الشوریٰ کے بیانیگی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سورة الشوریٰ مکی

(ترتیباً ۴۲ بعدازحٰم سجده - نزولاً ٦۲ بعدازحٰم سجده - دحوامیمو سبع ترتیب یوشان چلیگی)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة حٰم سجده | شمار | سورة الشوریٰ |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | ژومبے ربط دادے چه دواړه سورتونه ترتیباً او نزولاً یو بل پسے دی۔ | ۱۔ | دغه مخکے ئے ژوموبے ربط شو۔ |
| ۲۔ | سورة مومن کے دعوه دتوحید ذکرکړله۔ ایت ۱۴ کے فادعوا الله مخلصین له الدین نوسورة حٰم سجده کے اودوبے چه ان الذین قالوا ربنا الله ثم استقاموا تتنزل الله ملٰئکة الا تخافوا دغے موحدینو ته فرشتے تسلی ورکوی | ۲۔ | ایت ۱۰ کے دا دتوحید مسئله نوره هم په مخکے بوزی چه ذالکم الله ربی علیه توکلت والیه أنیب |
| ۳۔ | سورة حٰم سجده کے دمشرکینو طرفه شلور شبهے وے په دعوه دتوحید باندے۔ اودهغے جوابونه وو۔ | ۳۔ | نودلته نور درے اعتراضونه په دعوه دتوحید اود هغے جوابونه بیانیگی |
| ۴۔ | ایت ٦ کے اوفرمائیل چه انما الٰهکم اله واحد فاستقیموا الیه په دے مسئله کلک شه۔ | ۴۔ | ایت ۱۵ کے فرمائی چه واستقم کما امرت ولا تتبع اهوآءهم په دغے دعوه دتوحید کلک شه او ددے مشرکانو دخواهشاتو پسے نشے۔ اوگوره اهوآءهم ئے ویئلے دے دینهم ئے نه دے ویئلے |
| ۵۔ | ایت ۱۲ کے اودوبے واوحٰی فی کل سمآء امرها الله هرزائے کے حِپک اوامر مقرر کړل۔ | ۵۔ | ایت ۵۲ کے فرمائی وکذالک اوحینا الیک روحا من امرنا داستا پیغمبر کول هم زموږ د اوامرو نه یو امر دے۔ |
| ٦۔ | ایت ۳۰ کے اودوبے چه وابشروا بالجنة التی کنتم توعدون فرشتے موحد ته دجنت زیری ورکوی | ٦۔ | ایت ۲۲ کے په دغے ترقی ده فی روضٰت الجنٰت لهم ما یشاءون عند ربهم نه صرف باغیچے دجنتونو بلکه پورا تکمیل دخواهشاتو به دے هلته برابرشی اے موحده |
| ۷۔ | دقران دده نومونه ذکرشول ایت ۴۴ کے هدًی و شفاء | ۷۔ | ایت ۱۷ کے دده نور نومونه دقران حق او میزان ذکرکیگی الله الذی انزل الکتٰب بالحق والمیزان |
| ۸۔ | ایت ۵ کے اودوبے وقالوا قلوبنا فی اکنة مشرکین وائی چه زموږ زړهٔ ته ستا دمسئله نه کوز یگی | ۸۔ | ایت ۱۳ کے فرمائی چه کبر علی المشرکین ما تدعون الیه دتوحید دا مسئله په دے مشرکانو ډیره سخته او بده لگی۔ |

**امتیازات دسورة:** ۱) سورة ممتاز دے د وحی دریو اقسامو سره ایت ۵۱ کے: الله نه کوی خبرے انسانانو کے چا سره مگر په دریو طریقو یو وحیاً الهام (زړهٔ کے خبره اچول لکه د موسیٰ مور بی ته)

دویم: او من ورآءِ حجاب لکه موسیٰ سره په کوه طور باندے دریم: اویرسل رسولاً رالیگل د فرشتے پیغمبر ته

۲) سورة ممتاز دے په دریو اعتراضونو دمنکرینو طرف نه چه دا رنگ اعتراضات نورو سورتونو کے نشته۔

۳) سورة ممتاز دے په ایت ۴۹-۵۰ باندے یهب لمن یشاء اناثا ویهب لمن یشاء الذکورا اویزوجهم ذکرانا واناثا .......

۴) سورة ممتاز دے په لفظ میزان سره چه قران ته الله میزان ویئلے دی۔ ایت ۱۷

۵) سورة ممتاز دے په ایت ۱۱ کے په الفاظو لیس کمثله سره چه دالله په شان کے مثالونه مه بیانوه زکه چه دالله مثال نشته۔ دا شرک دے۔

٦) سورة ممتاز دے په ایت ۱۳ باندے چه مشرکانو باندے دتوحید مسئله بده لگی۔ کبر علی المشرکین ما تدعون الیه

**مقصد دسورة:** نفی دشرک فی الدعا (دا دټولو حوامیمو مقصد دے) اودفع دنورو دریو شبهاتو دمنکرینو دطرف نه په مسئله دتوحید باندے۔

(خلاصه دسورة بل مخ ته اوگوره)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خلاصہ مختصر:** حوامیم سبع دسورۃ مومن نہ شروع دی۔ ھلتہ ڈلو حوامیمو سبع دعوہ ذکر شوہ چہ **فادعوا اللہ مخلصین لہ الدین** صرف داللہ نہ دعا غواڑہ بل چانہ مہ غواڑہ دادعوہ درے وارے ذکر شوے دہ۔
ایت ۱۴ کے ایت ۶۰ کے او ایت ۶۵ کے
نوسورۃ حٰمٓ سجدہ کے پرے شلور اعتراضونہ ذکر شول پہ دغہ دعوہ باندے اودھغے جوابونہ اوشول۔ چہ ھغہ دا دو۔
(۱) مونگ ستا پہ خبرہ نہ پوھیگو ایت ۵ کے اودے **وقالوا قلوبنا فی اکنۃ** ایت ۶ کے ورتہ جواب ورکوی چہ زۂ انسان یم ستہ بل مخلوق خو نہ یم چہ زما پہ خبرہ نہ پوھیگے **قل انما انا بشر مثلکم**
(۲) مونگ ستا خبرہ ذکہ نہ منو چہ دشپے مو بابا/ولی یروی چہ ددۂ خبرہ مہ منہ نو جواب ایت ۲۵ کے وو چہ ذا بابا نہ بلکہ شیطان دے چہ تا سو یروی۔ چہ د قران نہ لرے ئے نو شیطان بہ دے ملگرے
وی لکہ سورۃ الزخرف ۳۶ **ومن یعش عن ذکر الرحمٰن نقیض لہ شیطانا فھو لہ قرین**
(۳) چہ قران دخدائے کتاب وے نو بلہ جبہ کے ولے نہ راتلو۔ نو جواب ایت ۴۴ کے وو **ء أعجمی وعربی** راشہ داتماشا او گورہ چہ قران عجمی جبہ کے دے او رسول عربی دے۔
(۴) دا قران پہ یو وارے ولے رانغے چہ لگ لگ رازی۔ جواب ایت ۴۵ کے چہ موسیٰ تہ تورات پہ یو وارے راغے نو ھغہ دے کوم اومنو۔

## نو اوس دے سورۃ الشوریٰ کے درے نور اعتراضونہ ذکر کوی۔

(۱) ددے ڑومی اعتراض دوہ شاخونہ دی یو شاخ: داخبرہ دتوحید چہ **فادعوا اللہ مخلصین لہ الدین** تہ د زانہ کوے بل شاخ: داخبرہ ستا نہ مخکے پیغمبرانو نہ دہ کڑے۔
دوہ جوابونہ کوی:
(الف) ایت ۳ کے **کذالک یوحی الیک والی الذین من قبلک** داخبرہ تہ د زانہ نہ کوے بلکہ پہ دے تاتہ وحی کیگی او صرف تا تہ نہ بلکہ پخوانو پیغمبرانو تہ ھم وحی کڑے شوے دہ۔
ددے مسئلے چہ **فادعوا اللہ مخلصین لہ الدین** نو دواڑو شاخونو ددے اعتراض جواب اوشو۔
(ب) ایت ۱۳ کے تفصیلی جواب کوی۔ چہ تا تہ دکوم دین وحی کیگی ددغے دین وحی نوحؑ تہ ابراھیمؑ تہ او موسیٰؑ تہ او دغسے عیسیٰؑ تہ ھم شوے وہ۔ نو چہ مینز کے کوم پیغمبران ھغہ
ھم دیکے راغلل
(۲) دویم اعتراض: ٹول ملیان ستا خلاف دی ھغوی خو داخبرہ نہ کوی دا کومہ چہ تہ کوے چہ وسیلے نشتہ۔ او بابا نہ رارسی او ھغہ ستا پہ حال خبر نہ دے۔ بلکہ نور ملیان خو وائی چہ وسیلے شتہ
ولے آدمؑ دنبیؐ وسیلہ نہ وہ نیولے۔
دوہ جوابونہ کوی:
(الف) ایت ۱۴ کے **وما تفرقوا الا من بعد ما جاءھم العلم بغیا** دا داللہ باغیان دی چہ وائی چہ اللہ بغیر وسیلے سوال نہ قبلوی۔
(ب) بل جواب ایت ۲۱ کے **ام لھم شرکاءُ شرعوا لھم من الدین** ایا ددوی بل خدائے شتہ چہ ھغے خدائے ورتہ دین رالیگلے وی او ھغے کے داوی چہ وسیلے دزو دا تو شتہ۔ او داللہ نہ براہ
راست غوستو سرہ سوال نہ قبلیگی۔
(۳) دریم اعتراض: پخوانی ٹول کتابونہ ستا ددغے مسئلے خلاف دی۔ کتابونو کے وسیلے ذکر دی۔ تہ دھغے کتابونو لیکونکو نہ غٹ سڑے خو نہ ئے۔
نو ۵ جوابونہ ئے کوی
(الف) ایت ۱۰: **وما اختلفتم فیہ من شیءٍ فحکمہ الی اللہ** ستاسو اختلاف والا مسئلہ داللہ پہ کتاب یعنی پہ قران سرہ حل کڑہ۔ زکہ چہ دا کسوٹی دہ۔
(ب) ایت ۱۵: **وقل امنت بما انزل اللہ من الکتاب** ما پہ قران ایمان راوڑے دے پہ بل کتاب نہ۔ کہ ستاسو کتابونو کے دزو دا تو وسیلے دی نو نہ منم
(ت) ایت ۱۷: **اللہ الذی انزل الکتٰب بالحق والمیزان** راوڑہ ستا داخبرہ او عقیدہ چہ پہ قران ئے اوتلو چہ وسیلے شتہ او کہ براہ راست د غوستو تعلیم ورکوی قران۔
موء من ۶۰ **وقال ربکم ادعونی استجبلکم** پہ دیکے راتہ وسیلہ دزو دا تو ثابت کڑہ یا **اجیبُ دعوۃ الداع اذا دعانِ** دیکے راتہ وسیلہ ثابت کڑہ
(ث) ایت ۴۷: **استجیبوا لربکم** دعقیدے باب کے نورو کتابونو پسے مہ زہ۔ بلکہ دخپل رب کتاب پسے لاڑ شہ۔
(ج) ایت ۵۲: **وکذالک اوحینا الیک روحا من امرنا ما کنت تدری ما الکتٰب ولا الایمان ولکن جعلنٰہ نورا نھدی بہ من نشاء من عبدنا** دا ایمانیات و دپارہ قران کریم کافی کتاب
دے د بل کتاب ضرورت نشتہ دعقیدے زدہ کولو دپارہ۔

یادساتے دا ٹول اووۂ اعتراضات/شبہات شول دمنکرینو طرف نہ پہ دعوہ دتوحید باندے۔ مخکے بہ نور ھم بیانیگی پہ نورو سورتونو کے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الزخرف مکی (ترتیباً ۴۳ بعدازشوریٰ - نزولاً ۶۳ بعدازشوریٰ)

**ربط ماسبق سره** (اگرچه بعضے علماء ددے نوروحوامیمو سبع ربط نه بیانوی۔زکه چه ټولو حوامیمو یو مقصد دے۔مگر بعضے علماء داشاعت ئے بیانوی۔نو مونګ ئے زکه بیانوو۔)

| شمار | سورة الشوریٰ | شمار | سورة الزخرف |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | دمشرکانو دټلو رواعتراضونو جوابونه په حٰمٓ سجده کے او ددریو اعتراضونو جوابونه په شوریٰ کے اوشول | ۱۔ | نو دے سورة کے دمشرکانو دبل (یعنی اتم) اعتراض جواب کیګی۔په ایت ۸۶ کے |
| ۲۔ | خاتمه په ترغیب الی القران اوشوه ایت ۵۲ وکذالک اوحینا الیک روحا من امرنا.... | ۲۔ | نو ددے سورة افتتاح کیګی په ترغیب الی القران باندے او بیا ایت ۴۳-۴۴ کے خصوصی ذکر د قران پاک دفرضیت کولے شی۔ |
| ۳۔ | اجمالاً د جنت بیان وو۔په ایت ۲۲ کے | ۳۔ | نو دے سورة کے تفصیلاً د جنت بیان کولے شی ایت ۶۸-۷۳ پورے |
| ۴۔ | ایت ۵۲ کے اووے چه قران رڼا ده۔ ولکن جعلنٰه نوراً نهدی به من نشاء من عبادنا | ۴۔ | نو دے سورة کے ایت ۴۴ کے فرمائی چه ژه به ددے قران/نُور باره کے تپوس کوم وانه لذکر لک ولقومک وسوف تسئلون |
| ۵۔ | ایت ۳۲ کے اووے چه کشتئ م درلره پیدا کړی دی په سمندر کے پښان دغر (لکه بحری جهاز) | ۵۔ | ایت ۱۲-۱۳ کے فرمائی جعل لکم من الفلک والانعام ما ترکبون (نوشکر یه اداکړه کنه ددے نعمت الله) |
| ۶۔ | ایت ۴۸ کے اووے ان الانسان لکفور | ۶۔ | ایت ۱۵ کے ترقی ده فرمائی ان الانسان لکفور مبین |
| ۷۔ | ایت ۲۸ کے اووے چه خلقو دنا اومیدو نه روستو باران کووم | ۷۔ | ایت ۱۱ کے فرمائی چه باران سره زمکه تازه کوو۔ |

## امتیازات دسورة:

(۱) سورة ممتاز دے په بیان د دعا د سورلئی ایت ۱۳-۱۴ سبحان الذی سخر لنا هٰذا وما کنا له مقرنین وانا الی ربنا لمنقلبون

(۲) سورة ممتاز دے په ایت ۲۸ باندے چه ابراهیمؑ کلمه دتوحید په څلویښت کے مسلسل ګرزولے وه۔

(۳) سورة ممتاز دے په ایت ۳۱ باندے چه د مکے مشرکانو به وئیل چه داقران د مکے یا د طائف په یو مالدار سړی ولے نه راتلو۔

(۴) سورة ممتاز دے په ایت ۳۶-۳۷ باندے ومن یعش عن ذکر الرحمٰن نقیض له شیطاناً فهو له قرین وانهم لیصدونهم عن السبیل ویحسبون انهم مهتدون

(۵) سورة ممتاز دے په ایت ۴۳ چه الله فرمائی چه قران ستا او ستا دقوم/امت د پاره شرف دے۔

**مقصد دسورة: نفی دشرک فی الدعاء** (د اوو واړو سورتونو -مومن نه احقاف پورے- هم دا یوه دعوه/مقصد دے۔) او په دے سورة کے دا تمے شبهے/اعتراض رد کولے شی هغه داچه مشرک وائی چه ټیک ده مونګ خو دوی ته خدایان نه وایو۔مګر داچه دوی مونګ خلاصوی دالله نه او زمونګ د پاره دالله نه سوال کوی مونګ خو ورته خدایان نه وایو۔نه مونګ ته هسے مشرکان وائے۔مونګ دوی ته سوال کوو۔دوی زمونګ د پاره الله ته سوال کوی او الله ددوی سوال نه ردکوی۔ لهٰذا دوی مونګ خلاصوی دالله نه۔ نو ایت ۸۶ کے جواب کوی۔ ولا یملک الذین یدعون من دونه الشفاعة دا اتمه شبهه او دهغے جواب دے۔

ددے نه علاوه شپګ نورے شبهے په دے سورة کے هم بیانیګی۔ چه هغه دادی۔

شبهه ۱ : ایت ۱۵: چه دا د الله نازولے دی۔زکه ئے رامدد کوو۔ وجعلوا له من عباده جزءًا

شبهه ۲ : ایت ۲۰: دا مونګ چه دوی ته رامدد شے دایو۔ نو په دے الله خوشحالیګی۔ وقالوا لوشآء الرحمٰن ما عبدنٰهم

شبهه ۳: ایت ۲۲: چه دا زمونګ زوړ دین دے۔ پخوا علماؤ دا مسئلے مونګ ته بیان کړے دی۔ قالوا انا وجدنا اٰبآءنا علیٰ امة وانا علیٰ اٰثٰرهم مهتدون

شبهه ۴: ایت ۳۰: دا رسول جادوګر دے دزانه لګیا دے او چه داخلق ورته ناست دی۔نو په دوی ئے جادو چلید ے دے۔ ولما جآءهم الحق قالوا هٰذا سحر وانا به کٰفرون

شبهه ۵: ایت ۳۱: چه که دا قران دخدائے کتاب وے نو په یو لوے عالم ولے نه راتلو۔دا پیدائشی یتیم او غریب او امی باندے ولے راغے۔دے راته لوے سړے شو۔

شبهه ۶: ایت ۶۰: چه الله فرشته ولے نه رالیګله بطور پیغمبر په زائے ددے انسان۔

مګر اصل شبهه چه د حوامیمو دعوه (فادعوا الله مخلصین له الدین مومن ۱۴) سره متعلق ده هغه ایت ۸۶ کے چه مونګ دوی ته چه دا راورسے رامدد شے وایو۔ نو مونګ خو ورته خدایان نه دی وئیلے۔بلکه دوی الله ته زمونګ سوال پیش کوی او مونګ خلاصوی الله نه نو جواب: چه الله دا اختیار هیچ چا ته نه دے ورکړے۔ولا یملک الذین یدعون من دونه الشفاعة

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سورة الدخان مکی

(ترتیبا ۴۴ بعداز زخرف - نزولاً ۶۴ بعداز زخرف)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الزخرف | شمار | سورة الدخان |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۔ | شروع دسورة په ترغیب الی القران سره شوے وه۔ | ۱۔ | نو دا سورة هم په ترغیب الی القران سره شروع کیگی۔ |
| ۲۔ | دمشرکینو دشبهے جواب ایت ۸۶ کے اوشو چه سفارشیان نه دی۔ | ۲۔ | ایت ٦ کے فرمائی چه ستا سوال صرف الله داوری/قبلوی بل ثوک نه۔ یعنی ترقی په ماسبق ده۔ |
| ۳۔ | دنبیؑ خبره ایت ۸۸ کے ذکرشوه ان هٰوءلاءِ قوم لایوءمنون | ۳۔ | ایت ۲۱ کے دموسیٰ خبره: وان لم توءمنوا لی فاعتزلون۔ که زما خبره نه منئ نو لرے شے رانه۔ |
| ۴۔ | مومنانو ته بشارت اخروی ووـ ایت ۷۰-۷۴ پورے: اُدخلوا الجنة انتم وازواجکم تحبرون | ۴۔ | ایت ۵۱-۵۷ هم بیان دبشارت اخروی۔ چه صرف جلپلے بیبیانے نه بلکه وزوّجنهم بحورعین |
| ۵۔ | دفرعون دهلاکت ذکراوشو اجمالاً مختصراً په ایت ۵۵ کے | ۵۔ | نو دے سورة کے تفصیلاً ذکرکولےشی۔ دفرعون دهلاکت۔ |
| ٦۔ | ایت ۴۴ کے اووے۔ انه لذکر لک ولقومک..... | ٦۔ | ایت ۳ کے فرمائی چه انا انزلناه فی لیلة المبارک |
| ۷۔ | ایت ٦۷ کے اووے چه دمتقیانو دوستی به آخرت کے هم وی۔ | ۷۔ | ایت ۴۱ کے فرمائی چه کافران یو دوست به بل ته په آخرت کے هیث فائده نشی ورکولے۔ |
| ۸۔ | ایت ۳۰ کے کافرو قران ته جادو وئیلے دے۔ | ۸۔ | ایت ۱۴ کے رسولؐ ته مجنون وائی۔ |

**امتیازات دسورة::** (۱) سورة ممتاز دے په ایت ۴ باندے فیها یُفرَق کل امرٍ حکیم (په دغے شپه کے فیصلے دکارونو جدا جدا کولےشی۔)

(۲) سورة ممتاز دے په ایت ۱۰ باندے یوم تاتی السماء بدخان مبین آسمان به لوگےشی او یغشَ الناس داخلق به پټ کړی۔

(۳) سورة ممتاز دے په ایت ۱۴ باندے چه وائیناد دافرودہ۔ درسولؐ متعلق: معلم مجنون ډیر پوهه لیونے دی۔(په دے خبره سوچ اکړے پوه او لیوے)

(۴) سورة ممتاز دے په ایت ۲۴ واترک البحر رهوًا خشک/ولاړ دریاب پریده

(۵) سورة ممتاز دے په ایت ۲۵-۲۷ په نعمتونو د دنیا فرعون لره۔ چه باغونه، چینے، مقام کریم وغیره وو۔

(٦) سورة ممتاز دے په ایت ۲۹ فما بکت علیهم السماء آسمان اوزمکے دفرعونیانو په هلاکت اونه ژړل۔

**مقصد دسورة: بیان د نهمے شبهے په دعوه د حوامیموسبع چه هغه دعوه په سورة مومن کے درے وارے بیان شوے وه۔**

(ایت ۱۴ کے فدعوا الله مخلصین له الدین ایت ۶۰ کے وقال ربکم ادعونی استجب لکم... او ایت ٦۵ کے هوالحی لا اله الا هو فدعوه مخلصین له الدین)

سورة حٰم سجده کے په دغے دعوه باندے څلور شبهے اودهغے جوابونه بیان شول چه هغه دا وو۔

(۱) ایت ۵ : مونګ ستا په خبرو نه پوهیگو جواب ایت ٦ کے: زه هم ستا سو پشان انسان یم۔ ولے نه پوهیگئ زما په خبرو۔

(۲) مونګ ستا خبره/مسئله زکه نه منو چه دشپے خوب کے بابام یروی جواب ایت ۲۵ کے چه بابا نه بلکه شیطان دے یروی

(۳) که قران دالله کتاب وے نو بله جبه کے به راغلے وے۔ جواب ایت ۴۴ کے ءاَعجمی وعربی

(۴) که دا قران رشتیا دالله کتاب دے نو په یو وارے به راغلے وے۔ جواب ایت ۴۵ کے چه تورات تاسو کوم اومنو حالانکه هغه په یو وارے راغلے وو۔

بیا درے اعتراضات اودهغے جوابونه اوشو په سورة شوریٰ کے:

(۵) دا خبره دتوحید (فدعوا الله مخلصین له الدین) ته دزانه کوے۔ اودا خبره مخکے پیغمبرانو نه ده کړے۔ نو جوابونه ایت ۳ + ۱۳ کے اوشو۔

(٦) ټول ملیان ستا خلاف دی هغوی خودا خبره نه کوی بلکه هغوی وائی چه وسیلےشته۔ بابا گان رارسیدیشی۔ ولے آدمؑ د نبیؐ په وسیله نه وو خلاص شوے۔ جواب ایت ۱۴+۲۱ کے

(۷) پخوانی ټول کتابونه ستا د دغے مسئلے خلاف دی۔ نو جوابونه ۵ اوشو ایت ۱۰، ۱۵، ۱۷، ۴۷، او ۵۲ کے

(بل طرف ته هم اوگوره)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا بله شبهه په سورة الزخرف کے ده ـ هغه دا چه:

(۸) ټیک ده مونګ خو ورته خدایان نه وایو ـ ته هسے مونګ ته مشرکان وائے ـ مونګ دوی ته سوال کوو ـ او دوی زمونګ د پاره الله ته سوال کوی ـ نو دا زمونګ وسیلے دی ـ د دوی په شفاعت سره الله زمونګ کار کوی ـ نو جواب ایت ۸٦ کے **ولا یملک الذین یدعون من دونه الشفاعة**

نو اوس دے سورة الدخان کے نهمه شبهه:

(۹) اصل کے دا د هغے اتمے شبهے دویم شق دے ـ هلته ئے جواب اوکړو ـ چه نه دوی سره د شفاعت اختیار شته او نه اوریدیشی ـ نو دا مشرک وائی کیدیشی چه واوری، نو ایت ٦ کے جواب کوی **انه السمیع العلیم** صرف یو الله ستاسو سوال اورزی بغیر غوګونو ـ (په سمیع باندے الف + لام د پاره د تخصیص دی ـ چه دا صفت صرف د الله دے ) او یقیناً چه صرف دا یو الله بغیر غوګونو اوری چه دا اتفاقی مسئله ده ـ او قبولتیا هم کوی ـ بل هیڅ ثوک نه اوری بغیر غوګونو ـ ځکه چه د با غوګونه ختم دی ـ او که فرض که شته هم نو قوتِ سماعت یکے نشته ـ دقوتِ سماعت د پاره روح اول شرط دے دده په جسم کے ـ او نه قبولتیا کولے شی ـ اعراف ۱۹۵ : **الهم ارجل یمشون بها... الهم اذان یسمعون بها**... نو چه د دغے الله په اوریدو کے هیڅ شک نشته نو بیا د هغے ذات نه ولے نه غواړے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الجاثیه مکی

(ترتیباً ۴۵ بعداز دخان ÷ نزولاً ۶۵ بعداز دخان)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الدخان | شمار | سورة الجاثیه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۔ | شروع دسورة په ترغیب الی القران سره۔ | ۱۔ | نو داسورة هم شروع په ترغیب الی القران سره دے۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۲۔ | نهمه شبهه وه دحوامیم سبع په دے سورة کے: چه مونګ خو ورته خدایان نه وایو۔ مګر دومره ده چه زمونګ سوال اوری۔ او الله ته وړاندے کوی۔ نو جواب اوشو ایت ۶ کے انه سمیع العلیم | ۲۔ | لسمه شبهه په دے سورة کے ایت ۱۸ کے۔ چه زمونګ دین پخوانے دے old is gold نو دے سورة کے ددغے شبهے دفع کولے شی۔ نو په دے وجه ئے متصل راوړو۔ |
| ۳۔ | فرعون دموسیٰؑ مزاق اړاوکړو نو غرق م کړو ایت ۲۴ | ۳۔ | ایت ۹ کے فرمائی چه څوک زما ایتونو پورے ټوقے کوی هغه غرق کوم۔ |
| ۴۔ | مومنو دپاره جنت ایت ۵۱ کے ذکر دے۔ | ۴۔ | ایت ۳۰ کے ترقی په ماسبق ده ذالک هو الفوز المبین |
| ۵۔ | ایت ۳۲ کے اوفرمائی چه بنی اسرائیل م اوچت کړے وو په خپله زمانه کے ولقد اخترنٰهم علیٰ علم علی العٰلمین | ۵۔ | ایت ۱۶ کے ترقی ده په ماسبق وفضلناهم علی العٰلمین |
| ۶۔ | ایت ۳ کے فرمائی چه قران م دخیراو برکت شپه کے نازل کړے دے۔ | ۶۔ | ایت ۲۰ کے فرمائی چه هٰذا بصائر الناس وهدًی ورحمة لقوم یوقنون |
| ۷۔ | ایت ۳۵ کے دقیامت نه دکافرو انکار ذکر دو۔ | ۷۔ | ایت ۳۴ کے ددغے منکرینو دقیامت والو دپاره سزا ذکر ده۔ ومأواکم النار |

## امتیازات دسورة:

(۱) سورة ممتاز دے په دے بیان چه هر امتی به خپلے اعمال نامے ته راغوستے شی ایت ۲۸ کلُّ امةٍ تدعٰی الی کتابها

(۲) سورة ممتاز دے دکافرو په دے وائینا چه مونګ څوک نشی هلاک کولے مګر زمانه ایت ۲۴ وما یهلکنا الا الدهر

(۳) سورة ممتاز دے په دے خبره چه فرمائی چه کله پوهشی په حقه مسئله یا قران نو هله دد دے مزاق اُړاودی۔ ایت ۹ واذا علم من اٰیٰتنا شیئا ن اتخذها هزوا

(۴) سورة ممتاز دے په دے خبره چه قران په زړه بل دا سے کوم کتاب دے چه دوی په ے ایمان راوړی یعنی نشته بل ایمان والا کتاب هاں جهنم دے ده کړه۔ ایت ۶-۷

(۵) سورة ممتاز دے په برترے دبنی اسرائیلو دخپلے زمانے په خلقو باندے په وجه د ۵ وجوهاتو (۱) کتاب (۲) حکم (۳) نبوت (۴) رزق (۵) نور فضیلتونه په خلقو باندے ایت ۱۶

## مقصد دسورة: بیان دلسمے شبهے دمنکرانو او جواب ددغے شبهے هغه دا چه:

ستاسو دین نوے دے او زمونګ دین پخوانے دے۔ لهٰذا مونګ زوړ دین پسے زو۔ چه هغه تابعداری زمونګ دمشرانو ده۔ چه په دغه دین کے غوثان او ابدالان دی۔ او دغه "متفق" علیه دین دے۔ لهٰذا مونګ ستاسو دا نوے دین نه منو۔

جواب: ایت ۱۸: ثم جعلنٰک علیٰ شریعةٍ من الامر ولا تتبع اهوآء الذین لا یعلمون ۔ دین هغه دے۔ چه د الله طرفه دے۔ او دین هغه نه دے چه په خواهشاتو مبنی وی۔

یعنی دا منکرین د دین نه بلکه دخپلو خواهشاتو تابع دی۔ دین به منقول وی دپیغمبرانو نه علیٰ شریعةٍ من الامر واضح دین دپخوانو پیغمبرانو چه هغه فدعوا الله مخلصین له الدین دے یعنی نور والفاظو کے هغه لا اله الا الله دے چه دهر پیغمبر دین دے۔

﴿ دوے حوامیم سبع ترتیب وار تفصیل او ګوره دسورة احقاف (چه آخری دحوامیم سبعو نه دے) دخلاصے بل طرف ته ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الاحقاف مکی

(ترتیباً ۴۶ بعداز جاثیه - نزولاً ٦٦ بعداز جاثیه)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الجاثیه | شماره | سورة الاحقاف |
| --- | --- | --- | --- |
| ا۔ | ترغیب الی القران سره سورة شروع شوے وو۔ | ا۔ | نو دا سورة هم په ترغیب الی القران سره شروع شو۔ |
| ۲۔ | شروع د سورة هم په من الله العزیز الحکیم او خاتمه هم په دغے سره اوشوه۔ | ۲۔ | نو دد ے سورة شروع کے هم من الله العزیز الحکیم ے راوړو۔ |
| ۳۔ | ایت ۲۲ خلق السمٰوٰتِ والارض بالحق | ۳۔ | ایت ۳ کے ترقی په ماسبق ده۔ ماخلقنا السمٰوٰتِ والارض الا بالحق |
| ۴۔ | ایت ۲۳ کے وو۔ وختم علی سمعه وقلبه.....زکه چه دوی دد ے نه خپل مقصد وانه غستو | ۴۔ | ایت ۲٦ فرمائی وجعلنا لهم سمعاً وابصاراً وافئدةً فما اغنیٰ سمعهم وابصارهم ولا افئدتهم من شیئ |
| ۵۔ | ایت ۲۸ کے ویلے وو۔ اُلټا به وی دا مجرمان په قیامت کے (په ټلور بوڅی به وی۔) وترٰی کل امةٍ جاثیةً | ۵۔ | ایت ۲٦ کے وائی چه صرف په ټلور بوڅی نه بلکه کانړه او ړانده به هم وی۔ |
| ٦۔ | دے سورة الجاثیه کے لسمه شبهه وه دحوامیموسبع او دهغے جواب | ٦۔ | نو دے سورة الاحقاف کے یوولسمه شبهه په دعوه د حوامیموسبع او دهغے جواب دے۔ |

## امتیازات دسورة

(۱) سورة ممتاز دے په واقعه د جناتو چه اوریدو قران ایت ۲۹ وغیره

(۲) سورة ممتاز دے په ادابو د قران د طرفه د جناتو نه ایت ۲۹ قالوا انصتوا لکه شنګه چه قران فرمائی چه واذا قرئ القرانُ فاستمعوا وانصتوا لعلکم ترحمون۔

(۳) سورة ممتاز دے په تبلیغ د جناتو ایت ۲۹ ولوا الیٰ قومهم منذرین او ایت ۳۱ اجیبوا داعی الله وامنوا به...

(۴) سورة ممتاز دے په تصدیق د قران د جناتو طرف نه ایت ۳۰ انزل من بعد موسیٰ مصدقا لما بین یدیه یهدی الی الحق والی طریق المستقیم

(۵) سورة ممتاز دے په ثلاثون شهر باندے چه مور دے بچی ته ۳۰ میاشتے پی ورکړی

(٦) سورة ممتاز دے په نصیحت د مور پلار زوی ته ایت ۱۷ وهما یستغیثٰن الله ویلک امن ان وعد الله حق

(۷) سورة ممتاز دے په بیان د دوه قسمه اولاد نیک عمله اولاد او بدعمله اولاد ایت ۱۷

**مقصد دسورة: بیان دیوولسمے/آخری شبهے په مرکزی دعوه د حوامیموسبع (فدعوا الله مخلصین له الدین) باندے۔ او دهغے جواب په ایت ۲۸ کے**

دا سورة آخری د حوامیموسبعو نه دے شبهه داده چه مونګ خو ورته خدایان نه وایو۔ بلکه د دوی په سنګ/ جولائے کے نجات دے۔ او خیر و برکت دے۔ نو جواب کوی په ایت ۲۸ کے چه که د دوی په سنګ کے نجات وے۔ نو فلولا نصرهم الذین اتخذوا من دون الله قرباناً الهة دغے عادیانو له وے د دوی بابا ګانو بچ نه کړے شو۔ دالله د عذاب نه۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلاصه د شبهاتو د حوامیم سبع

**د حوامیم سبع دعوه ذکر وه په سورة مومن کے درے وارے:**

(ایت ۱۴ کے **فدعوا الله مخلصين له الدين** ایت ۶۰ کے **وقال ربكم ادعوني استجب لكم...** او ایت ۶۵ کے **هو الحي لا اله الا هو فادعوه مخلصين له الدين**)

**چه هر کله دعوه ذکر شوه نو منکرینو پے در پے اعتراضات/شبهات شروع کړل چه هغه دا دی:**

**سورة حم سجده کے په دغے دعوه باندے څلور شبهے او د هغے جوابونه بیان شوی چه هغه دا دی۔**

(۱) ایت ۵ : مونګ ستا په خبرو نه پوهیګو جواب ایت ۶ کے: زه هم ستا سو پشان انسان یم۔ و لے نه پوهیګئ زما په خبرو۔

(۲) مونګ ستا خبره/مسئله ځکه نه منو چه د شپے خوب کے بابام پرِوی جواب ایت ۲۵ کے چه بابا نه بلکه شیطان دے پرِوی

(۳) که قران د الله کتاب وے نو بله ژبه کے به راغلے وے۔ جواب ایت ۴۴ کے **ءأعجمي وعربي**

(۴) که دا قران رښتیا د الله کتاب وے نو په یو وارے به راغلے وے۔ جواب ایت ۴۵ کے چه تورات تاسو کوم او منو حالانکه هغه په یو وارے راغلے وو۔

**بیا درے اعتراضات او د هغے جوابونه او شو په سورة شوریٰ کے:**

(۵) دا خبره د توحید (**فدعوا الله مخلصين له الدين**) ته د زانه کوے۔ او دا خبره مخکے پیغمبرانو نه ده کړے۔ نو جوابونه ایت ۳ + ۱۳ کے او شو۔

(۶) ټول ملیان ستا خلاف دی هغوی خو دا خبره نه کوی بلکه هغوی وائی چه وسیلے شته۔ بابا ګان رارسیدیګی۔ و لے آدمؑ د نبیؐ په وسیله نه و خلاص شوے۔

جواب ایت ۱۴+۲۱ کے

(۷) پخوانی ټول کتابونه ستا د دغے مسئلے خلاف دی۔ نو جوابونه ۵ او شو ایت ۱۰، ۱۵، ۱۷، ۴۷، او ۵۲ کے

**بیا بله شبهه په سورة الزخرف کے وه۔ هغه دا چه:**

(۸) ټیک ده مونګ خو ورته خدایان نه وایو۔ ته هسے مونګ ته مشرکان وائے۔ مونګ دوی ته سوال کوو۔ او دوی زمونګ د پاره الله ته سوال کوی۔ نو دا زمونګ وسیلے دی۔

ددوی په شفاعت سره الله زمونګ کار کوی۔ نو جواب ایت ۸۶ کے **ولا يملك الذين يدعون من دونه الشفاعة**

**بیا بله شبهه ذکر ده په سورة الدخان کے**

(۹) کیدیګی چه زمونګ سوال واوری۔ نو جواب ایت ۶ کے وو چه **انه السميع العليم**

**بیا بله شبهه ذکر وه په سورة الجاثیه کے :**

(۱۰) چه مونګ زوړ دین پسے زو۔ او ستا دین نوے دے دا نه منو۔ نو جواب وو په ایت ۱۸ کے چه دین هغه دے چه پیغمبرانو نه منقول وی۔ او دین د خواهشاتو شے نه دے۔

**بیا بله آخری شبهه ذکر ده په سورة الاحقاف کے:**

(۱۱) چه مونګ خو ورته خدایان نه وایو۔ بلکه ددوی په سنګ کے یا لمن کے نجات دے او خیر و برکت دے نو جواب ایت ۲۸ کے چه قوم عاد لره و لے ددوی بابا ګانو بچ نه کړے شو۔ چه تاسو ددوی په سنګ کے نجات ګنړے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة محمد مدنی

(ترتیباً ۴۷ بعدازاحقاف - نزولاً ۹۵ بعدازحدید)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورة الاحقاف | سورة محمد |
|---|---|---|
| ۱۔ | مسئله ئے ثابته کړله په دلائیلو عقلیه نقلیه او وحیه سره | نودے سورة کے ترغیب الی القتال چه که اوس هم نه منی نو قتال ورسره اوکړه فاضرب الرقاب ایت ۴ |
| ۲۔ | ایت ۵ کے اووے چه مشرک غټ گمراه دے۔ | نو دلته ایت ۱ کے فرمائی چه اعمال او عقیده دواړه ئے برباد دی۔ |
| ۳۔ | بیان د جنت مختصراً اوشو | نو دلته ایت ۱۵ کے تفصیل د دغے جنت کوی۔ |
| ۴۔ | بیان د شبهاتو د مشرکانو او جوابونه اوشول۔ | نو دلته بیان د حالاتو د منافقانو کوی چه د اشبهات نه صرف مشرکان پیدا کوی بلکه منافقان هم پیدا کوی۔ |
| ۵۔ | ترغیب الی القران وو بلغ ایت ۳۵ (د اقران رسول دی خلقوته) | نو دلته حالات د انکار یا نو د قران ذکر کوی۔ |
| ۶۔ | قوم عاد د پیغمبر د حضرت هودؑ خلاف اوکړل نو تباه م کړل | نو دلته ایت ۱۳ کے فرمائی چه هر ثوک چه د پیغمبر خلاف کوی عمل ئے تباه کیګی۔ |

## امتیازات د سورة:

(۱) سورة ممتاز دے په ایت ۴ باندے چه په دیکے د فدیے د روایت بیان ئے کړے دے۔

(۲) سورة ممتاز دے په ایت ۱۲ چه د دینا پرست یکے د غوئی سره مشابه کړے شوے دے۔

(۳) سورة ممتاز دے په ایت ۱۵ چه هغه ځلور قسمه وے/نهرونه ذکر کولے شے د جنت چه هغه پئ، اوبه، شات او جنتی شراب دی۔

(۴) سورة ممتاز دے په ایت ۲۴ افلایتدبرون القران ام علی قلوب اقفالها۔۔۔

(۵) سورة ممتاز دے په ایت ۱۹ فاعلم انه لا اله الا الله چه د ایمان په کلمه زان پوهه کړه زان نه غلطی مه جوړوه۔

(۶) سورة ممتاز دے په ایت ۳۲ باندے چه درے قسمه خلق برباد دی (الف) کافر (ب) چه خلق بندوی د لارے/دین د الله نه (ت) چه کوم د پیغمبر خلاف کوی۔

(۷) سورة ممتاز دے په ایت ۳۷ چه که الله تاسو نه ستاسو ټول مال غوښتے وے نو بخل به مو کړے وے۔

(۸) سورة ممتاز دے په ایت ۲۷ چه کافر د سره ترهغے وخته پورے جهاد کوه چه ترڅو هتهار اوغورزوی/شرک پریدی۔

**مقصد د سورة:** ترغیب الی الجهاد والانفاق (چه بدنی او مالی قربانی دواړه وړ کړه الله د پاره) او ورسره ورسره احوال د منافقانو هم ذکر کوی۔

**تقسیم د سورة:** سورة دوه حصے دے: (۱) ایت ۱ - ۱۹ : په دیکے ترغیب الی الجهاد او آخر کے پرے مسئله تفریع کوی فاعلم انه لا اله الا الله ایت ۱۹ چه جهاد به دے مقصد لره کوے۔

(۲) ایت ۲۰ - ۳۸: په دیکے ترغیب الی الانفاق او احوال د منافقانو چه همیشه به دوی ټال مټول کوی په جهاد کے هم او انفاق کے هم او دوی به چرے هم د دین کار خلوص سره نه کوی۔

دا د قران طریقه ده۔ چه مسئله د توحید او رسالت بیان کړی۔ نو ورپسے مسئله د جهاد او انفاق راوړی۔ ځکه چه د دغه مسئله د توحید قران او سنتو جهاد او انفاق نه بغیر نشی خوریدے۔ یعنی صرف د خُلے کار نه بلکه جان او مال به هم لګوے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورۃ الفتح مدنی (ترتیباً ۴۸ بعد از محمد - نزولاً ۱۱۱ بعد از جمعہ)

## ربط ماسبق سره

| شمار | سورۃ محمد | سورۃ الفتح |
|---|---|---|
| ۱۔ | په دے سورۃ کے بیان دترغیب الی الجهاد/ الی القتال دو۔ | نو دے سورۃ الفتح کے بشارت ورکوی دفتحے۔ چه جهاد دِ اُکړو نو خوشخبری دفتحے واخله۔ |
| ۲۔ | په آخر دسورۃ کے یعنی آخری ایت کے اووے۔ چه که تاسو جهاد او انفاق اونه کړو۔ نو الله به بل قوم راولی چه هغوی به دالله په دین جانثاران وی۔ | نو دے سورۃ کے پرے مثال بیانوی دصحابو په ایت ۲۹ کے چه هغوی بهادران دو۔ او په دین ئے زانونه قربان کړے دو۔ محمد الرسول الله والذین معه اشدآء علی الکفار رحماء بینهم |
| ۳۔ | زجر دو۔ دے سورۃ کے منافقانو له چه جهاد او انفاق نه کوی۔ | نو دلته ایت ۱۷ کے جهاد نه کونکو نه ئے شه خلق مستثنیٰ کړل چه هغه معذوره خلق دی۔ یعنی دوی د دغے زجر نه بچ دی۔ |
| ۴۔ | ایت ۱۷ کے اووے چه ثوک دهدایت طلب گاروی نو هغه ته توفیق دهدایت ورکوو والذین اهتدو وازادهم هدی واٰتهم تقواهم | نو دے سورۃ کے مثال دهغے خلقو چه طلب ئے دهدایت اوکړو نو هدایت ورنصیب شو۔ چه هغه صحابه دو۔ ایت ۲۶ کے اوفرمائیل چه والزمهم کلمة التقوٰی صحابو سره ئے کلمه دتقوا اولګوله۔ |
| ۵۔ | ایت ۱۵ کے بیان دجنت دنهرونو اوشو۔ چه ثلور قسمه نهرونه به وی۔ | ایت ۵ کے فرمائی چه دغے جنت کے به مومنان سړی او خزے اوسی۔ |
| ۶۔ | ایت ۱، ۲۸، ۳۲ کے اووے چه دمنافقینو او مشرکینو عمل برباد دے۔ | نو دے سورۃ ایت ۶ کے فرمائی چه په دوی دالله لعنت دے او دوی دوزخیان دی۔ |
| ۷۔ | ایت ۲۵ کے اووے چه منافقین به تاسو نه تخت پېشا گانو۔ | ایت ۱۰ کے فرمائی چه صحاباء او مومنا به درسره بیعت کوی۔ د دین په کارونو کے |

**امتیازات دسورۃ:** (۱) سورۃ ممتاز دے په ایت ۱۸ چه بیان کوی دهغے اونے چه دکومے لاندے بیعت (بیعت رضوان) شوے دو۔ (۲) سورۃ ممتاز دے په بیان دصلحه حدیبیے باندے (۳) سورۃ ممتاز دے په ډیرو فتحو لکه فتح مکه فتح خیبر فتح فارس وغیره (۴) سورۃ ممتاز دے په خواب د پیغمبرؐ ایت ۲۷ (۵) سورۃ ممتاز دے په صفاتو دصحابو چه بیان دصفاتو یے شوے دے په انجیل او تورات کے ایت ۲۹ (۶) سورۃ ممتاز دے په مدار جو دفصل لو یو ولو ایت ۲۹

**مقصد دسورۃ : البشارۃ للموءمنین**

**تفسیر دایت (۱)** انا فتحنا لک فتحا مبینا مونګ فتح درکړه تاته فتح ښکاره۔ کومه فتح ترے مراد ده۔ که فتح دمکے ترے مراد واخستے شی نو هغه په ۸ هجری کے شوے ده او صلح حدیبیه په ۶ هجری کے شوے وه۔ چه هغے پسے فوری دا سورۃ نازل شوے دے۔ نو بعضے خلق ترے فتح مکه مراد اخلی او بعضے ترے صلحه حدیبیه۔ چه که فتح مکه ترے مراد شی نو مطلب دا چه صلح حدیبیه سبب او ګرزیدو دفتح مکے۔

په شپږم کال دهجرت رسولؐ خوب اولید و چه مونګ کے ثوک دبیت الله شریف طواف کوی ثوک سرونه خرائی او ثوک ئے واړه کوی۔ چونکه دپیغمبر خوب وحی وی چه صبا ته ئے صحابو ته بیان ددے خوب اوکړو۔ نو صحابه پوهه شول چه دا خو مونګ ته دالله طرف نه اشاره ده دعمرے کولو۔ مګر نه نبیؐ او نه صحاباء پوراپوهه شول په تعبیر ددے خوب چه کال پس به دا خوب په تعبیر سره پوراکیګی۔ نو پته ولګیده چه نبیؐ عالم الغیب نه دو تعبیرئے بل کال ته برابریګی مګر نبیؐ دے کال ته دعمرے تیارے اوکړو۔ او ورسره سوله/ستره سو صحاباء هم دعمرے تیارے کوی۔ چه کله دحدیبیے مقام ته اورسیدل نو کافر ورته مخکے شو چه تاسو مکے ته نشے راتلے۔ نو نبیؐ حضرت عثمانؓ بطور سفیر اولیګلو چه سرداران دمکے راضی کړی په عمره کولو چه مونګ جنګ له نه بلکه عمرے له راغلی یو۔ سرداران دمکے ورته اووے چه که ته عمره کول غواړے نو اوکړه مګر نور ثوک به نه کوی۔ عثمانؓ اووے چه رسول به عمره نه کوی نو زهٔ شنګه اوکړم مخکے درسولؐ نه۔ دا آداب او محبت وو دصحابو درسولؐ سره۔ په دغه حدیبیه کے چه رسولؐ وضو کوی نو صحاباء درسولؐ دچار اندام او به په خپل مخ اچوی۔ حالانکه مدینه کے ئے دا عمل نه دو کړے۔ دا ولے۔ ذکه چه دلته کفارو لیدل د دوی دا حالت چه صحاباء مینه درسول سره دومره ده چه دهغه دوضو او به هم لاندے زمکے ته نه پریدی نو دده دوینه تو یدو ته به شنګه پریدی۔ نو دا عمل د پاره درعب اچولو وو په کافرو باندے۔ لکه شنګه چه دبیت الله شریف طواف دوران کے وحی اوشوه چه که دا صحاباء نهر نهور او بیماران و لے نه دی۔ مګر طواف دوران کے دے خپله بهادری ښکاره کړی۔ دا ټرینګ دصحابو وو۔ دمکے کفارو چه دا حال دصحابو اولیدو نو مکے ته ئے خبر ورکړو چه خیال کوے چه دوی سره جنګ او نه کړے۔

بحر حال عثمانؓ هلته لګ لیټ شو دلته شیطان اواز اوکړو چه عثمانؓ هلته شهید کړے شو۔ په دے خبر سره رسولؐ ډیر خفه شو او غصه شو۔ او د اونے لاندے دیو یو صحابی نه دا بیعت اخلی چه تر مرګه مرګه پورے به دوی دعثمانؓ بدله اخلی۔ او ګوره رسولؐ عالم الغیب نه دو۔ ورنه عثمانؓ خو شهید نه وو۔ او په دے کے مونګ د پاره دا هم سبق شو۔ چه د خپل ملګری په سر صحابو ثومره غیرت کوو۔

نو دے واقعے او بیعت ته وئیلے کیګی بیعت رضوان چه په ۶ هجری کے شوے وو۔ اګر چه دے معاهده کے د کافر و طرف نه شه داسے شرائط هم وو چه ظاهراً دمسلمانانو دکمزورے نشانی وه۔ او عمرؓ پرے باربار خفه شوے هم ددے مګر رسولؐ باربار منع کړے دے او تسلی ئے ورکړے ده۔ آخر دا چه کافر و ددے معاهدے خپله خلاف ورزی په ۸ هجری کے اوکړه۔

دا معاهده/صلح حدیبیه او ددے خلاف ورزی سبب او ګرزیدو دفتحے مکے چه په ۸ هجری کے شوے ده تقریباً دس هزار صحاباء پکے مجاهدین وو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الحجرات مدنی

(ترتیباً ۴۹ بعداز الفتح - نزولاً ۱۰۶ بعداز مجادلہ)

## ربط ماسبق سرہ:

| شمار | سورة الفتح | سورة الحجرات |
|---|---|---|
| ۱۔ | چہ ھرکلہ دلتہ بیان دفتحے اوشو۔ | نو اوس دلتہ دے سورة کے بیان د امور منتظماو دے۔ (اشارہ دہ پکے دے خبرے تہ چہ فتح بہ دے ھلہ نصیب کیگی چہ د دے امورو خیال اوساتے) |
| ۲۔ | ایت ۲۶ اوفرمائیل چہ صحاباو سرہ داکلمہ دتقوا لکید لے دہ یعنی دوی ټول پہ دے عمل کوی۔ | ایت ۱۳ کے فرمائی ان اکرمکم عنداللہ اتقکم (چہ د توحید کلمہ دے عمل نصیب شی نو عزتمند بہ شے) |
| ۳۔ | خاتمہ پہ امنوا اوشوہ ایت آخری: وعداللہ الذین امنوا وعملوا الصلحت۔۔۔ | شروع د دے سورة پہ امنوا کیگی۔ یاایھا الذین امنوا۔۔۔ |
| ۴۔ | دے سورة کے کافرو سرہ د جنگ بیان وو۔ | نو دلتہ باغیانو سرہ د جنگ بیان دے۔ |
| ۵۔ | آخر کے اوفرمائیل محمد الرسول اللہ | نو دلتہ فرمائی چہ څوک د رسول بے ادبی کوی۔ نو د ھغہ عمل برباد دے۔ |

**مقصد دسورة:** بیان د آداب سبع لِاصلاح المعاشرہ (د معاشرے د اصلاح د پارہ اووہ اداب چہ ھغے سرہ ستا جماعت مضبوطیگی)

**داټول اداب پہ یاایھا الذین امنوا سرہ شروع کیگی۔**

ادب (۱) ایت ۱: داللہ او پیغمبر نہ مہ مخکے کیگئ۔ مطلب دا چہ داللہ حکم او د رسول طریقہ موجود دہ۔ نو چل پیر، خواھش او رسم رواج دکلی او طریقہ دمشرانو پریدہ ورنہ معاشرہ تباہ کیگی۔

ادب (۲) ایت ۲: خپل اواز د پیغمبر پہ اواز مہ اوچتوے یعنی رسم رواج د رسول د طریقے نہ مہ اوچتوہ۔ ترجیح ورکړہ طریقے د رسول تہ۔

ادب (۳) ایت ۶: د ھر کن بارہ کے مکمل تحقیق اوکړہ دا نہ چہ څوک درتہ دروغ اووائی او د یو رکن پارہ کے بلا تحقیق فیصلہ اوکړے نو جماعت بہ دے ګډوډ شی۔

ادب (۴) ایت ۹: کہ د جماعت ارکان خپلو کے پہ شہ خبرو ورانشی نو صلح ئے اوکړہ۔ او کہ یو تن د وہ پکے صلح نہ کوی نو ھغے بل سرہ امداد اوکړہ چہ بوج راشی بہ ھغہ سړی چہ صلح نہ کوی۔

ادب (۵) ایت ۱۱: یو رکن د بل رکن تحقیر اونہ کړی۔ ورنہ ملگری بہ دِتس نس شی۔

ادب (۶) ایت ۱۲ اپہ گمان باندے بہ عمل نہ کوے۔ گمان کول د انسان خپل اختیار کے نہ دی۔ مگر گمان باندے عمل کول خو اختیار کے دی۔ ورنہ د جماعت ملگری بہ دے تس نس شی۔

ادب (۷) ایت ۱۳: عزت وتکریم اوکړے ھغے چا چہ ھغہ متقی وی۔ اگر چہ عمر ئے ډیر کم ولے نہ دی۔

بیا د وستونو روایتونو کے فرمائی چہ منافق بہ چرے ھم د دے ادابو لحاظ نہ کوی۔ دا حاصل د سورة وو باقی ترجمہ ئے اسانہ دہ۔

## امتیازات دسورة:

(۱) سورة ممتاز دے پہ دے او و ادابو معاشرے چہ دا سے بل سورة کے نشتہ۔

(۲) سورة ممتاز دے پہ ایت ۴ باندے چہ څوک رسول تہ د لرے نہ یادکور د شاطرف نہ اواز ونہ کوی نو دوی زناور یعنی بے عقلہ دی۔

(۳) سورة ممتاز دے پہ ایت ۷ باندے چہ اللہ خوخ کړے دے تاسو لرہ ایمان او نہ ئے دے خوخ تاسو لرہ کفر حبب الیکم الایمان وکرہ الیکم الکفر والفسوق والعصیان

(۴) سورة ممتاز دے پہ ایت ۱۰ انما المومنون اخوة

(۵) سورة ممتاز دے پہ ایت ۱۳ چہ اللہ فرمائی چہ وجعلنکم شعوبا وقبائل لتعارفو

(۶) سورة ممتاز دے پہ ایت ۱۴ قالت الاعراب امنا قل لم تؤمنوا ولکن قولوا اسلمنا ولم یدخل الایمان فی قلوبکم

(۷) سورة ممتاز دے پہ ایت ۱۷ باندے یمنون علیک ان اسلموا قل لاتمنوا علی اسلامکم بل اللہ یمن علیکم ان ھدکم للایمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة قٓ ، مکی

(ترتیبا ۵۰ بعداز حجرات - نزولاً ۳۴ بعداز مرسلات)

**ربط ماسبق سره**

| شمار | سورة الحجرات | سورة قٓ |
|---|---|---|
| ۱۔ | ایت ۱۳ کے اووے ان اکرمکم عنداللہ اتقکم | نو دلته ایت ۳۱-۳۴ کښې اللہ تعالیٰ د متقی منزل خائ چه هغه جنت دے۔ |
| ۲۔ | ایت ۱۸ کے اووے چه اللہ پوهدے په پټو او په ښکارو | ایت ۱۶ کے فرمائی چه ستاسو زړه په وسوسه هم پوهدے ونعلم ماتوسوس به نفسه ونحن اقرب الیه من حبل الورید |
| ۳۔ | دے سورة کے د معاشرے اصلاح د پاره ۷ آداب بیان کړل | نو دے سورة کے اثبات دقیامت کوی (اشاره ده چکے دے ته چه که معاشره سمه دی نو قیامت کے به دوی ته اجر درته نصیب شی۔) |
| ۴۔ | ایت۲: چاچه دانبیاؤ بے ادبی اوکړه نو عمل ئے برباد دے۔ | ایت ۱۴: چاچه دانبیاؤ تکذیب او مخالفت کړے دے۔ نو هغه لره اللہ تباه کړے دے۔ |

**امتیازات دسورة:** (۱) سورة ممتاز دے په تعجب دکافرو په اثبات دقیامت ایت۲

(۲) سورة ممتاز دے په بیان د حبل الورید باندے (دزړه رګ) ایت ۱۶

(۳) سورة ممتاز دے په دے بیان چه قیامت کے به انسان نه پردے لرے کړی شی۔ ایت۲۲

(۴) سورة ممتاز دے په هغو فرشتو چه څی او ګس طرف ته ناستے دی۔ ایت ۱۷

**مقصد دسورة: اثبات دقیامت او دلائیل عقلیه په قیامت باندے۔**

فرمائی چه نبی کریمؐ به داختر په ورز داسورة قٓ په مانځه کے ډیر لوستو۔ **کذالک الخروج** داولے؟ ځکه چه داختر په ورز هر سړے د ځپل وس مطابق په ځپل ځپل لباس کے راوتے وی دکورنه۔ نوهم دغسے قیامت کے به د ځپل عمل او عقیدے مطابق انسان د ځمکے نه راوزی۔

**مختصر خلاصه قران کریم** په اعتبار د فهم سره ثلور حصے دے: (۱) فاتحه - مائده آخره پورے: **الخالق لکل شیء هوالله** (۲) انعام - بنی اسرائیل پورے: **المربی لکل شیء هوالله**

(۳) کهف - احزاب پورے: **المبارک فی کل شیء هوالله** (۴) سبا - ناس پورے: اثبات دقیامت + نفی دشفاعت قهری کوی۔

دا اوسه پورے چه ثلورمه حصه کے دسبانه واخله تر حجرات پورے کوم سورتونه بیان شول۔ په هغے کے نفی دشفاعت قهری اوشوه۔ اوداځکے سورتونه (ق ذاریات طور) اثبات دقیامت کوی بالترقی لکه ق کے دائ **کذالک الخروج** نو ذاریات ۵-۶ کے فرمائی **انما توعدون لصادق. وان الدین لواقع** طور ۷-۸ کے فرمائی **ماله من دافع** نو په دے وجه دے سورتونو کے اثبات دقیامت دے بالترقی۔

**دقران داثلورمه حصه په دولس (۱۲) بابونو تقسیم ده:**

باب(۱): سورة سبا + فاطر + یٰس (درے سورتونه دی)

باب(۲): سورة الصافات +ص + زمر (درے سورتونه دی)

باب(۳): سورة مومن + حم سجده + شورا + زخرف + دخان + جاثیه + احقاف (اووه سورتونه دی)

باب(۴): سورة محمد + فتح + حجرات (درے سورتونه دی)

باب(۵) سورة ق + ذاریات + طور (درے سورتونه دی)

باب(۶): سورة نجم + قمر + رحمٰن + واقعه (ثلور سورتونه دی۔

باب(۷): سورة حدید مجادله حشر ممتحنه صف جمعه منافقون تغابن طلاق تحریم (لس سورتونه دی)

باب(۸): سورة ملک قلم حاقه معارج نوح جن (شپګ سورتونه دی)

باب(۹): سورة مزمل مدثر (دوه سورتونه دی)

باب(۱۰): سورة قیامة دهر مرسلت نبا نازعات عبس تکویر انفطار مطففین انشقاق بروج طارق (دولس سورتونه دی۔)

باب(۱۱): سورة الاعلیٰ غاشیه فجر بلد شمس لیل (شپګ سورتونه دی)

باب(۱۲): سورة ضحیٰ انشراح ------ ترعصر پورے (یوولس سورتونه دی) چه دا سورتونه بیان د مقاصد اربعه، رد شبهاتو او تزهید من الدنیا او ترغیب الی الآخرة کوی۔)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**